دغه راز رسول الله ﷺ له دې پالیسۍ او جنګي تکتیک څخه دا موخه هم لرله چې د قریشو د نه خبرېدو ترڅنګ د بیت الله الحرام حرمت هم له منځه لاړ نه شي او ډېره مرګ ژوبله هم ونه شي. خو د صحابه کرامو له جملې څخه یو تن چې«حاطب بن ابي بلتعه» نومېده، د رسول الله ﷺ له ټینګار او ترکیز سربېره یې په پټه مکې(کلي) ته یو لیک واستوه چې قریشو ته یې د رسول الله ﷺ د نیت او ارادې په هکله معلومات په کې لیکلي و. په دې وخت کې خدای جل جلاله خپل نازولي پیغمبر ته وحی وکړه او له نوموړې پېښې څخه یې خبر کړ. رسول الله ﷺ ځینې صحابه کرام د علي رض په مشرۍ د لیک وړونکې مېرمنې د مخه نیولو او د لیک د اخیستلو لپاره واستول. هغوی له یادې مېرمنې سره لیک پیداکړ او بیا رسول الله ﷺ خپل ملګری(حاطب) راوغوښت او د کړي کار پوښتنه یې ځینې وکړه. هغه وویل، ای د الله رسوله! په خدای جل جلاله قسم چې زه په الله ج او د هغه په را استول شوي رسول پوره ایمان لرم، دین مې نه دی بدل کړی، خو زه یو بې بېخه سړی وم، په قوم کې مې څه اثر او رسوخ نه درلود او هلته د قریشو په منځ کې زما اهل او اولاد و، نو د هغوی په خاطر مې دا کار وکړ، په دې وخت کې عمر رضی الله عنه وویل: ای د الله رسوله! اجازه راکړه چې سر یې پرې کړم، ځکه دی منافق شوی. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هغه په بدر کې برخه اخیستې، ته څه خبر یې چې ټولو بدري غازیانو ته بخښنه شوې؟(٦: ۱۵۹ مخ)

## دویم مطلب: د مکې مکرمې پر لور روانېدل

رسول الله ﷺ وروسته له دې چې مسلمانانو ته د امادګۍ امر وکړ، په لوموړیو کې یې دغه خبر پټ وساته، وروسته یې اعلان وکړ چې دمکې مکرمې په لور د تګ اراده لري او هم یې دعا وکړه چې خدایه د قریشو څارګر(جاسوسان) واخله، ترڅو موږ په ناڅاپي ډول پرته له دې چې هغوی خبر شي مکې ته ورسېږو او مکه تر خپلې کلابندۍ لاندې راولو.

رسول الله ﷺ د هجرت په اتم کال د روژې په میاشت کې خپل لس زره کسيز پوځ سره يوځای له مدينې څخه د مکې پر لور روان شو، پرمخ ولاړ، تر دې چې «مر الظهران» سيمه کې يې پړاو واچوه. خدای جل جلاله د قريشو څخه د اسلامي لښکر خبر پټ وساته او قريش د ويرې او انتظار په حالت کې وو.(۱۲: ۱۳۸ مخ)

مخکې له دې چې رسول الله ﷺ (مر الظهران) سيمې ته ورسېږي، په لاره کې يې مخې ته عباس رضی الله عنه سره له کورنۍ مخې ته راغی، رسول الله ﷺ يې کورنۍ مدينې ته واستوله او خپل تره(عباس رض) يې له ځان سره ستون کړ. کله چې اسلامي لښکر مر الظهران درې ته ماښام مهال ورسېد، رسېدلو سره يې پړاو واچوه او خيمې يې ووهلې. د شپې په تياره کې د شپنو له لوري مکې ته خبر ورسېد چې ياده دره کې يو ستر لښکر خيمې وهلي دي. د دې خبر په اورېدلو سره ابوسفيان د حالاتو د څېړنې لپاره چې بديل بن ورقا او حکيم خزاعي هم ورسره وو، راووت. عمر رضی الله عنه مؤظف و چې له يو شمېر مجاهدينو سره گزمه وکړي. عباس رضی الله عنه په دې نيت چې د قريشو له يو مشر سره وگوري له لښکره راووت. د لښکر په ليدلو سره ابوسفيان حيران شو او فکر يې کاوه چې دومره ستر لښکر له کومې خوا راغی. د شپې په تياره کې عباس رض د ابوسفيان غږ وپېژنده، ځواب يې ورکړ چې ياد لښکر د محمد ﷺ دی او اراده لري چې سهار مهال په مکه بريد وکړي.

ابوسفيان وپوښتل چې اوس څه کول په کار دي؟ عباس رضی الله عنه ځواب ورکړ چې ته ما پسې په کچره سپور شه، زه دې رسول الله ﷺ ته ورولم. لاره کې دواړه له عمر رضی الله عنه سره هم مخامخ شول او بيا د رسوالله ﷺ په حضور کې عباس رضی الله عنه امن ورکړ.(۲: ۱۷۴ مخ)

د عباس رضی الله عنه له آمان ورکولو وروسته رسول الله ﷺ امر وکړ چې ابوسفيان ته يوه شپه وخت ورکړئ، هماغه و چې عباس رضی الله عنه ابوسفيان په خپله خيمه کې يوه شپه وساته او سهار ته بيا د اسلام په مبارک دين مشرف شو.(۲: ۱۷۵ مخ)

دغه راز علامه ندوي ليکي، رسول الله ﷺ مکې ته په رسېدلو سره د امن او بخښنې حلقه پراخه کړه، ترڅو د مکې ټول وگړي په امن کې شي او له مرگ څخه نجات ومومي. نو ملگرو ته يې حکم وکړ چې مکې ته د ننوتلو په وخت کې به اسلحه نه استعمالوئ، يوائې د هغو په خلاف توره له تيکې را وباسئ چې مقاومت کوي. أمر

يې وکړ چې د مکې د اوسيدونکو مالونه او ملکيتونه ته لاس هم ورنړدې نه کړئ او ځانونه ترې لرې وساتئ.

همدارنګه عباس رضی الله عنه ته يې وويل چې ابوسفيان په داسې لوړ ځای کې کېنوه چې ترمخه يې اسلامي پوځ تېرېږي او دی يې ويني. کله چې د فاتح لښکر کنډکونه د سمندر د موج وهونکو څپو په څېر په حرکت راغلل او ټولې قبيلې له خپلو بيرغونو سره تېرېدې، نو ابوسفيان به يې له عباس رضی الله عنه نه په اړه پوښتل، تر دې چې يوه ډلګۍ د مهاجرينو او انصارو څخه جوړه شوې وه او يواځې سترګې يې له اوسپنيز لباس څخه ښکارېدې، را ورسېده، ابوسفيان وويل: سبحان الله، ای ابوالفضل دا څوک دي؟ هغه وويل، دا رسول الله ﷺ دی چې د مهاجرينو او انصارو لښکر ورسره دی. ابوسفيان وويل، هېڅوک د دې لښکرو دمقابلې توان نه لري. سوګند په الله جل جلاله ، د وراره پاچاهي دې ډېره لويه شوه. عباس رضی الله عنه په ځواب کې ورته وويل، پاچاهي نه ده، نبوت دی. هغه وويل دا خو لا ډېره ښه ده.(۱۲: ۱۴۰ مخ)

د ابوسفيان له ايمان راوړلو وروسته عباس رضی الله عنه، رسول الله ﷺ ته وويل، ابوسفيان فخر خوښوي، څه شی ورکړه چې فخر پرې وکړي. رسول الله ﷺ وفرمايل، څوک چې د ابوسفيان کور ته ننوت، هغه په امن دی. پای کې اسلامي لښکر مکې ته ورسېد او رسول الله ﷺ عمومي اعلان وکړ، ويې ويل: «څوک چې خپل کور ته ننوت، هغه په امن دی. څوک چې مسجد ته ننوت هغه هم په امن دی او که څوک د ابوسفيان کور ته ننوت هغه هم په امن دی».(۷: ۱۰۹ مخ)

له دې پرېکړې رسول الله ﷺ هغه (۱۵) کسان چې د اسلام په حق کې يې ډېر زياتی کړی و، مستثنی وبلل او بيا له ابوسفيان سره يوځای اسلامي لښکر د رسول الله ﷺ په مشرۍ چې پوځ يې په څلورو برخو وېشلی و، له څلورو لورو څخه مکې مکرمې ته ننوتل. په دغو څلورو لورو کې يواځې يو لوری د دښمن معمولي ټکر سره مخامخ شو، د کومو مخالفينو مشري چې خالدبن وليد کوله، له لږ مقاومت کولو څخه وروسته هغوی هم وټکول شول او له سيمې يې تېښته وکړه.(۸: ۴۲ مخ)

رسول الله ﷺ په داسې حالت کې مکې ته داخل شو چې له ډېرې خاکسارۍ او عاجزۍ څخه يې سر مبارک په دې اندازه ښکته نيولی و، آن نږدې وه چې سر يې د

سورلۍ په شا ولګېږي. کله چې مکې ته ننوت. نو د عدل، مساوات، برابرۍ، تواضع او عاجزۍ ټول شعائر يې قايم کړل. رسول الله ﷺ، اسامه بن زيد رضی الله عنه په داسې حال کې ځان پسې په سورلۍ سپور کړی و چې د بنو هاشمو او قريشو د اشرافو زامن ښه ډېر زيات وو. دا د هجرت اتم کال د رمضان د مبارکې مياشتې شلمه نېټه او د جمعې مبارکې ورځې سهار و، کومې ورځې کې چې رسول الله ﷺ فاتح مکې ته ننوت.(۱۲: ۱۴۱ مخ)

کله چې رسول الله ﷺ مکې ته ننوت، پيل کې يې اوه ځلې له خپلې اوښې سره د کعبې شريفې طواف وکړ. کله چې له طواف څخه فارغ شو، بيا يې له عثمان بن طلحه څخه د کعبې کيلي واخيستله او د کعبې دروازه يې پرانيستله. دا چې هغه مهال په کعبه کې شاوخوا(۳٦۰) بوتان وو او لوی بت يې «هبل» و، ټول يې له منځه وړل او بيا يې کعبه شريفه له سره تر پايه په پاکو اوبو ومينځله. له دوه رکعتونو وروسته د کعبې مبارکې دروازې ته ودرېد او په داسې حال کې يې يوه جامع او هراړخيزه خطبه حاضرينو ته واوروله چې د مکې مشرکين ټول د انتظار په حال کې وو چې رسول الله ﷺ به اوس څه ورسره کوي؟.(۹: ۴۲مخ)

**درېيم مبحث: د فتحې په ورځ رهبري، بخښنه او د اسلام بريا**

**لومړي مطلب: د عامې بخښنې اعلان او تاريخي خطبه**

کله چې يو تن د رسول الله ﷺ سيرت او تاريخ ته نظر وکړي، په ياد تاريخ او ژوند کې د رسول الله ﷺ سياسي بصيرت، حکمت او د مکې د مشرکينو په مقابل کې يې انسان، سالمې پاليسۍ او عدل ته هک حيران شي. لکه څنګه چې پورته بحث کې ورته اشاره وشوه، رسول الله ﷺ قدم په قدم، په ډېر احتياط او په ماهرانه ډول د فتحې په ورځ پر مخ ولاړ، دا ځکه چې نه يې غوښتل وينه تويې کړي او د چا عزت النفس پايمال کړي. په داسې يوه حساسه ورځ چې ټول مشرکين د خپلو جرمونو او کړنو د سزا په طمع وو، رحمت للعالمين د خپلې هر اړخيزې او جامع خطبې په ترڅ کې د ټولو سوالونه حل کړل.

د يادې تاريخي خطبې په تړاو علامه ندوي ليکلي، رسول الله ﷺ په داسې حال کې چې ټولو قريشو يې انتظار وېست او په صفونو کې ولاړ وو، په لوړ غږ وويل: نشته دی دعبادت لايق پرته له خدای جل جلاله څخه، هغه ذات چې هېڅ شريک نه لري.

هغه رب چې خپل رښتيني بنده سره يې خپله وعده پوره کړه، مرسته يې ورسره وکړه او ډلو ته يې ماتې ورکړه. خبردار د جاهليت د زمانې هره د افتخار خبره، کار، مال او وينه زما دپښو لاندې شوه او باطل بې اعتباره شو. ويې ويل، د جاهليت له کارونوڅخه به يواځې د بيت الله خدمت او حاجيانو ته به د اوبو ورکړه پر خپل ځای پاتې وي. زياته يې کړه، ای قريشو! خدای جل جلاله تاسې څخه د جاهليت تکبر او د پلرونو بېځايه تعظيم لرې کړ. ټول خلک د آدم عليه السلام اولاد دي او آدم عليه السلام له خاورې څخه پيدا شوی دی. بيا يې وفرمايل، د خدای جل جلاله په وړاندې ډېر عزتمند هغه دی چې خدای جل جلاله څخه ډېر وېرېږي او تقوا لري. (۱۲: ۱۴۵ مخ)

بيا رسول الله ﷺ له وېرېدلو قريشو وپوښتل، ای قريشو څه فکر کوی چې زه به څه درسره وکړم؟ هغوی وويل: ضرور به ښه راسره کوې. ته زموږ کريم ورور او کريم وراره يې. رسول الله ﷺ وفرمايل، زه نن تاسو ته هغه څه وايم، کوم چې زما ورور يوسف عليه السلام مخکې ويلي وو: « لا تثريب عليكم اليوم، يغفرالله لكم، وهو ارحم الراحمين».(يوسف: ۹۲ آيت)

ژباړه: (نن ورځ پر تاسې کومه پړه نشته، الله جل جلاله دې تاسې ته بخښنه وکړي، هغه تر ټولو ډېر رحم کوونکی دی (٦: ١٦١مخ)، ځئ ازاد ياستئ.).

بيا رسول الله ﷺ بلال رضی الله عنه ته أمر وکړ چې د کعبې شريفې سرته پورته شي او آذان وکړي، کله چې بلال رضی الله عنه آذان کوه، د قريشو سردارانو او مشرانو اورېدل چې د خدای جل جلاله کلمه پورته کېدله. وروسته له دې رسول الله ﷺ د ابوطالب د لور(امهاني) کور ته ولاړ، غسل يې وکړ او د فتحې په مناسبت يې اته رکعته د شکرانې لمونځ اداء کړ.(۱۲: ۱۴٦ مخ)

کله چې رسول الله ﷺ له خطبې فارغ شو، د صفا پر غره کېناست او له خلکو يې د بيعت په اخيستلو پيل وکړ، د سړو له بيعت نه چې وزګار شو، عمر رضی الله عنه يې له مېرمنو نه د بيعت اخيستلو لپاره وټاکه او په خپله يې د هغوی لپاره استغفار وايه.

صفوان بن اميه(هغه تن چې د مکې د فتحې په ورځ يې مسلمانانو سره نښته کړې وه) د مکې له سوبې وروسته د مرګ له وېرې د يمن پر لور وتښتېد، عميربن وهب

رضی الله عنه چې د هغه له قوم څخه و، د رسول الله ﷺ خدمت ته حاضر شو او د صفوان لپاره يې د امان غوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ امان ورکړ او ويې بخښه. عمير رضی الله عنه يمن ته نږدې سيمه کې صفوان را وگرځاوه ، خو هغه دوه مياشتې مهلت وغوښت، رسول الله ﷺ ورته څلور مياشتې مهلت ورکړ. همدا حال د عکرمه بن ابي جهل هم و، رسول الله ﷺ هغه هم وبخښه. دوی دواړه(صفوان – عکرمه) بيا د حنين له غزا نه وروسته په خپله خوښه مسلمانان شول.(۲: ۱۷٦ مخ)

دغه راز د مکې د فتحې په ورځ يوه بله پېښه هم منځته راغله، هغه داسې چې د بنومخزوم د قبيلې يوې مېرمنې چې فاطمه نومېده، ترې غلا وشوه. د يادې قبيلې سپين ږيري او مشران (اسامه بن زيد رض) ته په دې سبب ورغلل چې رسول الله ﷺ يې ډېر خاطر کوي، ترڅو د فاطمې شفاعت(سپارښتنه) وکړي او حد پرې جاري نه کړي. کله چې رسول الله ﷺ له جريانه د اسامه رضی الله عنه له خولې خبر شو، د مبارک مخ رنگ يې تغيير شو، ويې ويل: آيا د خدای جل جلاله په اړه سپارښتنه کوې؟ اسامه رضی الله عنه وضعيت درک کړ، ژر يې وويل: ای د الله رسوله! ما ته بخښنه وکړه. بيا رسول الله ﷺ د حمد او ثنا څخه وروسته وويل، له تاسې څخه مخکې خلک په دې سبب هلاک او تباه شوي چې شريف سړي به په کې غلا کوله، هغه به پرېښودل کېده او چې کمزوري به غلا وکړه، په هغه به يې حد جاري کوه. قسم په هغه ذات چې د محمد ﷺ لور(فاطمه) هم غلا وکړي، لاس به يې پرې کړم. هماغه و چې وروسته د رسول الله ﷺ په أمر د هغې مېرمنې لاس پرې شو او توبه يې ووېسته.(۱۲ :۱۴۷ مخ)

همدارنگه رسول الله ﷺ د فتحې په دويمه ورځ د صفا د غره په سر راټولو شويو خلکو ته يوه بله خطبه هم واوروله. په دې وينا کې يې د خدای ج له حمد او ثنا ويلو ورسته د حرم په ارزښت خبرې وکړې، ويې ويل: خدای جل جلاله مکه مکرمه هغه وخت حرم وگرځوله چې ځمکه او آسمان يې پيداکړ. دا ځای خدای جل جلاله حرم گرځولی له همدې کبله حرم دی او تر قيامته پورې به حرم وي. که څوک په خدای جل جلاله او د قيامت په ورځ ايمان لري، دلته به وينه نه تويوي، د دې ځای ونې به نه وهي او دلته به د قتل او قتال مرتکب نه گرځي. بيا يې وويل دا خبر دې حاضرين غير حاضرو ته ورسوي.(۱۰: ۳٦۴ مخ)

ځینې روایتونو کې راځي چې دلته انصارو سره شک پیدا شو چې رسول الله ﷺ نور نه غواړي چې مدینې ته لاړ شي، ځکه هغوی فکر کاوه چې مکه مکرمه د رسول الله ﷺ د پیدایښت ځای دی او اوس یې مکه فتحه کړې، نو په ډېر ادب او حیا سره یې پوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل، معاذ الله(په الله ج پناه غواړم)، (المحیا محیاکم والممات مماتکم) یعنې زما ژوند او مرګ به له تاسو سره وي.(۱۲: ۱۴۸ مخ)

**دویم مطلب: د حق راتګ او د باطل له منځه تلل**

موږ په دې ایمان او پوره باور لرو چې رسول الله ﷺ د خدای جل جلاله هغه سپېڅلی استازی او حق نبي دی چې له بعثت څخه یې تر رحلته د ژوند ټوله مبارزه حق سره په ملګرتیا او د باطل پر وړاندې په درېدلو څرخېدله. همدغه سبب و چې د مکې په فتحې سره یې وکولای شول چې د باطل جرړې د خدای جل جلاله په مرسته او په خپل سیاسي بصیرت او حکمت سره له بېخه وباسي. خلکو ته رڼایي راولي، بوت پرستي ختمه کړي او د تورو تیارو تور ټغر د مکې مکرمې له پاکې ځمکې ټول کړي.

کله چې رسول الله ﷺ د مکې له فتحې فارغ شو، خلکو ته یې اعلان وکړ، چې څوک نوي مسلمانان شوي، هغوی دې په خپلو کورونو کې یو بت هم نه پرېږدي او بیا یې د همدغې موخې لپاره د مکې په شاوخوا کې د مشهورو بوتانو د ماتولو او دبت خانو د ورانولو په خاطر واړه – واړه ګروپونه واستول. خالد بن ولید رضی الله عنه چې تازه مسلمان شوی و، دېرشو تنو سره د بنوکنانه و د (عزا) په نامه بوت او مندر چې د خرماوو په یوه باغ کې یې شتون درلود، واستوه. خالد رضی الله عنه ولاړ او یاد بت یې دړې وړې کړ، مندر یې وبجاړ او له ځمکې سره برابر کړ.(۵: ۸۰۴ مخ)

همدارنګه عمروبن العاص رضی الله عنه یې د (بني هذیل) قبیلې د بوت(سواع) د ماتولو او وبجاړولو لپاره واستوه. عمروبن العاص رضی الله عنه چې کله یادې سیمې ته ورسېد، د مندر مجاور ورته وویل چې ته څنګه کولی شې چې دا بوت مات کړې؟ عمروبن العاص رضی الله عنه ورته وویل چې ته یې ګوره! دا یې وویل، مندر ته ننوت او یاد بوت یې دړې وړې کړ. مجاور چې یاد حالت او د خپل باطل معبود بېوسي ولیده، له بوت نمانځنې یې توبه وویسته او مسلمان شو. دغه رنګ حضرت سعدبن زید اشهلي رضی الله عنه یې له شلو تنو سره د (منات) بوت ماتولو ته د (قدید)

سیمې ته واستوه او یاد بت یې دړې وړې کړ او هم یو بل بوت چې د (لات) په نامه مشهور و، د اسلام د غازیانو له لوري وېجاړ شو. (۲: ۱۷۷ مخ)

له دې وروسته د رسول الله ﷺ له لوري ځینو قبایلو ته د اسلام مبلغین او وفدونه واستول شول.خالد رضی الله عنه یې د بنوجزیمه و په لور ولېږه. هغه د رسول الله ﷺ له لوري له جګړې منع کړی شوی و، خو هلته په اتفاقي ډول په جنګ کولو مجبور شو او د بنوجزیمه وو څو تنو خپل ژوند له لاسه ورکړ، د هغوی مال او وسایل چې مدینې منورې ته د رسول الله ﷺ حضور ته راوړل شول، پرې ډېر خفه شو او دیت یې بیا یادې قبیلې ته د علي رضی الله عنه په لاس ور واستوه او هم یې ضایع شوي مالونه ورکړل. نو په دې ډول مکه مکرمه او د هغې شاوخوا سیمې له بتانو او شرک څخه پاکې شوې او د اسلام مبارک دین خپلې وړانګې وغځولې.(۸: ۱٦۴مخ)

**درېیم مطلب: د مکې مکرمې د فتحې اغېزې**

کله چې د مکې مکرمې ښکلی ښار او سیمه د رسول الله ﷺ په مشرۍ، هڅو او لوړ سیاسي بصیرت له مخې د اسلامي پوځونو تر واک لاندې راغله، اغېز یې څرګند او ډاګیز و. د رسول الله ﷺ شفقت، مهرباني او غوره سیاست و چې د مکې اکثره مشرکین یې متأثره کړل او زړونو ته یې د اسلام مبارک دین وړانګې ورننوتلې.

د مکې د فتحې اغېزې دا وې چې، عام خلک جوپې – جوپې راتلل او ایمان یې راوړ. د یادو خلکو د ایمان سبب یو دا و چې نور دطاغوت سلطه او واک نه و پاتې، تر دې چې آن ځینو هیله درلوده چې کاش لا وخته د اسلام په مبارک دین مشرف شوي وو.(۳: ۴۰۱ مخ)

دغه راز د مکې فتحې د عربانو په نفسونو او عقلونو ژور تاثیر کړی و، همدغه اغېز و، چې د ډېرو تنګې سینې د اسلام لپاره پراخه شوې او ډلې- ډلې په اسلام کې داخلېدل. همدا ډول بل سبب دا و چې ټولو عربانو دې خبرې ته د اسلام له پیل څخه انتظار وېست چې د مسلمانانو او قریشو د جنګ کومه پایله راوځي؟ دا چې مکه فتحه شوه او هم د عربو نور ځواکونه د رسول الله ﷺ پر وړاندې ښکته شول، همدې اغېزونو او د رسول الله ﷺ غوره سیاسي پالیسۍ له مخې ډېرې نورې قبیلې هم په اسلام مشرفې شوې. د یادو قبیلو له جملې څخه د هوازن ثقیف، عامربن صعصعه، عبدالقیس، کنده، ازد، همدان، اشعر، مزینه، اسد، فزاره، شجع، غطفان، نجیب،

هذيم، بهره، عذره، بلي، مره، غسان او د سلامان د قبيلو ټول خلک مسلمانان شول. دوی ټولو اسلام په سر او سترګو پرته له کوم جبر څخه ومنه او د ياد دين سپېڅلي پيروان شول.(۱۱: ۱۰۴ مخ)

**پایله**

د څېړنې په پايله کې ويلی شم چې د مکې مکرمې فتحه د رسول الله ﷺ د سياسي بصيرت او سالمې پاليسۍ نتيجه وه، د کومې لپاره چې يې په تدبير ګامونه پورته کړل. دغه راز که د حديبيې د سولې تړون کې رسول الله ﷺ له ځانه صبر او استقامت نه و ښودلی او يا يې نه و لاسليک کړی، په ډاډ سره ويلی شم چې د مکې فتحې ته لاره نه شوه هوارېدلی. يعنې په دې معنا چې اصل کې ياد د سولې تړون د مکې د فتحې سبب وګرځېد او له مخې يې مکه مکرمه د اسلامي دولت تر چتر او واک لاندې راغله.

دغه ستره فتحه د رسول الله ﷺ په مشرۍ د هجرت په اتم کال د رمضان په مبارکې مياشتې کې رامنځته شوه، کومه چې د اسلام په تاريخ کې خورا مهمه او ارزښت لرونکې ده. د دغې فتحې ارزښت په دې کې دی چې په ترسره کېدو سره يې مسلمانانو په سيمه کې بشپړ ډېر واک ترلاسه کړ او پرته له وينې تويېدنې يې صورت ونيو. همدارنګه د دغې سترې فتحې په برکت د مکې د مشرکينو هغه پخوانی زور اوبه شو، د ځمکې جوړ شوي معبودان يې دړې وړې او له منځه ولاړل او هم د اسلام رڼا مشرکو قبيلو ته ننوتله او په کم وخت کې ډېرو خلکو د اسلام مبارک دين ته غاړه کېښوده.

که يادو تحولاتو او تغييراتو ته په دقت فکر وکړو، نو ثابتېږي چې دا هر څه لومړی د الله جل جلاله په مرسته او بيا په عالم د اسبابو کې د رسول الله ﷺ د غوره تدبير، سياسي بصيرت او پاليسۍ برکت و، کومه چې يې د مکې د مشرکينو پر وړاندې په لاره واچوله او له مخې يې اسلامي دولت ته ستره بريا په برخه شوه او تر ډېره حده په خپل ځان بسيا شو.

**وړاندیزونه**

د دې څېړنې له پایلو څرګنده شوه چې د رسول الله ﷺ سیاسي بصیرت، حکمت، عدل او نرم ښه چلند نه یوازې په تاریخي لحاظ مهم ارزښت لري، بلکې د معاصرو اسلامي دولتونو لپاره هم د سیاست او پالیسۍ په جوړولو کې لارښود اصول ګڼل کېږي. د دې مطالعې په رڼا کې لاندې وړاندیزونه کېږي:

۱ - اسلامي هېوادونو ته په کار دي چې خپل سیاست او هر اړخیزه پالیسي د رسول الله ﷺ د سیاست او پالیسۍ سره برابره کړي، کومه چې پر عدالت، ځیرکتیا، تدبیر او د امت د یووالي پر اصولو ولاړه ده.

۲ - د مخالف، رقیب او حتی دښمنانو سره په تعامل کې نرم ښه چلند، ښه رویه او اخلاق عملي کړي، ترڅو خپلې سپېڅلې موخې په غوره او سوله‌ییزه توګه ترلاسه کړي.

۳ - د اسلامي دولتونو مشران او پالیسۍ جوړونکي باید د رسول الله ﷺ د سیاسي تدبیرونو عملي مثالونه زده او په خپلو دولتي چارو کې یې د تطبیق لپاره هڅې وکړي.

۴ - د اسلامي سیاست بنسټیز اصول لکه عدالت، شفقت، د خلکو د حقونو رعایت او د اختلافاتو حل په سوله‌ییزه توګه باید د ټولو اسلامي هېوادونو د پالیسۍ په ستراتیژیو کې ځای پر ځای شي.

۵- د رسول الله ﷺ د سیاسي اخلاقو، تدبیر او پالیسۍ زده کړه باید په تعلیمي او روزنیزو پروګرامونو کې شامله شي، ترڅو راتلونکي مشران له تاریخي تجربو څخه سمې لارې زده کړي او په اسلامي اصولو عمل وکړي.

**مأخذونه**


۱ – القرآن الکریم.

۲ – آبادي، اکبرشاه نجیب. د اسلام تاریخ، ژباړن، سید فضل مولا لټون، لومړی چاپ، پیغام خپرندوی مرکز: پېښور، ۱۴۲۵.

۳ – ارشاد، محمد شاه. محمد ص له پنځویشت کلنۍ تر رحلته، مترجم، غلام فاروق چشتی، چاپ اول، مرکز نشراتی میوند: پشاور، ۱۳۷٦.

۴ – اشرفی، سید احمد. فشرده یی از سیرت پیامبر اسلام، چاپ اول، مرکز نشرات اسلامی صبور: پېښور، ۱۳۷۷.

٥ - الشامی، صالح احمد الشامی. تربیت و حکومت سیره در رسول الله، مترجم، محمد ملازاده، چاپ اول، نشر احسان: تهران، ۱۳۸۵ .

٦ – سباعي، مصطفی. درسونه او عبرتونه، ژباړن، سلطان محمود صلاح، لومړی چاپ، الهدی خپرندوی مرکز: پېښور، ١٣٦٩.

۷ - سباعی، مصطفی. سیرت نبوي ص، درس ها و اندرزها، مترجم، فضل الرحمان فاضل، چاپ دوازدهم، انتشارات میوند:کابل، ۱۳۹۳.

٨ – شرف الدين محمد بن عبدالله بن عمر. خلاصه سيرت رسول الله ﷺ، چاپ دوم، شرکت انتشارات علمی وفرهنگی: تهران، ١٣٨٢.

٩ - عثمانی، عبدالرحمن. تاریخ تمدن اسلام، چاپ اول، ریاست عمومی تربیه معلم وزارت معارف: هند، ١٣٩١.

١٠ - محب، عبدالكريم. عظيم السير د رسول الله ﷺ عظيم اخلاق، لومړی چاپ، د افغانستان ټایمز مطبعه: کابل، ١٣٩٠.

١١ - منصور احمد. د پيغمبر «ص» خوږې خاطرې، ژباړن، نجيب الله جالب، مومند خپرندويه ټولنه: جلال آباد، ١٣٩١.

١٢ - ندوي، ابو الحسن علي. خاتم النبيين محمد رسول اللهﷺ، ژباړن، حسبان الله متوكل، دوهم چاپ، اتنتشارات اصلاح افكار: کابل، ١٣٩٠.

١٣ – همدانی، رفيع الدين اسحق بن محمد. سيرت رسول الله ﷺ، چاپ اول، سازمان چاپ و انتشارات وزارت فرهنگ وارشاد اسلامی: تهران، ١٣٦٠.

١۴ – نن ټکی آسیا.(۲۰۲۰ = ۱۴۴۲)، د مکي فتحه/ لومړۍ برخه .

۸۹۹۷https://www.google.com/url?sa=t&source=web&rct=j&opi=

&url=https://www.nunn.asia/۸٤٤٩

څېړندوی ضیاءالحق ځلاند

# په سیمه‌ییزه سوداګرۍ کې د افغانستان د اقتصادي یو ځای کېدنې ستراتیژیک موقف (له۲۰۲۱ز.کال وروسته)

# The strategic position of Afghanistan in regional trade and economic integration post ۲۰۲۱

***Assistant professor Ziaulhaq Zaland***

**Abstract**

Afghanistan occupies a unique geographical position as a connecting bridge between Central and South Asia, which grants it a significant strategic role in regional trade. However, political and economic transformations since ۲۰۲۱ have, to some extent, affected the country’s trade relations and the process of regional economic integration, thereby creating a new phase that requires rigorous scientific, analytical, and systematic assessment. The primary objective of this study is to analyze Afghanistan’s strategic position in regional trade and to identify the opportunities and challenges associated with economic integration in the post-۲۰۲۱ period.

This study is based on secondary data collected from reports of reputable international institutions and academic studies. The data are analyzed using a descriptive–analytical approach and thematic analysis in order to examine the relationships among geographical location, transit infrastructure, trade policies, and political changes within the framework of regional economic integration.

The findings of this study demonstrate that although Afghanistan possesses a high potential for transit and regional connectivity, weaknesses in administrative systems, political constraints, and inadequate infrastructure hinder the effective realization of these opportunities. The study concludes that economic integration is not merely an optional choice, but rather a strategic necessity for Afghanistan’s long-term economic stability and development.

**لنډیز**

افغانستان د مرکزي او جنوبي اسیا تر منځ د نښلونکي پُل په توګه ځانګړی موقعیت لري، چې په سیمه‌ییزه سوداګرۍ کې مهم ستراتیژیک رول لري. خو له ۲۰۲۱ز.کال څخه وروسته سیاسي او اقتصادي بدلونونو د هېواد سوداګریزې اړیکې او د سیمه‌ییز اقتصادي یو ځای کېدنې بهیر یو څه اندازه اغېزمن کړی او د دې کار لپاره یو نوی څېړکی رامنځ ته شوی، چې علمي، تحلیلي او سیستماتیکې ارزونې ته اړتیا لري. د دې څېړنې اساسي موخه په سیمه‌ییزه سوداګرۍکې د افغانستان د ستراتیژیک موقعیت تحلیل او د ۲۰۲۱ز.کال وروسته د اقتصادي یو ځای کېدنې اړوند فرصتونو او ننګونو پېژندنه ده.

دا څېړنه د دوهم لاس معلوماتو پر بنسټ ترسره شوې ده، چې معلومات یې د نړیوالو معتبرو ادارو له راپورونو او علمي څېړنو څخه راټول شوي دي. معلومات د توصیفي–تحلیلي مېتود او موضوعي تحلیل (Thematic Analysis) له لارې ارزول شوي دي، تر څو د جغرافیوي موقعیت،ټرانزیټي زیربناوو، سوداګریزو تګلارو او سیاسي بدلونونو ترمنځ اړیکې د سیمه‌ییزې اقتصادي یوځای کېدنې په علمي چوکاټ کې تحلیل شي.

د دې څېړنیزې مقالې په ترڅ کې دا ثابته شوې چې افغانستان د ټرانزیټ او سیمه‌ییزې نښلونې لوړ بالقوه ظرفیت لري، خو د اداري سیستم کمزورۍ، سیاسي محدودیتونه او د زیربناوو کموالی د دغو فرصتونو د عملي کېدو مخه نیسي. څېړنه دې پایلې ته رسیږي چې اقتصادي یو ځای کېدنه یوازې یو اختیاري انتخاب نه، بلکې د افغانستان د اوږدمهاله اقتصادي ثبات او پرمختګ لپاره یوه ستراتیژیکه اړتیا ده.

**کليدي کليمې:** افغانستان؛ سيمه‌ييزه سوداګري؛ اقتصادي يو ځای کېدنه؛ ستراتيژيک دريځ؛ سيمه‌ييزه همکاري

**سريزه**

افغانستان د خپل ځانګړي جغرافيوي موقعيت له کبله تل د سيمې د سوداګريزو، سياسي او اقتصادي بدلونونو لپاره ډېر مهم ګڼل شوی دی. دا هېواد د مرکزي اسيا، جنوبي اسيا، منځني ختيځ او ختيځې اسيا ترمنځ د نښلونکې کړۍ په توګه، په سيمه‌ييزه سوداګرۍ کې د مهم او محوري رول د لوبولو بالقوه وړتيا لري (World Bank, ۲۰۱۸). له همدې امله، د افغانستان جغرافيوي موقعيت کولای شي د ټرانزيټ، نښلونې او سيمه‌ييزو سوداګريزو کړيو د پراختيا لپاره يو ستراتيژيک فرصت برابر کړي.

سره له دې بالقوه ظرفيت، افغانستان په تېرو لسيزو کې ونه شو کولای چې له خپل ستراتيژيک موقعيت څخه اغېزمنه ګټه واخلي او خپل واقعي دريځ د سيمه‌ييز سوداګريز نظام په چوکاټ کې ثابت کړي. سياسي بې‌ثباتي، کمزورې ټرانزيټي او لوژستيکي زيربناوې، اداري محدوديتونه او پر وارداتو لوړه تکيه د دې لامل شوې چې د هېواد دغه جغرافيوي ښيګڼه تر ډېره بريده بې‌استفادې پاتې شي. له ۲۰۲۱ز.کال وروسته سياسي او اقتصادي بدلونونو دا وضعيت يوې نوې مرحلې ته داخل کړی او د افغانستان د راتلونکي اقتصادي رول او د سيمه‌ييزې اقتصادي يو ځای کېدنې د امکان په اړه يې مهم بحثونه راپورته کړي دي.

له ۲۰۲۱ز.کال وروسته، افغانستان د خپلو بهرنيو اړيکو، اقتصادي جوړښت او سوداګريزو تعاملاتو په برخه کې له ژورو بدلونونو سره مخ شوی دی. له ګڼو نړيوالو مالي بنسټونو سره د رسمي اړيکو محدودېدل، د بهرنيو پانګونو کمېدل، د بانکي نظام ګډوډي او د سوداګريزو مسيرونو بدلون، د هېواد لپاره يو نوی او پېچلی اقتصادي وضعيت رامنځته کړی دی(IMF,۲۰۲۲). سره له دې، همدې شرايطو افغانستان ته دا امکان هم برابر کړی چې د سيمه‌ييزو همکاريو په چوکاټ کې خپل اقتصادي رول له سره تعريف کړي، په ځانګړي ډول د ټرانزيټ، سيمه‌ييزې نښلونې او ګډو زيربنايي پروژو په برخه کې لازم اقدامات شوي دي.

سیمه‌ییزه سوداګري د پرمختیایي هېوادونو، او په ځانګړي ډول د هغو هېوادونو لپاره چې په وچه کې پراته دي، د اقتصادي ودې له مهمو او اغېزمنو لارو څخه ګڼل کېږي. د افغانستان په څېر هېواد چې نړیوالو بازارونو ته یې لاسرسی محدود دی، په سیمه‌ییزو سوداګریزو کړیو کې یو ځای کېدنه کولای شي د اقتصادي انزوا د کمولو یو عملي او مؤثر بدیل وي. له ۲۰۲۱ز.کال وروسته، په داسې شرایطو کې چې بهرنۍ مرستې په ښکاره توګه راکمې شوې دي، د ټرانزیټ له لارې ترلاسه کېدونکي عواید او سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ کولای شي د هېواد د اقتصادي ثبات لپاره د دوامدارو سرچینو په توګه مطرح شي.

د سیاست‌جوړونې له پلوه، د اقتصادي یو ځای کېدنې د فرصتونو او ننګونو دقیق پېژندل د اقتصادي او سوداګریزې ډیپلوماسۍ د مؤثرو ستراتیژیو د طرحې لپاره بنسټیز اهمیت لري. په همدې لړ کې، دا څېړنه د افغانستان د اقتصادي جغرافیې، د بهرنۍ سوداګرۍ د جوړښت او اړوندو سیمه‌ییزو نوښتونو رول په تحلیلي او علمي چوکاټ کې ارزوي. او دا په ډاګه کوي چې وروستیو سیاسي بدلونونو د افغانستان د سیمه‌ییز اقتصادي ګډون (مشارکت) لپاره کوم فرصتونه او کومې ننګونې رامنځته کړې دي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت**

د افغانستان د ستراتیژیک موقعیت او د اقتصادي یو ځای کېدنې د ظرفیتونو په حقیقت ولاړه او علمي ارزونه نه یوازې له تیوري پلوه اهمیت لري، بلکې د اوسنیو اقتصادي شرایطو په رڼا کې د هېواد د اقتصادي پرمختګ د ممکنه مسیرونو د پېژندنې لپاره یوه عملي اړتیا هم بلل کېږي. له ۲۰۲۱ز.کال وروسته سیاسي او اقتصادي بدلونونو د افغانستان د اقتصادي اړیکو بڼه بدله کړې او دا اړتیا یې لا پسې مهمه کړې ده، چې د هېواد د سیمه‌ییز اقتصادي رول او د یو ځای کېدنې امکانات په علمي او تحلیلي ډول وڅېړل شي.

له همدې امله، د دې څېړنې ترسره کول له علمي او تطبیقي دواړو اړخونو مبرم اهمیت لري. دا څېړنه هڅه کوي چې په سیمه‌ییزه سوداګرۍ کې د افغانستان د اقتصادي یو ځای کېدنې شته فرصتونه په منظم ډول وڅېړي، بنسټیزې ستونزې معلومې کړي او د هغو د حل لپاره تحلیلي او حقیقي لارې چارې وړاندې کړي، څو

د اقتصادي سیاست‌جوړونې او عملي تصمیم‌نیونې لپاره یو معتبر علمي بنسټ برابر شي.

**د څېړنې موخه**

د دې څېړنې اصلي موخه دا ده چې په سیمه‌ییزه سوداګرۍ کې د افغانستان ستراتیژیک دریځ په تحلیلي ډول وارزوي او له ۲۰۲۱ز.کال وروسته د اقتصادي یو ځای کېدنې اړوند فرصتونه او محدودیتونه معلوم کړي. سربېره پر دې، دا څېړنه د پالیسۍ جوړونکو، څېړونکو او سیمه‌ییزو بنسټونو لپاره عملي او علمي وړاندیزونه وړاندې کوي، څو له افغانستان سره د اقتصادي همکاریو د اغېزمنو ستراتیژیو د طرحې او تطبیق لپاره یو علمي بنسټ برابر شي.

**د څېړنې پوښتنې**

- ایا افغانستان کولای شي له ۲۰۲۱ز.کال وروسته له خپل ستراتیژیک موقعیت څخه د سیمه‌ییزې سوداګرۍ د پیاوړتیا او اقتصادي یو ځای کېدنې پر لور د حرکت لپاره اغېزمنه ګټه واخلي ؟
- د افغانستان لپاره په سیمه‌ییزه کچه د اقتصادي یو ځای کېدنې کوم اساسي فرصتونه موجود دي؟
- د اقتصادي یو ځای کېدنې د بهیر پر وړاندې تر ټولو مهم سیاسي، اداري او اقتصادي خنډونه کوم دي؟

**د څېړنې مېتود**

په دې څېړنه کې له **توصیفي-تحلیلي مېتود** څخه کار اخیستل شوی دی. د څېړنې د اړتیا وړ معلومات او مواد د بېلابېلو معتبرو سرچینو، لکه د نړیوالو ادارو راپورونو او علمي مقالو څخه راټول شوي دي.

**د څېړنې شالید**

سیمه‌ییز اقتصادي یو ځای کېدل د نړیوال اقتصاد د تیوریو او مطالعو له بنسټیزو مفاهیمو څخه ګڼل کېږي، چې تر ډېره د پرمختیایي هېوادونو د اقتصادي ودې د پیاوړتیا او نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي د یوې اغېزمنې وسیلې په توګه مطرح شوی دی. د تیوریک لیدلوري له مخې، اقتصادي یو ځای کېدل هغه بهیر ته ویل کېږي چې په ترڅ کې یې هېوادونه د سوداګریزو خنډونو د کمولو، د اقتصادي سیاستونو د

همغږۍ او د اداري همکاریو د پیاوړتیا له لارې خپل متقابل اقتصادي تعاملات پراخوي .(Balassa, ۱۹٦۱) دا بهیر، په ځانګړي ډول په هغو هېوادونو کې چې له زیربنایي او اقتصادي محدودیتونو سره مخ وي، د سوداګرۍ د زیاتوالي، د ټکنالوژۍ د انتقال او د تولیدي موثریت د لوړولو زمینه برابروي.

د نړیوالې سوداګرۍ د کلاسیکو نظریو له مخې، لکه د نسبي مزیت نظریه، سیمه‌ییز اقتصادي یو ځای کېدل هېوادونو ته دا امکان برابروي چې پر هغو اقتصادي فعالیتونو تمرکز وکړي چې په کې نسبي برتري لري او له همدې لارې متقابلې اقتصادي ګټې ترلاسه کړي. په مقابل کې، د نوې سوداګرۍ نظریې پر هغو عناصرو ټینګار کوي چې د تولید د کچې له پراخېدو سره د لګښتونو د کمښت، د تولیداتو د تنوع او د معاملاتي لګښتونو د راټیټېدو سبب ګرځي. دا نظریې څرګندوي چې سیمه‌ییزې همکارۍ یوازې تر سوداګریزو ګټو پورې محدودې نه دي، بلکې پراخ اقتصادي او اداري اغېز لري (Meze & Orizu, ۲۰۲۵). دغه لیدلوري د بشپړونکي اقتصادي، اداري او زیربنایي سیاستونو د پلي کېدو اهمیت لا زیات روښانه کوي.

د اقتصادي ودې اړوند تیوریګانې ښیي چې سیمه‌ییزه سوداګري د پرمختیایي هېوادونو، په ځانګړي ډول په وچه‌کې پرتو هېوادونو لپاره، ځانګړی اهمیت لري. دا هېوادونه معمولاً د ټرانسپورټي لوړو لګښتونو، بندرونو ته د محدود لاسرسي او پرګاونډیو هېوادونو د لوړې اقتصادي تکیې له ستونزو سره مخ وي. د نړیوال بانک راپورونه څرګندوي چې په سیمه‌ییزو سوداګریزو کړیو(شبکو) کې یو ځای کېدل کولای شي د دغو محدودیتونو یوه برخه راکمه کړي او سیمه‌ییزو بازارونو ته د دوامدار او باوري لاسرسي زمینه برابره کړي.(World Bank, ۲۰۲۰)

اقتصادي جغرافیه د سیمه‌ییزې سوداګرۍ د تحلیل یو مهم عنصر بلل کېږي. هغه هېوادونه چې د ټرانزیټي مسیرونو په څلورلارو کې موقعیت لري، که لازم اداري او سیاسي شرایط ولري، کولای شي د اقتصادي نښلونې په مهمو مرکزونو بدل شي. سره له دې، څېړنې دا هم ښیي چې یوازې جغرافیوي موقعیت د اقتصادي بریا تضمین نه شي کېدای، او پرته له پیاوړو زیربناوو، سیاسي ثبات او مؤثرو حقوقي چوکاټونو، دا جغرافیوي مزیت په عملي اقتصادي فرصت نه بدلېږي (World Bank, ۲۰۱۹).

افغانستان په وچه‌کې د یو راګیر هېواد په توګه، چې د مرکزي اسیا او جنوبي اسیا د نښلېدو په سیمه کې موقعیت لري، په اقتصادي جغرافیه کې د بالقوه ټرانزیټي هېواد په توګه مطرح شوی دی. بېلابېلې څېړنې ښیي چې افغانستان کولای شي د سیمه‌ییزو بازارونو ترمنځ د نښلونکي پل رول ولوبوي؛ خو اوږدمهاله جګړو، د اقتصادي بنسټونو کمزورۍ او د ټرانسپورټي زیربناوو نشتون، د دې ظرفیت د عملي کېدو مخه نیولې ده .(Atif, ۲۰۲٤) د همدې عواملو له امله، د افغانستان جغرافیوي مزیت تر ډېره حده نه دی استفاده شوی.

د سیمه‌ییزې نښلونې په اړه ترسره شوې څېړنې څرګندوي چې د سوداګریزو او ټرانزیټي دهلېزونو پراختیا کولای شي د اړوندو هېوادونو پر اقتصادي وده د پام وړ اغېز ولري. لویې پروژې لکه د لاجوردو لویه لاره او د مرکزي او جنوبي اسیا ترمنځ د نښلونې نوښتونه، که په مؤثره توګه پلي شي، کولای شي افغانستان د سیمه‌ییزې سوداګرۍ په شبکو کې ور ګډ کړي. خو د دغو پروژو بریالیتوب تر ډېره د سیاسي همکارۍ او د سیمې د امنیتي ثبات له کچې سره تړلی دی.(Haidari & Kotwal, ۲۰۲٥)

د سیاسي اقتصاد له لیدلوري، سیمه‌ییز اقتصادي یو ځای کېدل په پراخه کچه د هېوادونو ترمنځ د سیاسي اړیکو له وضعیت اغېزمن کېږي. څېړنې ښیي چې د سیاسي باور، ډیپلوماتیکو همکاریو او باثباته اړیکو له نشتون پرته، سیمه‌ییز سوداګریز تړونونه په دوامدار ډول نه شي عملي کېدای. د افغانستان په قضیه کې، له ۲۰۲۱ز.کال وروسته سیاسي بدلونونو د هېواد د بهرنیو او اقتصادي اړیکو جوړښت ژور بدلون موندلی او د پخوانیو تحلیلي څېړنو د بیا ارزونې اړتیا یې رامنځته کړې ده (World Bank, ۲۰۲۲).

له ۲۰۲۱ زیږدیز کال څخه وروسته ترسره شوې څېړنې څرګندوي چې له نړیوالو مالي بنسټونو سره د افغانستان د اړیکو محدودېدل، د بهرنۍ سوداګرۍ، مالي جریانونو او اقتصادي یو ځای کېدلو په برخه کې نوې او پېچلې ستونزې رامنځته شوې دي. د نړیوال بانک ارزونې ښیي چې دغه وضعیت د افغانستان له نړیوال اقتصادي نظام سره د یوځای کېدو بهیر ټکنی کړی، خو په عین حال کې یې هېواد دې ته هڅولی چې پر سیمه‌ییزو همکاریو او اقتصادي ګاونډیتوب زیات تمرکز وکړي

او له شته سیمه‌ییزو ظرفیتونو څخه بدیله استفاده وکړي .(World Bank, ۲۰۲۲) په همدې چوکاټ کې، سیمه‌ییزه سوداګري د اقتصادي انزوا د راکمولو لپاره د یوه عملي، تدریجي او حقیقي بدیل په توګه مطرح کېږي.

صافي او مائوریا (۲۰۲۵) په یوه تجربوي څېړنه کې د ۲۰۰۲ تر ۲۰۲۲ کلونو پورې د جنوبي اسیا د ځینو هېوادونو لپاره د سوداګرۍ د پرانیستوالي او اقتصادي ودې ترمنځ اړیکه ارزولې ده. دا څېړنه، چې د پانل معلوماتو او د ثابتو اغېزو د ماډل پر بنسټ ولاړه ده، څرګندوي چې د سوداګرۍ پرانیستوالی پر اقتصادي وده مثبت او د احصایوي پلوه مؤثر اغېز لري. د موندنو له مخې، د سوداګرۍ د پرانیستوالي په شاخص کې د یو سلنې زیاتوالی، په منځنۍ توګه د ناخالص کورني تولید نږدې ۰٫۸۷ سلنه زیاتوالي لامل ګرځي. د څېړنې لیکوالان استدلال کوي چې د افغانستان په څېر هېوادونو لپاره، چې جغرافیوي محدودیتونو او نړیوالو بازارونو ته د محدود لاسرسي له ستونزو سره مخ دي، په سیمه‌ییزه سوداګرۍ کې ګډون کولای شي د نړیوالې سوداګرۍ لپاره یو اغېزمن بدیل مسیر برابر کړي. دا پایلې د سوداګرۍ د اسانتیا سیاستونو او د سرحدي خنډونو د کمولو پر بنسټیز اهمیت ټینګار کوي (Safi & Maurya, ۲۰۲۵).

حیدري او کوټوال (۲۰۲۵) په یوه تحلیلي څېړنه کې د افغانستان–پاکستان سوداګریز دهلېز فرصتونه او محدودیتونه ارزولي دي. د دوی موندنې ښيي چې افغانستان که څه هم د جغرافیوي موقعیت له مخې د ټرانزیټ لپاره د پام وړ ظرفیت لري، خو د ټرانسپورټي زیربناوو کمښت او د اداري سیستمونو نیمګړتیاوې د سوداګرۍ لګښتونه لوړ کړي او د دهلېز اغېزمنتوب یې کم کړی دی. سره له دې، څېړنه څرګندوي چې که د اداري سیستمونو همغږي پیاوړې شي او سیمه‌ییزې پروژې پراخې شي، افغانستان کولای شي په سیمه‌ییزه سوداګرۍ کې خپل دریځ لا پیاوړی کړي. دا موندنې په څرګند ډول ښيي چې د جغرافیوي مزیت د عملي کولو لپاره اقتصاد محوره او همغږي سیاستونه اساسي رول لري (Haidari & Kotwal, ۲۰۲۵).

کلیوال او مبارز (۲۰۲٤) په یوه کیفي څېړنه کې د افغانستان رول د شمال–جنوب نړیوال ټرانسپورټي دهلېز (INSTC[1]) په چوکاټ کې ارزولی دی. د څېړنې پایلې څرګندوي چې افغانستان کولای شي په څو نړیوالو ټرانزیټي دهلېزونو کې د ګډون له لارې، په وچه کې د راګیر هېوادونو لپاره د ټرانسپورټي لګښتونو، د ټرانزیټ د مودې او سوداګریزې بې اعتباري کچه راکمولی شي چې په پایله کې به یې افغانستان د ټرانزیټ له لارې دوامداره عواید ترلاسه کړي.( Keliwaal & Mubariz, ۲۰۲٤)

وردګ او رسا (۲۰۲٤) په یوه تجربوي څېړنه کې د افغانستان د سوداګرۍ لګښتونه له خپلو مهمو سوداګریزو شریکانو سره تحلیل کړي او هغه عوامل یې معلوم کړي چې د دې لګښتونو د لوړوالي لامل ګرځي. د څېړنې پایلې ښیي چې د ټرانسپورټي لګښتونو لوړوالی، غیرتعرفه‌یي خنډونه، د ګمرکي سیستم کمزوري او د لوژستیکي شبکو ضعف د افغانستان د سوداګرۍ د لوړ لګښت اصلي عوامل دي. دا څېړنه څرګندوي چې د سوداګرۍ لوړې بیې د افغانستان د اقتصادي یو ځای کېدنې پر وړاندې له بنسټیزو خنډونو څخه ګڼل کېږي او پرته له اداري اصلاحاتو او د زیربناوو له پراختیا، د هېواد جغرافیوي مزیت په عملي اقتصادي فرصت نه شي بدلېدای. د دغو موندنو پر بنسټ، د افغانستان د بهرنۍ سوداګرۍ د جوړښت اصلاح د یوه مهم لومړیتوب په توګه مطرح کېږي.(Wardak & Rasa, ۲۰۲٤)

عباسي، حمیدي او هیروان (۲۰۲۵) په یوه پانلي څېړنه کې، چې د ګرانشي ماډل پر بنسټ ولاړه ده، د جنوب ختیځې اسیا (ASEAN[2]) هېوادونو، چین او هند ترمنځ د اقتصادي یو ځای کېدنې بهیر ارزولی دی. د څېړنې پایلې ښیي چې د اقتصاد کچه، همغږې سوداګریزې پالیسۍ او مستقیمه بهرنۍ پانګونه د سیمه‌ییزو سوداګریزو جریانونو د پیاوړتیا له مهمو ټاکونکو عواملو څخه دي. که څه هم دا څېړنه په مستقیم ډول افغانستان تر بحث لاندې نه نیسي، خو له تیوري او تجربوي لیدلوري څرګندوي چې اقتصادي یو ځای کېدنه هغه مهال بریالۍ کېدای شي چې اداري

---

[1] International North-South Transport Corridor.
[2] Association of Southeast Asian Nations.

اصلاحات، د زیربناوو پراختیا او سیمه‌ییزې همکارۍ په همممهاله او همغږې بڼه پرمخ ولاړې شي.(Abbassy, Hameedi & Hirawan, ۲۰۲۵)

د څېړنیزې مخینې بیاکتنه څرګندوي، سره له دې چې ګڼو څېړنو د افغانستان ستراتیژیک موقعیت او د سیمه‌ییزې سوداګرۍ ظرفیتونه ارزولي دي، خو ډېری دغه څېړنې یا تر ډېره توصیفي بڼه لري او یا هم د ۲۰۲۱ ز. کال څخه مخکې دورو ته محدودې پاتې شوې دي. هغه څېړنې چې په ځانګړي ډول د نویو سیاسي، اقتصادي او اداري شرایطو لاندې د افغانستان د سیمه‌ییزې اقتصادي یو ځای کېدلو فرصتونه او محدودیتونه په تحلیلي ډول وڅېړي، لا هم کمې دي. دغه وضعیت د یوې څرګندې څېړنیزې تشې شتون په ډاګه کوي او د کیفي او تحلیلي څېړنو اړتیا څرګندوي، څو اقتصادي، سیاسي او اداري اړخونه په یوځای او منسجم چوکاټ کې تحلیل شي (Atif, ۲۰۲٤).

سربېره پر دې، د تجربوي څېړنو په برخه کې د افغانستان د سوداګرۍ اړوند ډېری څېړنې پر محدودو ټرانزیټي مسیرونو او ځانګړو سوداګریزو دهلېزونو تمرکز لري. شواهد ښيي چې پر یوه یا دوو سوداګریزو لارو ډېر تمرکز د افغانستان اقتصاد د سیاسي بدلونونو، امنیتي ناندریو او سوداګریزو محدودیتونو پر وړاندې لا ډېر ترل حالت ته بیایي. د سوداګریزو لارو متنوع کول او د سیمه‌ییزو همکاریو پیاوړتیا کولای شي دغه خطرونه راکم کړي او د هېواد اقتصادي ترلتیا را کمه کړي.( & Haidari Kotwal, ۲۰۲۵

له تیوري پلوه، د اقتصادي یو ځای کېدنې د بهیر د دقیق تحلیل لپاره اړینه ده چې د هېواد اقتصادي، سیاسي او اداري ټول اړخونه په نظر کې ونیول شي او څو اړخیزې څېړنې ترسره شي. دا ډول څېړنې د جغرافیې، سیاست او اقتصاد ترمنځ د متقابلو اړیکو د ښه درک زمینه برابروي او څرګندوي چې اداري شرایط څنګه کولای شي د اقتصادي یو ځای کېدنې بهیرونه اسانه یا د خنډ وړ وګرځوي (Meze & Orizu, ۲۰۲۵).دا لیدلوری په ځانګړي ډول د هغو هېوادونو د تحلیل لپاره مهم دی چې سیاسي او اقتصادي جوړښتونه یې د بدلون په حال کې دي.

له همدې امله، تیورۍ او څېړنې دا څرګندوي چې سیمه‌ییز اقتصادي یو ځای کېدنه د افغانستان لپاره د اقتصادي ودې، د سوداګریزې انزوا د کمولو او د

سیمه‌ییزې نښلونې د پیاوړتیا یوه بالقوه او عملي لاره کېدای شي. خو د دې ظرفیت په واقعي فرصت د بدلېدو لپاره اداري اصلاحات، سیاسي ثبات او د ټرانزیټي او لوژستیکي زیربناوو پراختیا ډېر مهم رول لري. پر سیمه‌ییزه سوداګرۍ تمرکز، د ټرانزیټي دهلېزونو پراختیا او له ګاونډیو هېوادونو سره د اقتصادي همکاریو پیاوړتیا کولای شي د افغانستان موقعیت په سیمه‌ییز اقتصاد کې لا پیاوړی کړي.

په پای کې، سره له دې چې د افغانستان د ستراتیژیک موقعیت او د سیمه‌ییزې سوداګرۍ په برخه کې ګڼې مقالې، راپورونه او تحلیلي لیکنې موجودې دي، خو په پښتو ژبه او «په سیمه‌ییزه سوداګرۍ کې د افغانستان ستراتیژیک درېځ او د ۲۰۲۱ ز. کال وروسته د اقتصادي یو ځای کېدنې فرصتونه» تر سرلیک لاندې، د اوسنیو شرایطو مطابق یوه تحلیلي او علمي مقاله تر اوسه نه ده تر سترګو شوې. له همدې امله، دا څېړنیزه مقاله هڅه کوي چې دغه علمي تشه ډکه کړي.

**په سیمه‌ییزه سوداګرۍ کې د افغانستان د ستراتیژیک موقعیت ارزونه**

افغانستان د خپل ځانګړي جغرافیوي موقعیت له کبله د مرکزي او جنوبي اسیا د نښلونې په نقطه کې موقعیت لري او د ایران، پاکستان، چین، هند او د مرکزي اسیا د هېوادونو ترمنځ د طبیعي ارتباطي دهلېز رول لوبوي. دا ټرانزیټي موقعیت هېواد ته دا وړتیا ورکوي چې د سیمه‌ییزې سوداګرۍ او ټرانسپورټ په یوه اغېزمن مرکز بدل شي، په ځانګړي ډول د شمال–سویل او ختیځ–لوېدیځ په سوداګریزو لارو کې، چې د داخلي او خارجي بازارونو ترمنځ د تګ راتګ اسانتیا برابروي (World Bank, ۲۰۲۳). سره له دې، وروستۍ څېړنې ښیي چې افغانستان، د دغو بالقوه ظرفیتونو سربېره، تر اوسه نه دی بریالی شوی چې په سیمه‌ییزو سوداګریزو شبکو کې خپل ثابت او مؤثر مقام ترلاسه کړي. دا وضعیت تر ډېره د اقتصادي، اداري او نهادي خنډونو پایله ده چې د هېواد د ټرانزیټي برتري د عملي کارونې مخه نیسي (Asian Development Bank, ۲۰۲۲).

د افغانستان د ستراتیژیک درېځ بل مهم عنصر د هېواد طبیعي او اقتصادي سرچینې دي. افغانستان پراخ معدني زیرمې، حاصلخیزې کرنیزې ځمکې او د انرژۍ د پراختیا وړ ظرفیتونه لري، چې د صادراتو د ودې او د سیمه‌ییزې سوداګرۍ د بنسټ په توګه ترې ګټه اخیستل کېدای شي. څېړنې څرګندوي چې هغه هېوادونه

چې خپلې طبیعي سرچینې يې په هدفمند او ستراتیژیک ډول د سیمه‌ییزې سوداګرۍ لپاره کارولې دي، د پام وړ اقتصادي وده يې تجربه کړې او په سیمه‌ییزو اقتصادي شبکو کې يې خپل دریځ پیاوړی کړی دی .(UNCTAD, ۲۰۲۱) له همدې امله، افغانستان هم کولای شي د مؤثرو اداري سیستمونو، مناسبې لوژستیکي تګلارې او پیاوړو ټرانزیټي زیربناوو په رامنځته کولو سره خپل سیمه‌ییز اقتصادي مقام لا پیاوړی کړي.

د نړیوال بانک د راپورونو له مخې، د ټرانزیټي مسیرونو اصلاح، د سړکونو او ریل پټلیو د ټرانسپورټ پراختیا او د ګمرکي پروسو ساده کول کولای شي د سوداګرۍ بهیر پیاوړی کړي او د افغانستان د صادراتو لپاره سیمه‌ییزو بازارونو ته د لاسرسي کچه لوړه کړي .(World Bank, ۲۰۲۳) خو د دې ظرفیتونو بشپړ تحقق هغه مهال ممکن دی چې د دولتي ادارو ترمنځ همغږي پیاوړې شي، مالي او تخنیکي محدودیتونه راکم شي او په زیربناوو کې دوامدارې پانګونې ترسره شي، تر څو د هېواد ستراتیژیک اهمیت یوازې بالقوه نه، بلکې عملي بڼه غوره کړي.

تحلیلي څېړنې دا هم څرګندوي چې له ګاونډیو هېوادونو سره سیاسي او ډیپلوماتیکې اړیکې د افغانستان د جغرافیوي برترۍ د اغېزمنې استفادې له مهمو ټاکونکو عواملو څخه دي. د ۲۰۲۱ز.کال له سیاسي بدلونونو وروسته، افغانستان د سیاسي او اقتصادي اړیکو په برخه کې له ګڼو محدودیتونو سره مخ شوی، چې دا وضعیت په مستقیم ډول د هېواد پر سیمه‌ییز سوداګریز ګډون اغېز لري (OECD, ۲۰۲۰).شواهد ښيي چې له ګاونډیو هېوادونو سره د باثباته سوداګریزو او ټرانزیټي تړونونو رامنځته کول کولای شي د افغانستان ستراتیژیک موقعیت پیاوړی کړي او د سوداګریزو شریکانو ترمنځ د باور فضا رامنځته کړي.

په ټوله کې، راټول شوي شواهد څرګندوي چې د افغانستان ستراتیژیک موقعیت له یو پلوه د پام وړ فرصتونه او له بل پلوه جدي ننګونې لري. فرصتونه د هېواد د ټرانزیټي برترۍ، طبیعي سرچینو او جغرافیوي موقعیت د مؤثرې استفادې له لارې رامنځته کېږي، په داسې حال کې چې ننګونې تر ډېره د سیاسي بې‌ثباتۍ، د اداري سیستم کمزورۍ او د زیربناوو د محدودیتونو پایلې دي (Sachs & Warner, ۲۰۲۰).له همدې امله، د دې موقعیت اغېزمنه استفاده د هدفمندې پالیسۍ

جوړونې، اداري اصلاحاتو او په اقتصادي او ټرانزیټي زیربناوو کې د دوامدارو پانګونو په پایله کې تر سره کیږي، تر څو افغانستان وکولای شي په عملي ډول د سیمه‌ییز اقتصادي یو ځای کېدنې پر لور حرکت وکړي.

**د افغانستان لپاره په سیمه‌ییزه کچه د اقتصادي یو ځای کېدنې فرصتونه**

په سیمه‌ییزه کچه د افغانستان اقتصادي یو ځای کېدل، په ځانګړي ډول له ۲۰۲۱ز.کال وروسته، له ګڼو بالقوه فرصتونو سره مل دی چې کولای شي د هېواد اقتصادي موقعیت پیاوړی کړي او د دوامداره اقتصادي ودې زمینه برابره کړي.

لومړی او تر ټولو مهم فرصت د سیمه‌ییزو ټرانزیټي او ټرانسپورټي لارو اغېزمنه استفاده ده. افغانستان د ایران، پاکستان، مرکزي اسیا او چین ترمنځ د خپل جغرافیوي موقعیت له امله کولای شي د سوداګرۍ او ټرانزیټ د یوه مهم دهلېز په توګه مطرح شي او همدارنګه په لویو سیمه‌ییزو پروژو لکه د چین–پاکستان–افغانستان د رېل‌پټلۍ او د شمال–سویل او ختیځ–لوېدیځ ترانزیټي دهلېزونو کې ګډون وکړي (Asian Development Bank, ۲۰۲۲). د دغو فرصتونو عملي کېدل به د ټرانزیټي عوایدو او د بهرنیو مستقیمو پانګونو د زیاتوالي لامل شي او افغانستان ته به دا امکان برابر کړي چې د سیمه‌ییزو نښلونکو لارو فعاله برخه وګرځي.

دوهم مهم فرصت د غیرنفتي او کرنیزو صادراتو په پراختیا پورې اړه لري. افغانستان د کرنې او معدني سرچینو پراخ ظرفیتونه لري، چې د لوړ ارزښت لرونکو صادراتي توکو د تولید لپاره ترې ګټه اخیستل کېدای شي. څېړنې ښيي چې اقتصادي یو ځای کېدنه او سیمه‌ییزو بازارونو ته لاسرسی کولای شي کورني تولیدونکي د کیفیت د لوړولو، د نړیوالو معیارونو د پلي کولو او د تولید د متنوع کولو پر لور وهڅوي، چې دا چاره په بهرنیو بازارونو کې د افغاني محصولاتو د سیالۍ‌وړتیا زیاتوي (UNCTAD, ۲۰۲۱). دا بهیر په ځانګړي ډول د کرنې سکتور او کوچنیو او منځنیو تشبثاتو لپاره مهم دی، ځکه چې د غیرنفتي صادراتو د ودې او پر وارداتو د تکیې د کمولو زمینه برابروي.

دربېم فرصت د پانګونې او زیربناوو په برخه کې د سیمه‌ییزو همکاریو پراختیا ده. ګاونډي هېوادونه او سیمه‌ییز بنسټونه لکه SAARC[۳] او ECO[٤] د ګډو پانګونو او زیربنایي پراختیا بېلابېلې پروژې پر مخ وړي، چې افغانستان ته پکې د ګډون واقعي امکان شته .(OECD, ۲۰۲۰) دغه مشارکتونه نه یوازې د ټرانسپورټي او د انرژۍ زیربناوو د ښه‌والي لامل کېږي، بلکې د کاري فرصتونو رامنځته کولو، د ټکنالوژۍ د لېږد او د ملي تولیدي ظرفیت د لوړولو لپاره هم مهم رول لوبوي. له همدې امله، اقتصادي یوځای کېدنه کولای شي د افغانستان د دوامداره اقتصادي ودې لپاره یو اغېزمن او بنسټیز چوکاټ برابر کړي.

څلورم مهم فرصت د اقتصادي ډیپلوماسۍ د پیاوړتیا او د هدفمندو سوداګریزو پالیسیو له پلي کېدو سره تړاو لري. د سوداګریزو تړونونو لاسلیک، د ګمرکي بهیرونو ساده کول او د تعرفوي او غیرتعرفه‌یي خنډونو کمول، د سیمه‌ییزو همکاریو له لارې، کولای شي د افغانستان د صادراتو او وارداتو بهیر منظم او مؤثر کړي (World Bank, ۲۰۲۳). دغه ګامونه د بهرنیو پانګه‌والو باور هم زیاتوي او د سیمه‌ییزو پروژو په چوکاټ کې د خصوصي سکتور د ونډې پراخېدو ته لاره هواروي. له همدې امله، مؤثر سیاست او ستراتیژیکه پلان جوړونه د سیمه‌ییزو اقتصادي فرصتونو د اعظمي استفادې لپاره ډېر مهم ارزښت لري.

په عمومي توګه، څېړنې څرګندوي چې که څه هم د افغانستان د اقتصادي یو ځای کېدنې فرصتونه پراخ او متنوع دي، خو د دغو فرصتونو عملي کېدل اداري اصلاحاتو، سیاسي ثبات او هدفمندې پانګونې ته اړتیا لري. که له دغو فرصتونو څخه په اغېزمن ډول ګټه واخیستل شي، نو دا به د اقتصادي ودې د چټکتیا، د بې‌وزلۍ د راکمېدو او د ټولنیزې رفاه د پیاوړتیا لامل شي او افغانستان به د سیمه‌ییزې سوداګرۍ په چوکاټ کې په یو فعال او باوري شریک بدل کړي.( Sachs & Warner, ۲۰۲۰ ) له همدې امله، اقتصادي یو ځای کېدنه د افغانستان لپاره یوازې یو اختیاري سیاست نه، بلکې د هېواد د اقتصادي راتلونکې یوه حتمي اړتیا بلل کېږي.

---

[۳] South Asian Association for Regional Cooperation.
[٤] Economic Cooperation Organization.

## په سیمه‌ییزه کچه د افغانستان د اقتصادي یو ځای کېدنې خنډونه او محدودیتونه

د افغانستان د اقتصادي یو ځای کېدنې په بهیر کې یو له اساسي خنډونو څخه سیاسي بې‌ثباتي بلل کېږي. دا بې‌ثباتي تر ډېره د هېواد له داخلي امنیتي وضعیت سره تړاو نه لري، بلکې د افغانستان د اوسني سیاسي نظام د نړیوال رسمیت نه پېژندنې له امله رامنځته شوې ده، چې د سیمې ډېرى هېوادونه یې د سیاسي بې‌اعتبارۍ په چوکاټ کې ارزوي. په حکومتدارۍ کې بنسټیز بدلونونه او نړیوال بندیزونه د دې سبب شوي چې د افغانستان اقتصادي او دیپلوماتیکې اړیکې له ګڼو سیمه‌ییزو هېوادونو سره محدودې شي. څېړنې ښیي چې دا ډول سیاسي محدودیتونه، د قوانینو د تطبیق ضعف او د حقوقي خوندیتوب کمزورتیا، د بهرنۍ مستقیمې پانګونې د کچې د راټیټېدو او د سیمه‌ییزو اقتصادي پروژو د ځنډېدو لامل ګرځي .(Asian Development Bank, ۲۰۲۲) د همدې وضعیت له امله، افغانستان نه‌شي کولای د خپل ستراتیژیک موقعیت له مزایاوو څخه د سیمه‌ییزې سوداګرۍ په برخه کې په دوامدار ډول ګټه واخلي.

دوهم اساسي خنډ د ټرانسپورټي او لوژستیکي زیربناوو کمزورتیا ده. سره له دې چې افغانستان له جغرافیوي پلوه مناسب موقعیت لري، خو ټرانزیټي لارې یې د سړکونو د ټیټ کیفیت، د رېل‌پټلۍ له محدود شتون او د لوژستیکي امکاناتو د کمښت له امله له ستونزو سره مخ دي. دغه وضعیت د سوداګرۍ لګښتونه زیاتوي او افغانستان د بهرنیو پانګه‌والو او سیمه‌ییزو اقتصادي شریکانو لپاره د لوړ لګښتي سوداګریز هېواد په توګه معرفي کوي .(World Bank, ۲۰۲۳) په ځانګړې ډول، په ټرانزیټي پروژو او سیمه‌ییزو نښلونکو لارو کې د زیربناوو کمزورتیا د مؤثریت د کمېدو او د اقتصادي یو ځای کېدنې د فرصتونو د محدودېدو لامل ګرځي.

درېیم اساسي خنډ د اداري سیستم ضعف او د قانوني محدودیتونو شتون دی. په ګمرکي او اداري سیستمونو کې د کړنلارو پېچلتیا، د وخت ضایع کېدل او د سیستمونو غیرمؤثریت، د کورنیو او بهرنیو پانګه‌والو باور کم کړی او د سیمه‌ییزو اقتصادي اړیکو پراختیا یې ستونزمنه کړې ده .(OECD, ۲۰۲۰) د بېلګې په توګه، پېچلې ګمرکي کړنلارې، د نړیوالو سوداګریزو معیارونو نشتوالی او له سیمه‌ییزو

سوداګریزو تړونونو سره د همغږۍ کمزورتیا، په عملي ډول د افغانستان د نړیوالې سوداګرۍ وړتیا محدوده کړې ده. دا وضعیت ښیي چې پرته له بنسټیزو اداري او حقوقي اصلاحاتو، د اقتصادي یو ځای کېدنې بهیر اغېزمن پرمختګ نه‌شي کولای.

څلورم اساسي خنډ پر وارداتو لوړه تکیه او د صادراتو محدوده تنوع ده. د افغانستان اقتصاد لا هم د بنسټیزو او پانګیزو توکو په وارداتو پورې تړلی دی، په داسې حال کې چې د غیرنفتي صادراتو برخه، په ځانګړي ډول کرنیز محصولات او کوچني صنایع، کافي تولید او د سیالۍ وړ ظرفیت څنګه چې په نړیوالو بازارونو کې په کار ده، نه لري.( UNCTAD, ۲۰۲۱) دغه حالت هېواد د سیمه‌ییزو او نړیوالو اقتصادي ستونزو پر وړاندې زیان‌منونکی کوي او د اقتصادي یو ځای کېدنې د دوامدارو ګټو د ترلاسه کولو مخه نیسي. له همدې امله، د صادراتو تنوع رامنځته کول او د محصولاتو د کیفیت لوړول د اقتصادي یو ځای کېدنې د بریا لپاره اساسي شرطونه ګڼل کېږي.

سربېره پر دې، کلتوري خنډونه او د اقتصادي ډیپلوماسۍ کمزورتیا هم د افغانستان د اقتصادي یو ځای کېدنې په محدودولو کې د پام وړ رول لري. محدودې ډیپلوماټیکې اړیکې او د دولتونو او سیمه‌ییز خصوصي سکتور ترمنځ د باور کموالی، د دوامدارو اقتصادي همکاریو د شبکو د رامنځته کېدو مخه نیسي (Sachs & Warner, ۲۰۲۰).همدارنګه، د سوداګرۍ، پانګونې او زیربنایي پراختیا په برخه کې د منسجمو ملي او سیمه‌ییزو ستراتیژیوکموالی د دې سبب کېږي چې ډېری بالقوه اقتصادي فرصتونه په عملي ډول تحقق ونه مومي. له همدې امله، د دغو ستونزو حل د بنسټیزو اقتصادي اصلاحاتو، سیاسي ثبات، د زیربناوو پراختیا او د سیمه‌ییز اعتماد د پیاوړتیا په واسطه کیږي، څو اقتصادي یو ځای کېدنه په دوامداره او مؤثر ډول تر لاسه شي.

## تحلیلي بحث

د څېړنو عمومي تحلیل څرګندوي چې افغانستان د سیمه‌ییزې اقتصادي یو ځای کېدنې لپاره د پام وړ بالقوه وړتیاوې لري، په ځانګړي ډول د خپل ستراتیژیک جغرافیوي موقعیت له امله، چې دا هېواد یې د مرکزي آسیا، جنوبي آسیا او منځني ختیځ ترمنځ د وصل په یوه مهم محور بدل کړی دی. دغه جغرافیوي برتري د ترانزیټي دهلېزونو او سیمه‌ییزو لوژستیکي شبکو د پراختیا زمینه برابروي او کولای شي د

پانګونې، سوداګریزو توکو او کاري ځواک د تبادلې بهیرونه پیاوړي کړي (Asian Development Bank, ۲۰۲۲).

په زیربناوو، انرژۍ او ټرانسپورټ کې د پانګونې فرصتونه، او همدارنګه په سیمه‌ییزو اقتصادي نوښتونو کې د افغانستان ګډون، د دې هېواد ظرفیت لوړوي څو په سیمه‌ییزه سوداګرۍ کې فعاله ونډه واخلي. خو دا فرصتونه د یو شمېر اقتصادي، اداري او سیاسي ستونزو له امله محدود پاتې کېږي، چې د اقتصادي یو ځای کېدنې د عملي کېدو پر وړاندې خنډونه رامنځته کوي. سیاسي بې‌ثباتي او قانوني محدودیتونه د کورنیو او بهرنیو پانګه‌والو باور کمزوری کوي او د پانګونې او سوداګرۍ بهیرونه لا پېچلي کوي .(OECD, ۲۰۲۰) همدارنګه، د ټرانسپورټ، انرژۍ او اړیکو په برخه کې د زیربناوو کمزورتیا د سوداګرۍ لګښتونه لوړوي او د سیمه‌ییزو پروژو اغېزمنتیا راکموي، په ځانګړي ډول د ټرانزیټي پروژو په برخه کې چې د افغانستان اقتصاد ته ځانګړی اهمیت لري.(World Bank, ۲۰۲۳)

همدارنګه د افغانستان د اقتصاد پر وارداتو لوړه تکیه او د صادراتي تنوع محدودیت د دې سبب شوی چې د کورني تولید د پام وړ برخه یا د داخلي بازار لپاره کارول کېږي او یا هم په محدود ډول بهرنیو بازارونو ته صادرېږي، په داسې حال کې چې د کرنیزو محصولاتو او کوچنیو صنعتونو صادرات لا تر اوسه دومره پیاوړي نه دي چې له بهرنیو او نړیوالو بازارونو څخه یو باثباته عایداتي جریان برابر کړي .(UNCTAD, ۲۰۲۱)دغه وضعیت هېواد د اقتصادي بحرانونو او د سیمه‌ییزو بازارونو د بدلونونو پر وړاندې ډېر زیان‌منونکی کوي او د دې لامل کېږي چې افغانستان ونه‌شي کولای خپل جغرافیوي مزیت په بشپړ ډول په اقتصادي فرصتونو بدل کړي. له همدې امله، د صادراتو تنوع، د لوړ ارزښت لرونکو تولیداتو پراختیا او د تولیدي ظرفیت لوړول د پایداره اقتصادي یو ځای کېدنې لپاره اساسي اړتیاوې ګڼل کېږي.

په ورته وخت کې، د سیمه‌ییزو اړیکو او اقتصادي همکاریو له لارې رامنځته کېدونکي فرصتونه د پام وړ ارزښت لري. افغانستان کولای شي د سوداګریزو تړونونو د پلي کولو، او په سیمه‌ییزو اتحادیو او زیربنایي پروژو کې د ګډون له لارې د پانګې او ټکنالوژۍ جریان جذب کړي او خپل اقتصادي ظرفیت پیاوړی کړي. د

۲۰۲۱ز.کال وروسته بدلونونه څرګندوي چې د منظمې پالیسۍ جوړونې او هدفمندې اقتصادي ډیپلوماسۍ په شرط، هېواد کولای شي په سیمه‌ییزو سوداګریزو شبکو کې فعاله ونډه واخلي او د ټرانزیټي عوایدو او سیمه‌ییزې سوداګرۍ له ګټو برخمن شي.(Sachs & Warner, ۲۰۲۰)

په همدې اساس، د فرصتونو او خنډونو تحلیلي ارزونه څرګندوي چې د افغانستان د اقتصادي یو ځای کېدنې راتلونکی تر ټولو زیات د شته ظرفیتونو د سم مدیریت او د بنسټیزو خنډونو د لرې کولو پورې تړاو لري. سیاسي ثبات، اداري اصلاحات، د زیربناوو پراختیا او د سیمه‌ییزو شریکانو ترمنځ د باور رامنځته کول د موجودو فرصتونو د اغېزمنې استفادې اساسي شرطونه ګڼل کېږي. سره له دې چې د هېواد جغرافیوي موقعیت او طبیعي مزیتونه د اقتصادي یو ځای کېدنې لپاره مهم فرصتونه برابروي، خو که په اداري اصلاحاتو او اقتصادي ډیپلوماسۍ کې جدي او همغږي اقدامات ترسره نه شي، دا ظرفیتونه به په عملي توګه تحقق ونه مومي. له همدې امله، پر شواهدو ولاړ سیاستونه، هدفمندې پانګونې او له سیمه‌ییزو پروژو سره فعاله همغږي، د ۲۰۲۱ز.کال وروسته د افغانستان د اقتصادي یو ځای کېدنې د بریا لپاره بنسټیز عوامل بلل کېدای شي.

**پایله**

د افغانستان د ستراتیژیک موقعیت ارزونه په سیمه‌ییزه سوداګرۍ کې او له ۲۰۲۱ز.کال څخه وروسته د اقتصادي یو ځای کېدنې د فرصتونو او محدودیتونو تحلیل څرګندوي چې هېواد، د خپل ځانګړي جغرافیوي موقعیت، ټرانزیټي وړتیاوو او طبیعي سرچینو له امله، د سیمه‌ییزې سوداګرۍ او اقتصادي همکاریو لپاره د پام وړ ظرفیت لري. څېړنه ښیي چې افغانستان کولای شي د مرکزي، جنوبي او ختیځې آسیا ترمنځ د نښلونکي ټرانزیټي مرکز په توګه رول ولوبوي او د شمال–جنوب او ختیځ–لوېدیځ ټرانزیټي دهلېزونو له لارې دوامدار اقتصادي عواید ترلاسه کړي.

سره له دې، د څېړنې پایلې څرګندوي چې دا ظرفیتونه تر اوسه د سیاسي او ډیپلوماتیکو محدودیتونو، اداري کمزورتیاوو، د حقوقي خوندیتوب کموالي او د زیربناوو د ناکافي پراختیا له امله په بشپړ ډول عملي شوي نه دي. همدارنګه، پر وارداتو د اقتصاد لوړه تکیه او د غیرنفتي صادراتو محدود تنوع، افغانستان د سیمه‌ییزو

اقتصادي بدلونونو پر وړاندې زیان‌منونکی کړی او د اقتصادي یو ځای کېدنې دوامداري ګټې یې محدودې کړې دي.

له بلې خوا، له ۲۰۲۱ز.کال څخه را وروسته امنیت، د ټرانزیټي دهلېزونو شتون، د طبیعي سرچینو پراخ ظرفیت او د سیمه‌ییزو همکاریو امکان، داسې فرصتونه برابروي چې د مناسبې سیاست‌جوړونې په صورت کې د غیرنفتي صادراتو پراختیا، د بهرنۍ مستقیمې پانګونې جلب او په سیمه‌ییزو زیربنایي پروژو کې د افغانستان ګډون پیاوړی کولای شي. دا بهیر نه یوازې اقتصادي وده رامنځته کوي، بلکې د بې‌وزلۍ د کمولو او د ټولنیزې رفاه د لوړولو لپاره هم بنسټیز اهمیت لري.

په ټوله کې، څېړنه دې پایلې ته رسېږي چې د افغانستان اقتصادي یو ځای کېدنه په سیمه‌ییزه کچه یو اختیاري سیاست نه، بلکې د هېواد د اقتصادي راتلونکې یوه بنسټیزه ستراتیژیکه اړتیا ده. د افغانستان راتلونکی تر بل هر وخت ډېر د سیمه‌ییز اقتصاد له جوړښت سره د افغانستان د تعامل په څرنګوالي پورې تړاو لري، په داسې شرایطو کې، سیمه‌ییزه سوداګري او اقتصادي یو ځای کېدنه کولای شي د اقتصادي انزوا د کمولو او د دوامداره اقتصادي ودې د رامنځته کولو لپاره یو عملي او اغېزمنه لار وګرځي.

**وړاندیزونه**

د څېړنې د موندنو پر بنسټ، د افغانستان د پایدار اقتصادي یو ځای کېدنې د تحقق لپاره د لاندې عملي او اقتصاد محوره سیاستي ګامونو پلي کول اړین ګڼل کېږي:

**۱- د ټرانزیټي او لوژستیکي زیربناوو پراختیا:** په سړکونو، رېل‌پټلۍ، سرحدي ترمینلونو او ګمرکي تاسیساتو کې هدفمنده پانګونه کولای شي د مالونو د لېږد لګښتونه راکم کړي، د ټرانزیټي بهیر موثریت لوړ کړي او افغانستان د سیمه‌ییزې سوداګرۍ لپاره په یو باوري دهلېز بدل کړي.

**۲- اداري او قانوني اصلاحات:** د ګمرکي او سوداګریزو کړنلارو ساده کول، د اداري شفافیت پیاوړتیا او له نړیوالو سوداګریزو معیارونو سره همغږي، د بهرنۍ مستقیمې پانګونې د جذب او د سیمه‌ییزو سوداګریزو شریکانو د باور د زیاتولو لپاره ډېر مهم ارزښت لري.

**۳- د غیرنفتي او کرنیزو صادراتو پراختیا:** د صادراتي محصولاتو د کیفیت ښه‌والی، د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو ملاتړ او د صادراتو تنوع، کولای شي پر وارداتو د اقتصاد تکیه راکمه کړي او د افغانستان د سیالۍ د وړتیا کچه په سیمه‌ییزو بازارونو کې لوړه کړي.

**۴- د سیمه‌ییزو همکاریو او اقتصادي ډیپلوماسۍ پیاوړتیا:** په ګډو زیربنایي پروژو کې فعاله ونډه اخیستل، د دوامدارو سوداګریزو او ټرانزیټي تړونونو پراختیا، او د SAARCاو ECO په څېر سیمه‌ییزو سازمانونو له ظرفیتونو اغېزمنه استفاده، د ټکنالوژۍ د انتقال او اقتصادي ودې لپاره مناسب شرایط برابروي.

**۵- د اوږدمهاله ستراتیژیکو سیاستونو طرحه کول:** د سوداګرۍ، پانګونې او زیربناوو په برخو کې د ملي او سیمه‌ییزو همغږو ستراتیژیو تدوین، د افغانستان له جغرافیوي مزیتونو او طبیعي سرچینو څخه د دوامداري او اغېزمنې استفادې لپاره یو اساسي شرط ګڼل کیږي.

**مأخذونه**

١- Abbassy, S., Hameedi, M. L., & Hirawan, F. B. (٢٠٢٥). Examining regional economic integration among ASEAN, China, and India. *International Journal of Management, Entrepreneurship, Social Science and Humanities*, ٨(٢), ٢٣٠–٢٥٣.

٢- Asian Development Bank. (٢٠٢٢). *Central and South Asia regional connectivity: Opportunities and challenges*. Manila: Asian Development Bank. https://www.adb.org/publications/regional-cooperation-integration-south-central-asia

٣- Atif, A. W. (٢٠٢٤). The geopolitical location of Afghanistan: Opportunities and challenges in relations with South and Central Asian countries. *Afghanistan Thematic Journal of Social Sciences*, ١(١), ٥٨–٦٦.

٤- Balassa, B. (١٩٦١). *The theory of economic integration*. Homewood, IL: Richard D. Irwin.

٥- Haidari, M. N., & Kotwal, U. (٢٠٢٥). Exploring trade and transit challenges and opportunities in the Afghanistan–

Pakistan trade corridor. *Business Review and Case Studies*, ٦(٢), ٢١٨–٢٣٥.
٦- International Monetary Fund. (٢٠٢٢). *Afghanistan: Staff assessment of the macroeconomic situation*. Washington, DC: IMF.
٧- Keliwaal, A. N., & Mubariz, A. S. (٢٠٢٤). North–South Transport Corridor: Opportunities, challenges, and the role of Afghanistan. *Educational Administration: Theory and Practice*, ٣٠(١١), ٢٨–٣٦.
٨- Meze, M. E., & Orizu, E. C. (٢٠٢٥). Regional integration and economic growth: Evidence from developing economies. *Journal of Social Sciences*, ١٢(١), ٤٥–٦٠.
٩- OECD. (٢٠٢٠). *Economic outlook for Afghanistan: Trade, investment and policy perspectives*. Paris: OECD Publishing.
١٠- Sachs, J. D., & Warner, A. M. (٢٠٢٠). Economic reform and the process of global integration. *The Economic Journal*, ١٣٠(٦٢٧), ١٢٣٤–١٢٦٥. https://doi.org/١٠,١١١١/ecoj.١٢٨١٠
١١- Safi, N., & Maurya, N. K. (٢٠٢٥). Trade openness and economic growth in South Asian countries: A panel data analysis. *Journal of Social Sciences and Humanities*, ٢(٣), ٩٤–١١٢.
١٢- UNCTAD. (٢٠٢١). *Landlocked developing countries report ٢٠٢١: Trade and development opportunities*. Geneva: United Nations Conference on Trade and Development.
١٣- UNCTAD. (٢٠٢١). *World investment report ٢٠٢١: Investing in sustainable recovery*. Geneva: United Nations Conference on Trade and Development. https://unctad.org/webflyer/world-investment-report-٢٠٢١
١٤- Wardak, A. S., & Rasa, M. M. (٢٠٢٤). Determinants of trade costs of Afghanistan with its major trading partners. *MPRA Paper*, No. ١٢٢٩٥٣.
١٥- World Bank. (٢٠١٨). *Afghanistan: Pathways to inclusive growth*. Washington, DC: World Bank.
١٦- World Bank. (٢٠١٩). *Connecting landlocked countries to markets*. Washington, DC: World Bank.

١٧- World Bank. (٢٠٢٠). *Afghanistan regional trade and transit report*. Washington, DC: World Bank.
١٨- World Bank. (٢٠٢٢). *Afghanistan economic update*. Washington, DC: World Bank.
١٩- World Bank. (٢٠٢٣). *Afghanistan economic update: Trade, transit, and regional integration*. Washington, DC: World Bank Group. https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan/publication/afghanistan-trade-transit

څېړندوی عبدالقهار عزیزي

# مصنوعي ځیرکتیا سیستمونو ته د جزایي مسئولیت د انتساب څرنګوالی

# The Attribution of Criminal Liability to Artificial Intelligence

***Assistant Professor Abdul Qahar Azizi***

**Abstract**

Artificial intelligence constitutes an emergent technology that has penetrated nearly all spheres of human activity. Despite its numerous advantages, Artificial intelligence also poses significant legal challenges. One of the most intricate issues concerns the attribution of criminal liability. The central inquiry revolves around whether AI systems are capable of fulfilling the requisite conditions traditionally imposed on human agents for the imposition of criminal responsibility.

This study examines the extent to which criminal liability may be imputed to AI-driven systems and whether the legal framework of criminal law allows for such attribution. Particular emphasis is placed upon:

- the distinction between direct and vicarious liability,
- the potential recognition of legal personhood for Artificial intelligence systems,
- the enforceability of penal sanctions, and
- the differentiation between mens rea in human actors and the programmed functionalities of machines.

The research employs a descriptive–analytical methodology, relying upon doctrinal sources including

statutory provisions, scholarly articles, jurisprudential commentary, and other documentary materials.

The study finds that the attribution of criminal responsibility to Artificial intelligence systems presents profound complexities. Among the constitutive elements of crime, Artificial intelligence lacks the subjective element (mens rea). Furthermore, Artificial intelligence does not possess legal personhood sufficient to independently bear criminal liability. Its absence of emotional capacity and susceptibility renders the application of conventional penal sanctions ineffective.

Nevertheless, the research concludes that, notwithstanding the absence of human-like intent or volition, alternative mechanisms of accountability may be devised. Such mechanisms could safeguard societal interests while simultaneously promoting technological advancement.

**Keywords:** Artificial Intelligence, Criminal Liability, Crime, Punishment, Offender, Legal Personhood.

**لنډیز**

مصنوعي ځیرکتیا هغه نوې ټکنالوجي ده چې د ژوند هر پړاو ته داخله شوې ده. مصنوعي ځیرکتیا د ګټو سربېره یو لړ ننګونې هم لري. په دې برخه کې د جنایي مسئولیت ستونزه یوه پېچلې موضوع ده؛ ځکه مصنوعي ځیرکتیا هغه شرایط پوره کولی شي کوم چې انسان ته یې جزایي مسئولیت راجع کیږي، دا هغه موضوع ده چې په دې څېړنه کې ورباندې بحث شوی دی.

دا څېړنه د مصنوعي ځیرکتیا په ټکنالوجۍ سنبالو سیستمونو ته د جزایي مسئولیت انتساب څېړي، چې آیا په جزایي حقوقو کې ورته د مسئولیت راجع کول شوني دي که نه؟ د مقالې تمرکز پر دې دی چې د مستقیم او غیرمستقیم مسئولیت، د حقوقي شخصیت قایلېدل، د جزا عملي کېدنه، او د انسان او ماشین تر منځ د جرم معنوي عنصر (قصد او ارادې) توپیر روښانه کړي.

د مصنوعي ځیرکتیا په تړاو د جزایي مسئولیت موضوع خورا پېچلې ده. د جرم متشکله عناصرو له ډلې معنوي عنصر نه بشپړوي. بل لوري ته حقوقي شخصیت نه

دی چې په مستقل ډول ورته جزايي مسئوليت راجع کړل شي او ترڅنګ يې مصنوعي ځيرکتيا د عاطفي او درد حواس نه لري، نو د مجازاتو تطبيق هم مؤثريت ورباندې نه لري. همدې نقاطو ته په کتو، مصنوعي ځيرکتيا سيسټمونو ته د جزايي مسئوليت منسوبول پېچلتيا لري.

په دې څېړنه کې توصيفي-تحليلي ميتود څخه ګټه اخيستل شوې ده او د کتابونو، علمي مقالو، قوانينو او نورو اسنادو په ګډون د کتابتوني موادو شننه ترسره شوې ده.

څېړنه دې پايلې ته رسېږي چې که څه هم د انسان په څېر قصد او اراده د ماشين ځانګړنه نه ده، خو د مسئوليت او جزا د پلي کولو لهپاره بديلې لارې شته چې هم د ټولنې د خونديتوب او هم د ټکنالوجۍ د ودې تضمين کوي.

**کليدي نقاط:** مصنوعي ځيرکتيا، جزايي مسئوليت، جرم، جزا، مجرم، حقوقي شخصيت.

**سريزه**

په تېرو دوو لسيزو کې د مصنوعي ځيرکتيا چټک پرمختګ، د بشري ژوند هره برخه اغېزمنه کړې ده. نن ورځ مصنوعي ځيرکتيا د انساني ژوند هرې ساحې ته داخله شوې ده او هره برخه کې انسان ته ورته کار کوي، هغه که جراحي وي، وسايط وي، مرستيالي، صنعتي برخه يا هم نورې برخې، له صنعت، اقتصاد، تر عامه خدماتو او روغتيا پورې، د انسان پر ځای يې کار ته ملا ور تړل شوې ده.

دا کار سره له دې چې ګټه لري، يعنې انسان باندې يې مسئوليت راکم کړی دی، خو په ورته وخت کې يې يو لړ ستونزې هم زېږولي دي. د بېلګې په توګه که د مصنوعي ځيرکتيا له لوري کوم جرمي عمل ترسره شي، نو جزايي مسئوليت يې چا ته ورګرځي.

سره له دې چې مصنوعي ځيرکتيا کولی شي د جنايي عدالت د پياوړتيا لهپاره آسانتياوې برابرې کړي، خو همدارنګه د اساسي حقونو، د متهم د عادلانه محاکمې، د بې ګناهۍ اصل، او د عدالت د خپلواکۍ پر وړاندې نوې حقوقي او اخلاقي ننګونې راپورته کوي.

په دې برخه کې ځینې څېړنې ترسره شوې دي، خو داسې کومه څېړنه چې د افغانستان له شرایطو سره مطابقت ولري او د افغاني اصولو او مقرراتو مطابق وي، تراوسه نه ده ترسره شوې. نو په دې برخه کې دا څېړنه یوه نوښتي او نوې څېړنه ده.
**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:** له هغه ځایه چې مصنوعي ځیرکتیا نوې او د انساني ژوند هرې برخې ته داخله شوې یا داخلېدونکې ټکنالوجي ده، نو په دې برخه کې د جرمي عمل د ارتکاب په صورت کې ورته د مسئولیت انتساب ستونزه څېړل ډېر مهم دي. ځکه له دې سره به نه یوازې د مسئولیت ستونزه هواره شي، بلکې د دې ټکنالوجۍ د پرمختګ پر وړاندې د پرتو خنډونو له ډلې به یو شمېر یې لیرې شي.
**د څېړنې هدف:** د دې څېړنې موخه دا ده چې د جزایي مسئولیت په برخه کې د مصنوعي ځیرکتیا د قصد عنصر او د هغې د انتساب حقوقي میکانیزمونه روښانه کړي او داسې عملي او حقوقي لارې چارې وړاندې کړي چې د دې سیستمونو لهخوا رامنځته کېدونکي زیانونه او جرمونه د عدالت په چوکاټ کې وڅېړل شي.
**د څېړنې پوښتنه:** مصنوعي ځیرکتیا سیستمونو ته جزایي مسئولیت څرنګه منسوبیږي؟
**د څېړنې فرضیه:** اټکل دا دی چې د نورو حقوقي او حقیقي اشخاصو په څېر د مصنوعي ځیرکتیا سیستمونو ته هم جزایي مسئولیت راجع کېدای شي.

د څېړنې میتوډ تحلیلي-توصیفي دی او له معتبرو علمي او اکاډمیکو آثارو څخه ګټه اخیستل شوې ده ترڅو مصنوعي ځیرکتیا ته د جزایي مسئولیت انتساب په سم او کره ډول وڅېړل شي.

## د مصنوعي ځیرکتیا په ټکنالوجۍ سنبالو سیستمونو په اعمالو کې د قصد عنصر

مصنوعي ځیرکتیا، د ښو موخو سربېره د ناوړه او جرمي اعمالو لهپاره هم کارول کېدای شي، د بېلګې په توګه د بلیک‌میل کولو یا تهدیدولو لهپاره د انځورونو جوړول، د خپلچارو ډرونونو ناسم کارول، مالي معاملاتو کې جعل او تزویر، د مصنوعي ځیرکتیا په مټ سایبري بریدونه، خپلچارو موټرو له لوري ټکر، هویتي غلا او ورته نور ډېر مثالونه یې ذکر کولی شو.

د مصنوعي ځيرکتيا مسئول ګڼل خورا مهم دي، دې سره د افرادو او ټولنې امنيت خوندي کيږي او د اصولو او قوانينو تطبيق دقيق کيږي. لکه څرنګه چې يو عالم وايي: «د جرم د متشکله عنصر په توګه د مصنوعي ځيرکتيا منل، له علمي او عملي پلوه د توجيه وړ دي او له دې سره د افرادو او ټولنې امنيت خوندي کيږي او د ټکنالوجۍ په چټک پرمختګ او د ټولنې ډيجيټلي کولو په لړ کې د معاصرې ټکنالوجۍ وضعيت لهپاره هم ضروري ده.» (*Danila* Kirpichnikov et al. ۲۰۲۰, p ۷ ) نو دې لهپاره چې افراد او ټوله ټولنه خوندي وي، د ټکنالوجۍ وضعيت او حالت همداسې مخ پر وده وساتل شي، نو د مصنوعي ځيرکتيا مسئول ګڼل او د دې لهپاره د مناسبو لارو چارو لټون اړين او ضروري چاره ده.

قصد او اراده يو انساني عمل دی، که څه هم اراده او قصد دوه جلا مفاهيم دي، خو دلته هدف دا دی چې سره له پوهې د يو عمل ترسره کول او عواقب يې سنجول، د قصدي او عمدي عمل په توګه ګڼل کيږي. انسان دا درک او ځواک لري او ماشين ترې بېبرخې دی. ځينې علماء يې مصنوعي ځيرکتيا ته هم راجع کوي، لکه «دواړه انسانان او د مصنوعي ځيرکتيا سيستمونه ادراکي پوهه لري (اراده، باور او پوهاوی) چې د قصد[1] عنصر پرې بشپړيږي. په عمومي لحاظ، د قصد له پلوه د مسئوليت راجع کولو لهپاره دوه لارې يو له بل څخه تفکيک کولی شو، د مستقيم مسئوليت او غيرمستقيم مسئوليت لاره.

**مستقيم مسئوليت:** په هغه صورت کې چې د مصنوعي ځيرکتيا سيستم په خپلچاري توګه فعاليت وکړي، په مستقيم ډول ورته د جرمي اعمالو د ارتکاب له کبله مسئوليت راجع کېدای شي. د بېلګې په توګه، که خپلچاری موټر د سافټوير د غلطۍ له وجې ټکر وکړي، د مصنوعي ځيرکتيا سيستم ته مسئوليت منسوبيږي. (Fekry, A.: ۳٦۳ p) دلته داسې انګېرل کيږي چې د مصنوعي ځيرکتيا سيستم اراده او قصد لري او په قصدي ډول يې د يو جرمي عمل د ارتکاب قصد کړی دی، نو په دې خاطر بايد جزايي مسئوليت ورته راجع کړل شي.

**غيرمستقيم مسئوليت:** دا مسئوليت د تبعي مسئوليت په نوم هم يادېږي او د مصنوعي ځيرکتيا له سيستم پرته بل کس ته مسئوليت راجع کيږي. په دې کې د

[1] mens rea.

ياد سيستم جوړونکی، څښتن، کاروونکی کېدای شي چې د نوموړي سيستم د غلطيو مسئول وبلل شي، په ځانګړي ډول په هغه صورت کې چې د احتمالي خطر په مخنيوي يا اټکل کې پاتې راشي. (Fekry, A.: ۳٦۳ p) د تبعي مسئوليت مفهوم له اسلامي فقهې څخه اخيستل شوی دی. دا ډول مسئوليت معمولاً د شاروبو په تړاو مطرح کيږي او د شاروي څښتن ته ورګرځي. شاروی په داسې حال کې چې ژوندی مخلوق دی، خو اراده نه لري نو په همدې خاطر يې مسئوليت څښتن ته منسوبيږي؛ مګر مصنوعي ځيرکتيا چې نه ژوندی شيز دی او نه اراده او قصد لري، نو په طريقه اولی سره يې مسئوليت څښتن يا جوړوونکي ته ور ګرځي.

**مصنوعي ځيرکتيا سيستمونو ته د جزايي مسئوليت انتساب**

جزايي مسئوليت هغه حقوقي پرنسيپ ته ويل کيږي چې افراد د خپلو اعمالو له کبله مسئول ګڼي، هغه مهال چې د جرمي عمل مرتکب کيږي. په دې کې معنوي عنصر چې د عمل تر شا اراده يا پوهه ارزوي او د مادي عنصر چې پر عمل باندې له فزيکي او مادي پلوه تمرکز کوي، شامل دي. دا دواړه عناصر د جزا حقوقو اساس جوړوي او ډاډمنوي چې افراد د خپلو ناسمو اعمالو له کبله مسئول ګڼل کيږي. ( Fekry, A.: ٤٦٠ p)

د مصنوعي ځيرکتيا د جنايي مسئوليت د رفع کولو لهپاره يوه لاره دا ده چې مالکان يې پرې وګڼل شي. دا ډول پر ګڼل د مطلق يا نيمه مطلق مسئوليت د نظريې په اساس دي. «په دې لاره کې په ځانګړي ډول په دې ټينګار کيږي چې د مصنوعي ځيرکتيا کاروونکي دې د مطلق يا نيمه مطلق مسئوليت د نظريې په اساس له يادو سيستمونو څخه د راپيدا شوي زيان مسئول وګڼل شي، په داسې ډول چې د شاروبو څښتنان د خپلو شاروبو د چلند په اړه په مطلق ډول مسئول ګڼل کيږي. د دې تګلارې په بنسټ، د مصنوعي ځيرکتيا سيستمونه له شاروبو سره ورته ګڼل کيږي» (F. Lagioia, G. Sartor: ٤٥٧ p) ځکه شاروي خپلواک وي او د مصنوعي ځيرکتيا سيستمونه هم دې ته ورته خپلواکي لري، دواړه له چاپيريال سره متقابل چلند کوي او له چاپيريال سره ځانونه عياروي، نو ځکه ورته مسئوليت راجع کولی شو. مګر دا مسئوليت په جزايي برخه کې ممکن نه دی، دا ډول مسئوليت چې له اسلامي فقهې

څخه اخيستل شوی دی، يوازې په مدني برخه کې د مصنوعي ځيرکتيا سيستمونو ته راجع کولی شو، نه په جزايي برخه کې.

بل لوري ته، انسان ته د جزايي مسئوليت ارجاع کول اسانه دي او ډېرې لارې چارې ورته موجودې دي چې د جرمي اعمالو په ارتکاب سره ورته مسئوليت راجع کېدای شي. مگر مصنوعي ځيرکتيا که ياد اعمال ارتکاب کړي، د مسئوليت انتساب ورته پېچلی کيږي او د انسان په څېر يې مسئول نه شو بللی. د دې سربېره، په دې تړاو مختلف حقوقي ليدلوري موجود دي چې څنگه د مصنوعي ځيرکتيا اړوند ماشينونو ته مسئوليت راجع کړل شي. دا موضوع په لاندې سرليک کې څېړل کيږي.

**لومړی ليدلوری:** مصنوعي ځيرکتيا عمداً د جرايمو د ارتکاب لهپاره پروگرام شوې لکه پوځي روباټونه او نور. دا څرگنده ده چې د ياد سيستم تر شاه يو کس شته چې کنټرول يې کړي. دا هماغه کس دی چې له اخلاقي پلوه د مسئوليت د مقرراتو مطابق جزايي مسئوليت ورته راجع کېدای شي او دا هغه کس دی چې د جرم په ارتکاب کې له نورو بېارادې کسانو څخه گټه اخلي، نو له همدې کبله نوموړی د جرمي عمل د ارتکاب په وجه مسئول گڼل کيږي. ( Yasser Ellamey and Amr Elwaked, ۲۰۲۳: p ۹٤) لکه څرنگه چې پوهيږو، د جرم لهپاره درې عناصر اړين دي قانوني عنصر، مادي عنصر او معنوي عنصر. له قانوني عنصر څخه ور اخوا، دوه نور عناصر په فاعل پورې اړه لري. که يو انسان يو عمل ترسره کړي، نو مادي او معنوي عناصر دواړه مشبوع کېدای شي. مگر د مصنوعي ځيرکتيا په برخه کې د مادي عنصر بشپړېدل ممکن دي خو معنوي عنصر ورکې ناقص دی. دلته ښکاري چې د روباټ کاروونکی د جرمي عمل له ارتکاب څخه هم خبر و او نيت يې هم درلود چې ياد عمل ترسره کړي، نو دا دوه عناصر سره يو ځای کيږي او د کاروونکي د عمل په برخه کې د جرمي عمل معنوي او مادي دواړه عناصر بشپړوي.

**دوهم ليدلوری:** مصنوعي ځيرکتيا او اړوند روباټونه يې جرمي اعمال په دې خاطر ارتکاب کوي چې سيستم غلطي کړې ده يا ورته پاملرنه نه ده شوې يعنې په تړاو يې بېپروايي کيږي. (Yasser Ellamey and Amr Elwaked, ۲۰۲۳: p ۹۵) د دې سيستم له مخې د بېپروايۍ له کبله هم پروگرام کوونکی او هم اړوند اداره پړه گڼل کيږي. ځکه هغوی د پروگرام کولو پرمهال کافي اندازه پاملرنه نه ده کړې او د دوی

د غفلت له وجهې د مصنوعي ځیرکتیا سیستم پاتې راغلی دی چې بالاخره د جرمي عمل د ارتکاب لامل شوی دی. دا چې کاروونکي یا یې کنټرولوونکی عمداً یا د بې‌پروایۍ له وجې یو روباټ پرینښی ترڅو جرمي عمل ترسره کړي، نو دې ډول غفلت ته په کتو کولی شو چې د یاد فرد عمل د جزا وړ وبولو. «دا ډول مسئولت مونږ هغه مهال هم عملي کولی شو چې هیڅ ضرر یا زیان نه وي پېښ شوی» ( F. Lagioia, G. Sartor: ٤٥٩ p) ځکه نوموړي شخص د مصنوعي ځیرکتیا په ټکنالوجۍ سنبال سیستم یو زیان لرونکي جرمي عمل ته هڅولی یا یې پرینښی چې د داسې عمل مرتکب شي او دا حالت په جرم باندې تشبث ته ورته دی، نو فلهذا کولی شو چې مالک ته یې مسئولیت انتساب کړو.

په همدې ډول، مصنوعي ځیرکتیا ته  د جزايي مسئولیت له راجع کولو څخه وړاندې بېلابېل لیدلوري موجود دي. د غیر د اعمالو مسئولیت یوه له دغو نظریو څخه ده. «د دې نظریې له مخې، مدعي علیه کېدای شي چې  دریم کس د اعمالو جزايي مسئولیت ومني. دا په مشخص ډول په دوو حالاتو کې ممکن دی. (۱) د غیر د اعمالو مسئولیت[٢] – چې له مخې یې کارسپارونکي (کارفرما) ته د کارکوونکي د اعمالو جزایي مسئولیت متوجه کیږي. او (۲) د بې‌ګناهۍ ډکتورین[٣]، چې له مخې یې هغه کس ته مسئولیت متوجه کیږي چې یو بې‌ګناه لوری یې د جرم ارتکاب ته هڅولی دی.» (F. Lagioia, G. Sartor: p ٤٤٠) د دې نظریې له مخې، د مصنوعي ځیرکتیا جزايي مسئولیت د هغه مالک او کارسپارونکي ته ور ګرځي. ځکه نوموړی د خپل لاس لاندې کسانو مسئول دی، یا یې هم یو بل لوری د جرم ارتکاب ته هڅولی دی، نو د روباټ یا د مصنوعي ځیرکتیا په ټکنالوجۍ سنبال سیستم د جرم د ارتکاب جزايي مسئولیت هم ور ګرځېدلای شي. دا هماغه تبعي مسئولیت ته ورته موضوع ده، خو هلته مدني مسئولیت راجع کېده، دلته بیا جزايي مسئولیت راجع کیږي.

په همدې ترتیب، د مصنوعي ځیرکتیا سیستمونو ته د جزايي مسئولیت راجع کولو له‌پاره د دریو ځانګړنو درلودل شرط دي، لومړی دا سیستم باید د یو عمل او د هغه د پایلو د درک وړتیا ولري، یعنې درک کړي او پوه شي چې یو عمل ترسره کوي،

---

[٢] vicarious liability
[٣] doctrine of innocent agency

څه نتیجه لري؛ دا وړتیا انسان له مغز او مصنوعي ځیرکتیا یې له سنسرونو څخه اخلي. دوهم، نوموړی سیستم باید د قانوني جزاګانو د درک وړتیا ولري، دا درک کړي چې د یاد عمل په ترسره کولو سره ورته کوم ډول جزا ورکول کیږي او د قانون کومه ماده ورباندې پلې کیږي. انسان دا وړتیا له مطالعې او یو بل څخه اخلي او د مصنوعي ځیرکتیا سیستم هم دا وړتیا ترلاسه کولی شي. دریم، اخلاقي انګېزنې؛ یعنې سیستم دا درک کړي چې یاد عمل ناوړه دی او که نه، دغه راز له عمل څخه وروسته د پښېمانتیا ثرګندول؛ انسان دا وړتیا لري او د وجدان په واسطه یې درک کوي، مګر د مصنوعي ځیرکتیا سیستمونو لهپاره د دا ډول وړتیا درلودل ناممکنه ده. ( F. Lagioia, G. Sartor: p ٤٥٠) له دې څخه ښکاري چې د انسان په څېر جزا ورکول ورته کفایت نه کوي او جزا یې د اصلاح باعث نه ګرځي، نو نشو کولی چې توقیف، بدني جزاګانې او اعدام ورباندې تطبیق کړو. بل لوري ته، دا چې د مصنوعي ځیرکتیا سیستمونه اخلاقي انګېزه نه لري، نو دا نشتوالی د دې لامل نشي کېدای چې مجازات دې ورباندې تطبیق نه شي، بلکې نورې لارې چارې ورته لټول په کار دي.

مصنوعي ځیرکتیا سیستم ته د جزایي مسئولیت د انتساب په اړه مونږ درې سناریوګانې په نظر کې نیسو، لومړی سناریو کې دا سیستم د یو بېګناه ځیز په ډول فعالیت ترسره کوي، په دوهم هغه کې د نیمه خپلواک او په دریم هغه کې بیا د خپلواک عامل په توګه افعال ترسره کوي.

**لومړی: کله چې د مصنوعي ځیرکتیا سیستم د بېګناه عامل په ډول فعالیت کوي**

په لومړي حالت کې د مصنوعي ځیرکتیا سیستم داسې ګڼل کیږي چې ګواکې د کاروونکي د اوامرو تابع دی یعنې خپله هیڅ قصدي عمل نه ترسره کوي. په داسې یو حالت کې جزایي مسئولیت د پروګرام جوړونکي ته ور ګرځي، ځکه هغه عمداً داسې یو سیستم جوړ کړی دی چې د جرم مرتکب شي. ( Danish Bashir Mangi et al. , ٢١٧٩ p) مثلاً، که یو پروګرام کوونکي داسې یو سافټ وییر جوړ کړی وي چې ټرافیکي سیستم ګډوډ کړي، یا یو کس یو روباټ د بل کس د ټپي کولو یا وژلو لهپاره پېري، دلته روباټ یوازې امر عملي کوي، نو کاروونکی یې مسئول او روباټ یوه بېګناه واسطه ده.

**دوهم: د مصنوعي ځیرکتیا سیستم نیمه بې‌گناه وي**

په دې حالت کې د پروګرام جوړونکي قصد په مستقیم ډول دا نه وي چې د جرمي عمل ارتکاب لەپاره یو سیستم جوړ کړي، بلکې د جرم د ارتکاب حالات یې سم اټکل کړي نه وي. دلته جزایي مسئولیت په دوو طریقو ممکن دی ۱) د تولیدونکي له خوا بې‌احتیاطي یا بې‌غوري (مثلاً کوډ یې ناسم لیکلی دی). ۲) د کاروونکي داسې کړنې چې د جرم سبب شي، البته قصد یې دا نه وي. ( , Danish Bashir Mangi et al. ۲۱۷۹ p) د مثال په ډول یو شرکت هوایي ډرونونه د دې لەپاره جوړ کړي چې خلک وربانديې بار یوسي، نوموړي ډرونونه د خلکو په سرونو راغورځي، یا دا چې یو کس، یو روباټ د کار لەپاره اخلي، نوموړی روباټ د کار پر ځای د موټر سیستم هک کړي. دلته هم مسئولیت جوړونکي ته ورګرځي، ځکه هغه سمه پاملرنه نه وه کړې.

**دریم: چې د مصنوعي ځیرکتیا سیستم خپلچاری یا د بشپړې خپلواکۍ لرونکی وي.**

په دې حالت کې د مصنوعي ځیرکتیا سیستم دومره پرمختګ کوي چې عمل یې خپلواک وي، یعنې له خپلو تجربو څخه زده کړه کوي او پر بنسټ یې پرېکړې کوي، له چاپیریال سره ځان عیاروي او د انسان د امر تابع نه وي. په داسې حالت کې خپله یاد سیستم مجرم ګڼل کیږي. ( Danish Bashir Mangi et al. , ۲۱۷۹- ۲۱۸۰ p p) دلته د مصنوعي ځیرکتیا د سیستم د مجرم ګڼلو یادونه شوې ده، مګر له هغه ځایه چې د مصنوعي ځیرکتیا سیستمونه اخلاقي پوهه نه لري او د خپل عمل ښه‌والی او بدوالی او دغه راز له عمل وروسته پښېمانتیا نه شي ښوولی، د دې سربېره د یو لړ مجازاتو تطبیق وربانديې عملي نه بریښي، خصوصاً بدني جزاګانې، نو مسئول ګڼل او مجرم ګڼل به یې په وضعیت کوم اغېز ونه کړي.

په همدې ډول، د جرمونو تکرار په جنایي حقوقو کې یوه د بحث وړ موضوع ده. داسې هم امکان لري چې د مصنوعي ځیرکتیا سیستمونه په ځانګړي ډول جنګي روباټ په جنګي عملیاتو کې په تکراري ډول له اوامرو څخه سرغړونه وکړي او د جرمونو مرتکب شي. په داسې حالت کې د سیستم اصلاح او سمون ډېر اړین دی، که سمون یې امکان ونه لري، نو بیا د یاد سیستم له منځه وړل د ستونزې د هواري یوازینۍ لاره پاتې کیږي.

## مصنوعي ځيرکتيا د حقوقي شخصيت په توګه

مونږ دوه ډوله اشخاص لرو، حقيقي او حقوقي اشخاص. حقيقي اشخاص هغه دي چې خپله اراده په خپلواک ډول ځرګنده کړی شي لکه انسان. انسان له پيدايښت ځخه د شخصيت لرونکی دی او تر مرګه شخصيت ګڼل کيږي. يا هم «حقيقي شخص هغه فرد دی چې د حق او تکليف موضوع ګڼل کيږي.» (نصرالله ستانکزی او نور، ۱۳۸۷، ۸۰ مخ) انسان ته د هغه د شخصيت له کبله په اسانه مسئوليت راجع کېدای شي. بل لوري ته حکمي شخصيت يا حقوقي شخصيت دی چې خپله اراده په خپله نشي ځرګندولی، بلکې د ارادې ځرګندولو لهپاره حقيقي شخصيت ته اړتيا لري. «يا هم هغه معنوي شخص چې د حقوقي اهليت درلودونکی وي او د معينو موخو لهپاره د مؤسسې، شرکت او يا جمعيت په ډول جوړيږي» (نصرالله ستانکزی او نور، ۱۳۸۷، ۸۰ مخ) دغه ډول شخصيت ته هم په اسانه مسئوليت راجع کېدای شي.

مصنوعي ځيرکتيا ته د حقوقي شخصيت په قايلېدو سره د مسئوليت ستونزه هواريږي، ځکه حقوقي يا حکمي شخصيت ته مسئوليت راجع کېدای شي. که څه هم د حقوقي شخصيت په اړه لا په نړيواله کچه د علماؤو اتفاق نشته، خو د ستونزو د هواري لامل ګرځېدای شي.

که مصنوعي ځيرکتيا سيستم د حقوقي شخصيت په توګه ومنل شي، دلته دوه لارې مطرح کېدای شي. په لومړی هغې کې مصنوعي ځيرکتيا ته په بشپړ حقوقي شخصيت قايلېدل د بحث وړ دي چې هر ډول تصرف وکړی شي او په هر ډول حالت کې ورته جزايي مسئوليت راجع شي. په دوهم حالت کې مصنوعي ځيرکتيا ته ناقص حقوقي شخصيت ورکول مطرح دي؛ لکه ځرنګه چې صغير او غيرمکلفو ته ناقص حقوقي شخصيت ورکړل شوی دی. خو دا ډول اشخاص بيا بشپړ تصرفات نشي کولی او تصرفات يې په يو بل کس پورې موقوف دي. مصنوعي ځيرکتيا اړوند داسې حالت کې بيا هم د مسئوليت موضوع ياد سيستم ته نه، بلکې انسان ته راجع کيږي چې هغه يې کنټرولوي او د جزايي مسئوليت موضوع بيا هم لاينحله پاتې کيږي.

## د مصنوعي ځيرکتيا په سيستم د جزا عملي کول

مصنوعي ځيرکتيا سيستم د مدني خسارې د جبران په تړاو کومه ستونزه نه لري. مونږ کولی شو هر ډول مدني خسارې په اسانه جبران کړو. يوازې د اړوند خسارې او زيان

اندازه محاسبه کوو او د مصنوعي ځيرکتيا په سيستم يې وضع کوو چې له مخې يې په هماغه اندازه پيسې له مالک، ټوليزې بيمې يا د مصنوعي ځيرکتيا ماشين له خپل اکاونټ څخه گرځوو.

بل لوري ته، د جرمي اعمالو د ارتکاب په صورت کې د عدالت غوښتنه د جزا تطبيق ده. که يو انسان جرمي عمل ترسره کړي، په اسانه ورباندې هر ډول جزا تطبيقولی شو هغه که جسمي جزا وي، مالي يا بل هر ډول مجازات وي. مگر د مصنوعي ځيرکتيا په برخه کې د جزا تطبيق چې هم د مجنی عليه د حقوقو د خونديتوب له‌پاره، هم د نورو له‌پاره د درس او هم د ټولنې د هوساينې له‌پاره اړين دی، يو څه ستونزې لري.

په انسانانو يو ډول عملي کېدونکې جزاگانې بدني دي لکه په درو وهل او نور چې د درد باعث گرځي، انسان خوږوي او د دې سبب گرځي چې په راتلونکي کې هم دا انسان او هم نور انسانان تنبيه شي او دغه راز ټولنه خوندي او په امن کې شي. مصنوعي ځيرکتيا ماشين دی او د عاطفې او درد احساس نه لري. له هغه ځايه چې د مصنوعي ځيرکتيا ماشين عاطفه او احساس نه لري، نو دا ډول بدني او جسماني جزاگانې ورباندې نه شي عملي کېدای. په دې اړه پوهان کار کوي چې يادې ټکنالوجۍ ته د درد حس ورکړي. په دې کار سره به د جزايي مسئوليت ستونزه هم هواره شي.

لکه څرنگه چې مخکې يادونه وشوه، هغه مجازات چې په انسانانو باندې پلي کيږي، د مصنوعي ځيرکتيا په سسيستمونو باندې نه شي پلي کېدای. که د بېلگې په توگه ووايو چې په درو وهل، نو د مصنوعي ځيرکتيا سيستم د خوږېدو حس نه لري چې په درو ووهل شي او خوږ شي او په راتلونکې کې له خپلو ناوړه اعمالو پښېمانه شي.

په ورته وخت کې، د جزا حقوقو اړوند ځينې تدابير لکه اعدام، حبس او نقدي جريمې کېدای شي چې د مصنوعي ځيرکتيا سيستمونو له‌پاره عيارې کړل شي. د بېلگې په توگه، د يو سافټ ويير دايمي ډيليټول د انسان له اعدام سره مساوي گڼل کيږي، په همدې ډول موقتي ډيليټول د انسان له حبسولو سره معادل او همدارنگه ټولنيز خدمات ترسره کول هم د مصنوعي ځيرکتيا له‌پاره هغه مجازات دي چې په

انسانانو باندې عملي کېدای شي. (Danish Bashir Mangi et al. , ۲۱۸۰ p) په پورته مجازاتو کې لومړی او دوهم بدیل کوم ځانګړی تاثیر نه لري. ځکه که یو سافټ ویېر ډیلیټ شي، پر ځای یې بل په اسانه جوړېدای یا انسټالېدای شي، د ماشین له منځه وړل هم همداسې. ولې د ټولنیزو خدماتو ترسره کول یو څه د توجیه وړ دي، ځکه دا مجازات عملي کول، نورو ته ګټه رسوي، حتی که روباټ حقوقي شخصیت ونه لري یا دا چې اخلاقي معیارونه نه شي پوره کولی او د ښو او بدو اعمالو توپیر نه شي کولی، مګر په دې ډول مجازاتو سره د مالک کار پاتې کېږي یا ځنډنی کېږي، روباټ بل ځای بوختیږي خو مهمه یې لا دا چې بل انسان ته یې خیر رسیږي. نو همدې ته په کتو دا ډول مجازات د پام وړ بریښي.

په همدې ډول، ځینې نور مجازات هم کولی شو چې د مصنوعي ځیرکتیا په سیسټمونو باندې عملي کړو. د بېلګې په توګه، که د مصنوعي ځیرکتیا سیسټمونو ته په حقوقي شخصیت قایل شو او نوموړی سیسټم په یوه هڅې کې د خپل څښتن د ګټې ډېرولو لهپاره کار کوي، په دې ترڅ کې یې پېرېدونکو ته زیان واوښت، د زیان په صورت کې یې له خپلې بودیجې څخه یوه اندازه نقدي جریمه وضع کېدای شي. خو دا هم د انتقاد وړ ده، ځکه نوموړی سیسټم د خپل مالک لهپاره پیسې راټولوي او سپما کوي یې او که پیسې ورسره نه وي، نو په دې صورت کې بیا له مالک څخه پیسې اخلي او نقدي جریمه پرې خلاصوي، نو په داسې حالت کې هم په دقیق ډول په یاد سیسټم باندې مجازات تطبیق نه شول.

خو په نهایت کې دا لاره هم ګټوره تمامیږي، ځکه مالک به د نقدي جریمې څخه د وېرې له کبله په راتلونکي کې عمداً د مصنوعي ځیرکتیا سیسټم جرمي عمل ارتکاب ته نه هڅوي بلکې راګرځوي به یې، همدارنګه په تړاو به یې غفلت او بېپروایي هم نه کوي.

**پایله**

د قصد عنصر د جزایي مسئولیت لهپاره ضروري شرط دی، خو د مصنوعي ځیرکتیا په سیسټمونو کې د انسان په څېر قصد شتون نه لري.

د مسئولیت انتساب درې لارې لري:

مستقیم مسئولیت (په ځانګړي ډول د خپلچارو سیسټمونو په حالت کې.)

غيرمستقيم مسئوليت (د مالک، کاروونکي يا جوړونکي پر وړاندې.)

د حقوقي شخصيت قايلېدل (بشپړ يا ناقص.)

په مصنوعي ځيرکتيا باندې د جزا پلي کول د انسان په څېر ممکن نه دي، خو بديلې لارې لکه د سافټوير حذف، موقتي تعليق، او د ټولنيزو خدماتو ترسره کول عملي کېداى شي. په دې سره مصنوعي ځيرکتيا ته د جزايي مسئوليت انتساب ستونزه راکمېږي.

**وړانديزونه**

په افغانستان کې مخکې له دې چې د مصنوعي ځيرکتيا په تړاو د جزايي مسئوليت موضوع مطرح شي، د جزا د تطبيق لپاره دې بديلې لارې (لکه ټولنيز خدمات، مالي جريمې، او د سيستم تعليقول) په قوانينو کې ځاى پر ځاى شي.

د دې سربېره، د جوړونکو، مالکانو او کاروونکو د مسئوليت روښانه تعريف دې وشي ترڅو د تبعي مسئوليت د نظريې پر بنسټ د زيانونو مخنيوى وشي.

همدارنګه، عدلي او قضايي ارګانونو ته وړانديز کوم چې د مصنوعي ځيرکتيا د حقوقي شخصيت د جزوي منلو طرحه دې وڅېړل شي تر څو د مسئوليت د تشې ستونزه هواره شي.

**ماخذونه**


١- ستانکزی، نصر الله او نور. د حقوقي اصطلاحاتو قاموس، د امريکا متحده ایالاتو نړیواله پراختیايي اداره (USAID)، کابل، افغانستان، ١٣٨٧ه.ش

٢- Ellamey, Yasser, and Amr Elwakad. "The Criminal Responsibility of Artificial Intelligence Systems: A Prospective Analytical Study." Corporate Law & Governance Review ٥, no. ١ (٢٠٢٣): ٩٢–١٠٠. https://doi.org/١٠,٢٢٤٩٥/clgrv٥i١p٨

٣- Fekry, A. (n.d.). The criminal responsibility about acts of artificial intelligence. In Artificial Intelligence: Legal and Economic Prospects and Challenges (JELC, ٦٦(٣), ٤٥١–٤٧٤). Buraimi University College, Sultanate of Oman. https://www.urban.org/sites/default/files/publication/٢٧٥٥٦/٤١٢٤٠٣-evaluating-the-use-of-public-surveillance-cameras-for-crime-control-and-prevention_١.pdf

٤- Kirpichnikov, D., Pavlyuk, A., Grebneva, Y., & Okagbue, H. (٢٠٢٠). "Criminal liability of the artificial intelligence". E٣S Web of Conferences, ١٥٩, ٠٤٠٢٥. https://doi.org/١٠,١٠٥١/e٣sconf/٢٠٢٠١٥٩٠٤٠٢٥
٥- Lagioia, Francesca, and Giovanni Sartor. "AI Systems Under Criminal Law: A Legal Analysis and a Regulatory Perspective." Philosophy & Technology ٣٣, no. ٣ (٢٠٢٠): ٤٣٣–٤٦٥. https://doi.org/١٠,١٠٠٧/s١٣٣٤٧-٠١٩-٠٠٣٦٢-x.
٦- Mangi, Danish Bashir, Ihsanullah Butro, and Tahseen Akhtar Memon. "AI and Criminal Liability: Theoretical Dilemmas in Applying Criminal Law to Artificial Intelligence." The Critical Review of Social Sciences Studies ٣, no. ٢ (٢٠٢٥): ٢١٧٤–٢١٨٦. Accessed June ١٢, ٢٠٢٥.

څېړندوی عزیزالدین نجات

# د بین المللي حقوقي اسنادو له نظره د پناه اخیستونکو حقوق

# Refugee’s rights according to international legal documents

***<u>Assistant professor Aziz Udin Nijat</u>***

**Abstract**

After the WWII, the issue of asylum was very hot, some people in many countries have political and ideological differences with the ruling regimes, because of these differences, their live were not safe, so they had to leave their country and settle in other countries. They would have enjoyed human rights in either country, but there was no international instruments on their specific rights due to asylum, so in ۱۹۵۱, the situation of refugees was discussed. An international convention was adopted and a common set of rights was registered.

Accordingly, the human and specific rights of refugees have been explained and analyzed, and the obligations of states towards the implementation of these rights have been clarified. However, it is important to clarify what rights refugees have according to international legal instruments. This research has been authored based on descriptive – analytical approach.

It research defines refugees from the perspective of international documents, sheds light on its causes, and raises the question of whether refugees are only entitled to human rights or should they also be granted special rights due to their refugee status? This research will conclude with scientific conclusion, recommendations and list of references.

**لنډیز**

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د پناه اخېستنې موضوع خورا ګرمه وه؛ په ډېرو هېوادونو کې ځېنو خلکو له حاکمو نظامونو سره سیاسي او ایډیالوژیک اختلاف درلود، د همدې اختلاف له امله د هغوی ژوند خوندي نه وو، نو ځکه اړ کېدل چې خپل هېواد پرېږدي او په نورو هېوادونو کې مېشت شي. دوی په یادو هېوادونو کې له بشري حقوقو څخه برخمن وو، ولې د پناه اخېستنې له امله یې د ځانګړو حقوقو په اړه کوم نړیوال سند موجود نه و، نو ځکه په ۱۹۵۱ زېږدیز کال کې د پناه اخېستونکو د حالت اړوند نړیوال کنوانسیون رامنځته او د هغوی حقوق پکې تسجیل شول.

د دې څېړنې له مخې د پناه اخېستونکو انساني او د پناه اخېستنې ځانګړې حقوق تشریح او تحلیل شوي او د دې حقوقو د تطبیق پر وړاندې د دولتونو مکلفیتونه روښانه شوي دي، څو څرګنده شي چې پناه اخېستونکي د بین المللي حقوقي اسنادو له مخې د کومو حقوقو لرونکي دي. په دې څېړنه کې له تشریحي – تحلیلي میتود څخه ګټه اخېستل شوې ده.

د دې څېړنې په ترڅ کې د بین المللي اسنادو له نظره پناه اخېستنه پېژندل شوې، پر لاملونو یې رڼا اچول شوې او دا پوښتنه پکې ځواب شوې چې آیا پناه اخېستونکی یوازې له انساني حقوقو څخه برخمن دی، یا د پناه اخېستنې له امله ورته ځانګړي حقوق هم ورکول کېږي؟ دا څېړنه په علمي پایلې، مناسبو وړاندیزونو او د سرچینو په نوملړ پای ته رسېږي.

**سریزه**

پناه اخېستنه د انساني تاریخ له لرغونو دورو سره تړاو لري. د انساني تاریخ په مختلفو دورو کې انسانان د خپل ټاټوبي پرېښودو ته اړ شوي او پردي هېواد کې یې ژوند غوره کړی دی. له دویمې نړیوالې جګړې وړاندې په بین المللي کچه کوم ځانګړی سند موجود نه و چې د پناه اخېستونکو حقوق پکې رانغاړل شوي وي. پناه اخېستنې موضوع له دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته ځانګړې حقوقي بڼه خپله کړه، په همدې لړ کې په ۱۹۵۱ زېږدیز کال د جینوا کنوانسیون او په ۱۹۶۷ زېږدیز کال د

جينوا پروتوكول چې د پناه اخېستونكو د حقوقو بنسټيزې سرچينې دي، رامنځته شول. دا اسناد نه يوازې دا چې د پناه اخېستونكو تعريف، حقوقي موقف او د هغوی د حقوقو او مسؤليتونو پولې ټاكي، بلكې د د دولتونو مكلفيتونه هم مشخص كوي. همدارنگه د (۱۹۴۸) زېږديز كال بشر حقوقو نړيواله اعلاميه، د مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق او د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنگي حقوقو نړيوال ميثاق د پناه اخېستونكو د حقوقو بنسټ تشكيلوي. د دې اسنادو له مخې د ژوند حق، د شكنجې او غيرانساني چلند پر وړاندې د خونديتوب حق، د آزاد تگ او راتگ حق، د تعليم، كار او روغتيا حقوق د ټولو انسانانو لپاره تضمين شوي دي او پناه اخېستونكي هم له دې حقوقو څخه مستثنی نه دي. سره له دې چې په نړيوالو اسنادو كې پناه اخېستونكي له ډېرو حقوقو څخه برخمن دي، ولې د هېوادونو د سياسي گټو، امنيتي اندېښنو او د يوه دولت د قوانينو محدوديتونو له امله دا حقوق په سمه توگه نه تأمينېږي. دا چې په بين المللي اسنادو كې د پناه اخېستونكو حقوق كوم ارزښت لري او د كومې موخې لپاره موضوع غوره شوې ده، په لاندې ډول ورته اشاره شوې ده.

**اهميت او مبرميت**

له دويمې نړيوالې جگړې څخه وروسته د پناه اخيستنې موضوع خورا گرمه او د بحث وړ وه. نو ځكه د پناه اخېستنې موضوع لپاره د (۱۹۵۱) زېږديز كال د پناه اخېستونكو د حالت اړوند كنوانسيون او د (۱۹٦۷) زېږديز كال پروتوكول رامنځته او د پناه اخېستونكو حقوق پكې تسجيل شول. د دې كنوانسيون سربېره د بشر حقوقو نړيواله اعلاميه، د مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق او د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنگي حقوقو نړيوال ميثاق د پناه اخېستوونكو لپاره حقوقي چوكاټ برابروي. دا څېړنه له علمي اړخه د دې اسنادو د موادو تشريح او له عملي اړخه د پناه اخېستونكو د ژوند د ښه كولو لپاره د هغوی د تطبيق او ننگونو څېړنه كوي. په وروستيو لسيزو كې ډېرو افغانانو د مختلفو عواملو له امله خپل هېواد پرېښود او په نورو هېوادونو كې مېشت شول، دا چې په نورو هېوادونو كې دوی كوم حقوق او مكلفيتونه لري، نو له دې اړخه هم د دې موضوع سپړل اړين دي.

**موخه**

د دې څېړنې موخه دا ده چې د بین المللي اسنادو له نظره د پناه اخېستونکو حقوق روښانه او هغه بین المللي کنوانسیونونه، پروتوکولونه او اعلامیې تحلیل شي چې د پناه اخیستونکو اړوند حقوق پکې تنظیم شوي دي.

**د څېړنې پوښتنې**

۱- د بین المللي اسنادو له نظره پناه اخېستونکي څه حقوق لري؟

۲- پناه اخېستونکی له کډوال سره توپیر لري او که دواړه مصطلحات په یوه معنی کارول کېږي؟

۳- ولې د یوه هېواد ځینې وګړي په نورو هېوادونو کې د پناه اخېستلو هڅه کوي؟

**د څېړنې تګلاره**

په دې څېړنه کې له تشریحي – تحلیلي میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

**لومړی مبحث – د پناه اخیستونکي پېژندنه**

پناه اخیستونکی هغه شخص ته ویل کېږي چې د خپل متبوع دولت ملاتړ یې له لاسه ورکړی وي او د اذیت او ځورونې له امله یې بل هېواد ته پناه وړې وي. د اذیت او آزار لاملونه مذهب، نژاد، ملیت، سیاسي عقاید او یا په ځانګړې ټولنیزه ډله کې ګډون کیدای شي.(۳:۴۶مخ) په پناه اخیستونکو کې ټول هغه اشخاص شاملېږي چې د نه زغم حالاتو له امله له وطن څخه تښتي او په بل هېواد کې د پناه اخیستنې په لټه کې وي. د هغوی د تېښتې لاملونه هم ممکن متفاوت وي، لکه ظلم او تېری، ژوند او آزادۍ ته ګواښ، د جنګونو له امله د فقر فشار، داخلي شخړې او طبیعي آفتونه. (۴: ۴۷۲مخ) د پناه اخیستونکو حالت اړوند کنوانسیون له مخې پناه اخیستونکی داسې تعریف شوی دی: (پناه اخیستونکی هغه شخص ته ویل کېږي چې د موجه وېرې له امله خپل متبوع هېواد پرېږدي او په بل هېواد کې ژوند کوي او نشي کولی چې د ذکر شوې وېرې له امله خپل هېواد ته بېرته ور وګرځي، د یادې وېرې لاملونه نژاد، مذهب، ملیت، په ټولنیزو ډلو کې غړیتوب او یا د سیاسي عقیدې درلودل دي.) (٦: ۱ ماده، دویمه فقره)

له پورته تعریفونو څخه بریښي چې پناه اخیستونکي ته د مذهب، نژاد، ملیت، سیاسي عقیدې او په ځانګړو ټولنیزو ډلو کې د غړیتوب له امله په هېواد حاکم

وضعیت د زغم وړ نه وي او د همدې نه زغم له امله وېره لري، چې د حاکم نظام له لوري به تعقیب او ځان، مال او آزادي به يې له خطر سره مخ شي، نو ځکه اړ کېږي، چې د مال، ځان، آزادۍ او عزت د خونديتوب لپاره په بل هېواد کې ژوند غوره کړي.

**دويم مبحث: د پناه اخيستنې لاملونه**

د پناه اخيستونکو د حالت اړوند د ۱۹۵۱ زېږدیز کال کنوانسیون د تعریف له مخې د پناه اخيستنې لاملونه په لاندې ډول دي:

۱- موجه وېره: که څه هم د ۱۹۵۱ زېږدیز کال کنوانسیون له مخې موجه وېره تعریف شوې نه ده، ولې په عمومي ډول ویلی شو، هغه وېره ده چې خپله شخص، د کورنۍ غړو او د هغه د سرپرستۍ لاندې اشخاصو ته متوجه وي، نه د هغه مال ته، د بېلګې په توګه شخص نشي کولی، له دې وېرې چې خپل متبوع هېواد يې اموال مصادره کوي، بل هېواد کې پناه واخلي.

۲- ځورونه: د پناه اخيستنې بل لامل د شخص ځورونه ده، د ځورونې په اړه کنوانسیون کوم ځانګړی تعریف نلري، ولې داسې ویلی شو ځورونه ټولو هغه اقداماتو ته شامله ده چې د شخص روان، جسم او آزادي په خطر کې اچوي او نوموړي ته سخت روحي او جسمي زیان رسوي. پناه اخيستنه ممکن د نژاد، مذهب، ملیت، په ټولنیزو ډلو کې غړیتوب او یا د ځانګړې سیاسي عقیدې له امله وي. (۴: ۴۷۳ مخ)

**درېيم مبحث: د پناه اخيستونکو او کډوالو تر منځ ورته والی او توپيرونه**

پناه اخيستونکي او کډوال دوه نږدې اصطلاحات دي چې ډېر کله خلک فکر کوي، دواړه يو مفهوم افاده کوي. سره له دې چې دواړه سره نږدې دي، ولې د نږدې والي تر څنګ په خپلو کې توپيرونه هم لري چې په لاندې ډول يې ذکر کوو:

**لومړی مطلب: د پناه اخېستونکو او کډوالو تر منځ ورته والی**

دواړه خپل اصلي هېواد پرېږدي او په بل هېواد کې مېشت کېږي. دوی غواړي چې د ژوند ښه شرایط ترلاسه او په اصلي هېواد کې له شته ستونزو ځان وژغوري. همدارنګه پناه اخيستونکي او کډوال دواړه په کوربه هېواد کې، د هغه هېواد د اتباعو په نسبت لږ حقوق لري او له يو شمېر حقوقو څخه محروم وي.

### دويم مطلب: د پناه اخيستونکو او کډوالو تر منځ توپيرونه

پناه اخېستونکي او کډوال د ورته والي سربېره يو شمېر توپيرونه هم لري چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

- پناه اخستوونکی اړتيا نه لري؛ کوربه هېواد ته د ننوتلو وړاندې د ياد هېواد موافقه ترلاسه کړي، نوموړی په غير قانوني ډول کوربه هېواد ته ننوځي ولې کډوال اړ دي؛ کوربه هېواد ته له ننولو وړاندې موافقه ترلاسه او په قانوني ډول ياد هېواد ته ننوځي.
- پناه اخېستونکي د سياسي، نژادي، قومي او نورو ستونزو له امله د ځورونې او شکنجې خطر سره مخ وي او مجبوراً خپل هېواد پرېږدي. په داسې حال کې چې کډوال د خپل متبوع هېواد د اقتصادي، ټولنيزو او نورو شرايطو له امله ناخوښ وي او په خپله خوښه پردي هېواد ته ځي.
- پناه اخېستونکی د خپل ژوند د ژغورنې په موخه له اصلي هېواد څخه ځي، په داسې حال کې چې کډوال د خپل ژوند شرايطو د ښه کولو او پرمختگ لپاره پردي هېواد ته ځي.
- پناه اخېستونکی په پردي هېواد کې تر پناه اخيستنې وروسته، ممکن تر يوه وخته پورې د پناه اخېستونکو د ساتنې ځانګړې ځای څخه د وتلو حق نه لري. په داسې حال کې چې کډوال هر وخت کولی شي چې د کوربه هېواد هرې برخې ته لاړ شي. (۴: ۴۷۲ – ۴۷۳ مخونه)

### درېيم مبحث: د بين المللي اسنادو له نظره د پناه اخيستونکو حقوق

پناه اخېستونکي چې د موجه وېرې له امله خپل هېواد پرېږدي، په پردي هېواد کې پناه اخلي او هلته د خپل ژوند د خونديتوب لپاره ژوند کوي، د يو شمېر حقوقو لرونکي دي چې ياد حقوق په دوه برخو ويشل کېږي. لومړی يې انساني حقوق او بيا يې ځانګړي حقوق ذکر کوو.

### لومړی مطلب - د پناه اخېستونکو انساني حقوق

پناه اخېستونکی چې د موجه وېرې له امله خپل هېواد پرېږدي او په پردي هېواد کې مېشت کېږي. په ياد هېواد کې د بنسټيزو انساني حقوقو څخه برخمن دی او کولی شي چې د انسان په توګه له يادو حقوقو څخه ګټه واخلي. د انسان بنسټيز حقوق

زيات دي، ولې موږ يې دلته څو بنسټيز حقوق ذکر کوو چې پناه اخېستونکی کولی شي ترې ګټه واخلي.

**لومړی جز - د ژوند حق**

د ژوند حق د انسان ذاتي حق دی. دا حق بايد د قانون له لوري ملاتړ شي، هېڅوک نشي کولی چې په خپلسري ډول څوک د ژوند له حق څخه محروم کړي.(۷: ٦ ماده، لومړۍ فقره)

پورته ماده ټينګار کوي چې د ژوند حق د انسان ذاتي حق دی او انسان پورې تړلی دی. دا حق د مور په ګېډه کې د حمل له دورې ثابت دی او تر څو چې انسان ژوندی وي، له دې حق څخه برخمن دی. دولتونه مکلف دي چې دا حق په خپلو داخلي قوانينو کې په رسميت وپېژني او د ساتنې لپاره يې لازم تقنيني اسناد وضع کړي. ياده ماده ټنيګار کوي چې هېڅوک نشي کولی په خپلسري ډول بل څوک د ژوند له حق څخه محروم کړي، په دې معنی چې د قانوني دلايلو او د عادلانه محاکمې د تشريفاتو له رعايت پرته هېڅوک له دې حق څخه نه محروميږي. تر دې که چېرته قانون د اعدام جزاء هم پيشبيني کړې وي، د دې مادې لومړی بند اجازه نه ورکوي چې د عادلانه محاکمې او د متهم د حقوقو له رعايت پرته دې د هغه ژوند سلب شي.

هر څوک د ژوند حق... لري. (۹: ۳ ماده)

د پورته مادې له مخې هم د ژوند حق د انساني ذاتي حق دی او انسان پورې تړلی دی. د ژوند حق د ټولو بشري حقوقو بنسټ دی؛ ځکه که چېرته ژوند نه وي، نو نور حقوق بې معنی دي، په همدې لحاظ د پورته مادې له مخې د هر چا ژوند خوندي دی او هېڅوک حق نه لري چې د قانوني جواز او عادلانه محاکمې پرته د چا ژوند واخلي.

**دويم جز - د آزادۍ او شخصي امنيت حق**

د آزادۍ او شخصي امنيت حق د طبيعی حقوقو له ډلې څخه دی او د جزايي عدالت له ډېرو مهمو بحثونو څخه ګڼل کېږي. د دې حق مبناء د آزادۍ د خپلسري سلب او غيرقانوني توقيف پر وړاندې د خلکو ملاتړ دی؛ ځکه چې د جسمي آزادۍ د نشتون

او امنيتي گواښونو د شتون په صورت کې د نورو حقوقو او آزاديو څخه برخمن کېدل متزلزل کېږي. (۱: ۸مخ)

آزادي هغه حق دی چې پر بنسټ يې افراد کولی شي له خپل طبيعي استعداد او وړتيا څخه گټه واخلي، په دې شرط چې بل چا ته زيان ونه رسوي.

امنيت هغه ډاډ دی چې پر بنسټ يې خلک په ټولنه کې د ځان، عزت، مادي او معنوي حقوقو ضايع کېدو له وېرې پرته ژوند کوي. امنيت ځان، حيثيت، مال، استوگنځای، دندې، خصوصي حريم، تگ او راتگ، خپلسري توقيف او غيرقانوني تعقيب څخه خونديتوب ته شامل دی. د بين المللي اسنادو له نظره د شخص د امنيت او آزادۍ حق په خاصه معنی د خپلسري توقيف څخه د شخص خونديتوب دی. (۲: ۱۷۲ - ۱۷۳مخونه)

هر څوک د شخصي امنيت او آزادۍ حق لري. هېڅوک نشي کولی چې بل څوک په خپلسري ډول توقيف او يا زنداني کړي.د هېچا آزادي سلبولی نشي، مگر د قانون د حکم په اساس.(۷: ۹ ماده، لومړۍ فقره)

په پورته ماده کې د انسان آزادي او د شخصي امنيت حق چې د بنسټيزو انساني حقوقو له ډلې څخه دی، تضمين شوی دی. په دې ماده کې له آزادۍ څخه موخه فزيکي آزادي ده، معنی دا چې هېڅوک بايد په خپلسري ډول توقيف نشي، که چېرته د شخص د توقيف اړتيا وي، نو بايد د قانون د احکامو له مخې توقيف شي. په دې ماده کې له شخصي امنيت څخه موخه دا ده چې هېڅوک نبايد د تيري، خپلسري توقيف، شکنجې او يا د انساني کرامت نقض لاندې واقع شي.

هېڅوک په خپلسري ډول توقيف، حبس او يا تبعيد کيدای نشي. (۹: ۹ ماده).

پورته ماده پر دې ټينگار کوي چې هېڅوک بايد خپلسري ډول، بې دليله او له قانون پرته نه ونيول شي، نه بندي شي او نه هم له خپل هېواد څخه وشړل شي، موخه يې دا ده چې هر انسان د شخصي آزادۍ او امنيت حق لري او حکومت يا بل څوک بايد د زور له لارې د هغه آزادي محدوده نکړي. که چېرته څوک له دليل او قانون پرته ونيول شي، نو دا د هغه د شخصيت سپکاوی او د انساني حقوقو ښکاره سرغړونه کڼل کېږي.په ځينو هېوادونو کې حکومتونه مخالفين يا بې گناه خلک يوازې د شخصي يا سياسي دلايلو له امله نيسي، د دې مادې له مخې د داسې حالت مخه بايد ونيول

شي. توقیف هغه وخت قانوني دی چې دلیل یې واضح، د قانون سره سم او د قاضي یا عدلي ارګانونو تر څار لاندې وي.
۱- هېڅوک باید د جبري ورکېدو ښکار نشي.
۲- هیڅ ډول استثنایي حالت، که جګړه ییز حالت وي او یا د جګړې ګواښ، د کورني سیاسي بې ثباتۍ وضعیت یا هر بل عامه بیړني حالت، د جبري ورکېدو د توجیه په توګه نشي کارول کېدای. (۵: اوله ماده)

د بین المللي حقوقو له نظره ځینې حقوق شتون لري، چې په هیڅ وجه د ځنډ او یا محدودیت وړ نه دي، د پورته مادې له مخې جبري ورکېدنه هم د شکنجې ممنوعیت، د غلامۍ ممنوعیت او د ژوند حق ته احترام په څېر ممنوع ده. د دې مادې له مخې جبري ورکېدنه له جرایمو څخه ګڼل کېږي او په هیڅ ډول حالاتو کې روا نه ده؛ ځکه د جبري ورکېدنې په صورت کې د ژوند، د انساني کرامت،له شکنجې څخه د خوندیتوب او عادلانه محاکمې ته د لاسرسي حق، چې د بنسټیزو انساني حقوقو له ډلې څخه دي، نقض کېږي. د پورته مادې له مخې د جبري ورکېدنې په اړه هیڅ استثناء شتون نلري، په دې معنی چې د جګړې، بیړنی حالت، یا ملي امنیت تر ټولو سخت حالت کې هم، هېڅوک نشي ویلی چې جبري ورکېدنه د توجیه وړ ده.
۱.هر غړی هېواد باید له دې څخه ډاډ ترلاسه کړي، هغه څوک چې ادعا وکړي، یو کس د جبري ورکېدو ښکار شوی، نوموړی باید حق ولري چې د پېښې په اړه اړوند چارواکو ته راپور ورکړي. دغه چارواکي به ادعا په چټک او بې‌طرفه ډول وڅېړي، که اړتیا وه، سمدستي به یوه داسې بشپړه او بې‌طرفه پلټنه ترسره کړي چې شکایت کوونکی، شاهدان، د ورک شوي شخص خپلوان او د هغوی مدافع وکیل، په تحقیق کې ښکېل اشخاص د شکایت یا د ورکړل شوې شاهدۍ له امله د هر ډول بد چلند یا وېرونې څخه خوندي وي.

۲.که چېرې مقنع دلایل موجود وي چې یو کس د جبري ورکېدو ښکار شوی، په لومړۍ فقره کې یاد شوي چارواکي باید له رسمي شکایت پرته هم پلټنه ترسره کړي.

۳.هر غړی هېواد باید ډاډ ترلاسه کړي چې د لومړۍ فقرې یاد شوي چارواکي:
الف) د پلټنې د اغېزمنې ترسره کېدو لپاره د اړینو واکونو او سرچینو څخه برخمن

دي، اړونده اسنادو او نورو معلوماتو ته لازم لاسرسی لري.
ب) که اړتیا وي، د قضايي مقام مخکینۍ اجازې په ترلاسه کولو سره چې باید په دې برخه ژر تصمیم ونیسي، د توقیف هر ځای یا بل داسې ځای ته لاسرسی ولري چې معقول دلایل موجود وي چې ورک شوی شخص به هلته موجود وي.

۴.هر غړی هېواد باید د هغو کړنو د مخنیوي لپاره اړین اقدامات ترسره کړي چې د پلټنې بهیر ځنډوي. په ځانګړې توګه به ډاډ ترلاسه کوي چې د جبري ورکېدو د جرم په ارتکاب تورن کسان په داسې موقف کې نه دي چې د فشار، وېروني یا غچ اخیستنې له لارې د شکایت کوونکي، شاهدانو، د ورک شوي کس خپلوانو، د هغوی مدافع وکیلانو، یا د پلټنې برخه والو پر وړاندې د پلټنې پر بهیر اغېز وکړي. (۵: ۱۲ ماده)

د پورته مادې په لومړي بند کې عدالت ته د لاسرسي حق چې د انساني حقوقو بنسټیز اصل دی، تصریح شوی او ټینګار کوي، که شکایت کوونکی په مستقیم ډول د جرم قرباني نه وي، بیا هم کولی شي چې شکایت وکړي. دا ماده دولت مکلفوي چې یوازې د شکایت ترلاسه کول بسنه نه کوي، بلکې باید ژر، بې‌طرفه او په اغېزمن ډول اجراات وکړي. د دې مادې دوهم بند دولت په مطلق ډول مکلف بولي، معنی دا چې دولت نشي کولی ووایي، چا شکایت کړی نه دی، نو ځکه موږ هم اقدام نه کوو. درېیم بند دولتونه مکلفوي چې ذیصلاح چارواکو ته ټول اړین واکونه او سرچینې په اختیار کې ورکړي، تر څو څېړنې په اغېزمنه توګه ترسره شي. څلورم بند دولتونه اړ کوي چې د قربانیانو، شاهدانو، مدافع وکیلانو او په قضیه کې د ښکیلو اشخاصو خوندیتوب تضمین کړي، چې دا د شاهدانو او قربانیانو د ساتنې اصل دی او په نړیوالو جزايي حقوقو کې ځانګړی ارزښت لري. همدارنګه دولتونه مکلفوي چې د څېړنو د مخنیوي، فشار یا غچ اخیستنې هر ډول هڅې منع او دا ډول اشخاص مجازات کړي.

**درېیم جز - د غیر انساني چلند او شکنجې منع**

هېڅوک نشي کولی چې بل څوک د شکنجې، توهین آمیزه، ظالمانه او د انسانیت خلاف مجازاتو لاندې ونیسي، په ځانګړې توګه له رضایت پرته د علمي او طبي ازمایښتونو لاندې د شخص نیول ممنوع دي. (۷: ۷ ماده)

پورته ماده شکنجه، ظالمانه، غیرانساني او توهین آمیزه چلند یا جزاء په کلکه منع کوي، موخه یې د انساني کرامت ساتنه او د فزیکي او رواني تاوتریخوالي مخنیوی دی. دا حق د ځنډ او محدودېدو وړ نه دی، په دې معنی چې په بېړنیو حالاتو کې هم دولتونه د دې بند خلاف عمل نشي کولی. همدارنګه دا ماده څرګندوي چې هېڅوک باید له خپل آزاد رضایت څخه پرته د طبي یا ساینسي تجربو لپاره استعمال نشي. دا اصل د خصوصي حریم، جسماني بشپړتیا او انساني کرامت ساتنه کوي.

هېڅوک نشي کولی چې بل څوک د شکنجې، توهین آمیزه او د انسانیت خلاف مجازاتو لاندې ونیسي.(۷: ۵ ماده)

پورته ماده د انسان فزیکي او رواني کرامت د ساتنې بنسټیز حق تضمینوي. د یادې مادې له مخې دولتونه مکلف دي چې د شکنجې، ظالمانه یا توهین آمیزه چلند هر ډول منع کړي او د قربانیانو خوندیتوب یقیني کړي. له دې مادې څخه سرغړونه مسؤولیت رامنځته کوي او د انساني حقوقو نقض ګڼل کېږي. دولتونه اړ دي چې هر ډول اداري، پولیسي یا عدلي اقدامات چې د دې مادې خلاف وي، منع او مرتکبینو ته یې جزاء ورکړي.

**څلورم جز - د تبعیض منع**

ټول اشخاص د قانون پر وړاندې برابر دي، له تبعیض پرته له قانون څخه برابره ګټه اخیستلی شي. په همدې لحاظ باید قانون هر ډول تبعیض منع او د نژاد، رنګ، جنس،ژبې، نسب، مذهب، سیاسي عقیدې پرته ټولو اشخاصو ته د برابر او مؤثر ملاتړ تضمین وکړي. (۷: ۲۶ ماده)

د پورته مادې له مخې هر شخص حق لري چې له تبعیض پرته د قانون له برابر ملاتړ څخه برخمن شي، تبعیض کیدای شي چې د نژاد، رنګ، جنس، ژبې، مذهب، سیاسي عقیدې، قومي اصل، ټولنیز حیثیت، شتمنی او یا زېږون له امله وي، په

همدې لحاظ مستقیم او غیرمستقیم تبعیض ممنوع دی. دا ماده د برابرۍ او د تبعیض نه کولو اصل تقویه کوي چې د انساني حقوقو د ټولو بنسټیزو لاسوندونو ګډه ځانګړنه ده.

هر څوک کولی شي چې د نژاد، رنګ، جنس، مذهب، سیاسي عقیدې یا د بلې عقیدې، همدارنګه قوم، ټولنیز حالت، شتمنۍ او له بل هر موقیعت پرته په دې اعلامیه کې له ذکر شوو حقوقو او آزادیو څخه ګټه واخلي. سربېره پر دې، هیڅ ډول توپیر باید د هغه هېواد یا سیمې د سیاسي، حقوقي یا بین المللي وضعیت پر بنسټ ونشي چې انسان ورسره تړاو لري، توپیر نه کوي چې یاد هېواد خپلواک وي، د قیمومیت لاندې وي، خپلواکي ونلري او یا یې حاکمیت په بل ډول محدود شوی وي. (۹: ۲ ماده)

دا ماده د نه تبعیض اصل بیانوي او څرګندوي چې هر انسان یوازې د انسان په توګه د دې اعلامیې له ټولو حقوقو او آزادیو څخه ګټه اخیستلی شي، د نژاد، رنګ، مذهب، ژبې، سیاسي عقیدې، قومي اصل، شتمنۍ، زېږون یا کوم بل حالت له مخې د تبعیض لپاره هېڅ جواز نشته. یاده ماده یوازې د اشخاصو تر منځ نه، بلکې د دولتونو د چلند لپاره هم الزامي ده. هېڅ دولت نشي کولی چې د خپلو وګړو تر منځ د مذهب، قوم، ژبې یا سیاسي نظریاتو پر بنسټ توپیري چلند وکړي. تر دې چې د یوه هېواد یا سیمې سیاسي او حقوقي وضعیت د خلکو د حقوقو د محدودولو لپاره دلیل نشي کیدلی. دا ماده تضمینوي چې هر انسان د انسانیت له امله مساوي حقوق لري او هېڅ ډول سیاسي او ټولنیز حالات نشي کولی دغه حقوق لغوه او یا محدود کړي.

**دویم مطلب - د پناه اخیستونکو ځانګړي حقوق**

په نړیوالو اسنادو کې پناه اخېستونکي د بنسټیزو انساني حقوقو سربېره یو لړ ځانګړي حقوق هم لري چې دا حقوق د هغوی د ځانګړي حالت له امله هغوی ته ورکول کېږي. د پناه اخېستونکو ځانګړي حقوق په لاندې ډول ذکر کوو.

**لومړی جز - د پناه غوښتلو حق**

هر څوک حق لري چې د تعقیب، شکنجې او ځورونې له امله د پناه اخیستنې په لټه کې شي او په بل هېواد کې پناه غوره کړي. (۹: ۱۴ ماده، لومړۍ فقره)

د پورته مادې له مخې پرته له دې چې د یو چا تابعیت، نژاد، مذهب، جنسیت او یا سیاسي فکر په پام کې ونیول شي، پناه غوښتنې له حق څخه برخمن دی. دا بنسټیز انساني حق د ژوند، امنیت او آزادۍ د ساتنې تضمین کوي. د دې مادې له مخې هر څوک کولی شي چې په بهرني هېواد کې د پناه غوښتنه وکړي، ولې متقاضي عنه هېواد مکلف نه دی چې دا غوښتنه ومني. دا حق د سیاسي مخالفینو، مذهبي لږه کیو او هغو خلکو لپاره ډېر مهم دی چې د خپلې عقیدې او یا نظر له امله ځورول کېږي.

**دویم جز - د نه شړلو حق**

هېڅ متعاهد هېواد نشي کولی چې پناه اخیستونکی هغه هېواد ته تبعید او یا وشړي چې د نژاد، ملیت، په ځانګړو ټولنیزو ډلو کې د غړیتوب او یا د سیاسي عقیدې له امله په یاد هېواد کې د نوموړي آزادي او ژوند په خطر کې وي. (٦: ٣٣ ماده، لومړۍ فقره)

دا بند د نړیوالې پناه اخېستنې په برخه کې مهم اصل دی. د دې بند له مخې هېڅ غړی هېواد حق نه لري چې پناه اخېستونی په داسې ډول بېرته واستوي او یا یې وشړي چې هلته د نوموړي ژوند او آزادي له جدي خطر سره مخ وي. د ژوند او آزادۍ ګواښ د نژاد، مذهب، تابعیت، په ځانګړو ټولنیزو ډلو کې غړیتوب او یا د سیاسي عقیدې لرلو له امله رامنځته کېږي. سره له دې چې په عادي ډول هر دولت د دې واک لري چې د بهرنیانو د پاتې کېدو او شړلو په اړه پرېکړه وکړي، ولې د دې بند له مخې په دې برخه کې د دولت حاکمیت محدود شوی او د انساني حقوقو د نړیوالو اصولو تابع ګرځول شوی دی.

که چېرته داسې قانع کوونکي دلایل شتون ولري چې یو شخص به د شکنجې لاندې واقع شي، هېڅ غړی هېواد نباید د هغه پر ایستلو، ستنولو او یا استرداد لاس پورې کړي. (١٠: ٣ ماده، لومړۍ فقره)

دا بند د نه شکنجې اصل بیانوي، معنی دا چې هېڅ هېواد حق نه لري یو شخص بېرته هغه هېواد ته واستوي چېرته چې نوموړی د شکنجې له ګواښ سره مخ شي. دې اصل موخه د انساني کرامت او د بدن امنیت ساتنه ده. غړي دولتونه د دې بند په رعایت مکلف دي. هېڅ دولت نشي کولی چې د داخلي قانون، سیاسي فشار، ملي

امنیت یا نورو دلایلو پر بنسټ د شکنجې له خطر سره مخ شخص بېرته ولېږي. د دې بند له مخې د شکنجې ګواښ شتون باید د مقنع دلایلو پر بنسټ وي. که چېرته شک او یا احتمالي خطر موجود وي او داسې معتبر شواهد موجود نه وي چې څرګنده کړي، نوموړی شخص د شکنجې له جدي ګواښ سره مخ دی، نو په دې صورت کې کوربه هېواد کولی شي نوموړی وشړي.

**درېیم جز - د خپلسري شړلو پر وړاندې ساتنه**

**۱-** متعاهد دولتونه به هغه پناه اخېستونکی چې په قانوني ډول د دوی په خاوره کې مېشت وي، د اخراج پرېکړه نه کوي، مګر د ملي امنیت یا عامه نظم اړوند دلایلو د شتون په صورت کې؛

۲- د داسې پناه اخېستونکي اخراج یواځې د هغې پرېکړې له مخې ترسره کېږي چې په قانوني ډول یې پروسه ترسره شوې وي. مګر که چېرته د ملي امنیت یا عامه نظم اړوند موجه دلایل شتون ولري، پناه اخېستونکي ته باید اجازه ورکړل شي ، تر څو د ده پر وړاندې لګېدلي تورونه دفع او خپله بې ګناهي ثابته کړي.

۳- متعاهد دولتونه به داسې پناه اخېستونکي ته مناسبې مودې لپاره اجازه ورکوي، تر څو بل هېواد ته د قانوني ننوتلو فرصت پیدا کړي، په دې موده کې متعاهد دولتونه حق لري چې هغه داخلي تدابیر عملي کړي چې دوی یې اړین ګڼي. (٦: ۳۲ ماده)

د پورته مادې لومړی بند د پناه اخېستونکو د ژوند او آزاد تګ راتګ حق خوندي کوي. متعاهد دولتونه نشي کولی چې پناه اخېستونکی له خپلې خاورې څخه وباسي، ولې د نه ایستلو حق مطلق نه دی، که چېرته د کوربه هېواد ملي امنیت یا عامه نظم ته جدي ګواښ وي، په دې صورت کې متعاهد دولتونه د پناه اخېستونکو د اخراج حق لري. دوهم بند ټینګار کوي چې د پناه اخېستونکو هر ډول اخراج باید د قانوني او شفافې پروسې له لارې ترسره شي. پناه اخېستونکی د محکمې د پرېکړې پر وړاندې د استیناف او دفاع حق لري، تر څو ځان بې ګناه ثابت کړي. درېیم بند پناه اخېستونکو ته حق ورکوي چې بل هېواد ته باید د قانوني داخلېدو فرصت ولري، تر څو د اخراج له ناوړه پایلو څخه خوندي پاتې شي.

**څلورم جز- د هويت پاڼې او مسافرت اسنادو لرلو حق**

متعاهد دولتونه د هغو پناه اخيستونکو لپاره چې د هغوی په خاوره کې ژوند کوي او د مسافرت معتبر اسناد نلري، هويت پاڼې صادروي.(٦: ٢٧ ماده)

د پورته مادې له مخې هر پناه اخېستونکی چې په يوه هېواد کې مېشت وي او معتبر اسناد ونلري، کوربه دولت بايد پېژندپاڼې ورکړي؛ ځکه پېژندپاڼې د پناه اخېستونکي حقوقي شخصيت او قانوني شتون ته رسمي بڼه ورکوي. د دې پېژندپاڼې پر بنسټ پناه اخېستونکی کولی شي کوربه هېواد کې د استوګنې، کار کولو، زده کړو، روغتيايي خدمتونونو او له داسې نورو حقوقو څخه ګټه واخلي. همدارنګه د پوليسو او اداري ارګانونو پر وړاندې خپل هويت ثابت کړي او د بې اسنادۍ له ستونزو څخه ځان وژغوري. د کنوانسيون موخه دا ده چې پناه اخېستونکی بايد لږ تر لږه د هويت د تثبيت اسناد ترلاسه او د نامعلوم شخص په توګه ونه پېژندل شي.

متعاهد دولت د هغو پناه اخېستونکو لپاره چې په منظم ډول د دوی په خاوره کې ژوند کوي، بهر ته د تللو په موخه د مسافرت اسناد صادروي. ولې په هغه صورت کې دا اسناد نه صادريږي چې آمرانه دلايل له عمومي نظم او ملي امنيت سره په ټکر کې وي.(٦: ٢٨ ماده، لومړۍ فقره)

د پورته مادې له مخې د کنوانسيون غړي هېوادونه مکلف دي چې هغو پناه اخېستونکو ته چې په قانوني ډول د د وی په خاوره کې مېشت شوي دي، د سفر اسناد ورکړي. د سفر دا سند پاسپورټ نه دی، ولې له ياد هېواد څخه پرې بهر ته سفر کولی شي. دا سند د پناه اخېستونکو د تګ راتګ حق د تأمين لپاره خورا اړين دی. دولتونه يوازې هغه وخت کولی شي د دې سند له صادرولو څخه ډډه وکړي چې د ملي امنيت يا عامه نظم اړوند مقنع او جدي دلايل شتون ولري.

**پنځم جز - د غيرقانوني ننوتلو اړوند جزايي مصونيت حق**

پناه اخيستونکی ډېری مهال د قانوني اجازې، قانوني اسنادو او ويزې پرته له پولو څخه تېريږي او پردي هېواد ته داخليږي، په داسې حال کې چې له ويزې او قانوني اسنادو پرته بل هېواد ته ننوتل جرم او د مجازاتو وړ عمل دی. پناه اخيستونکي د ١٩٥١زېږديز کال کنوانسيون له مخې د مجازاتو وړ نه دي او په دې برخه کې جزايي مصونيت لري. البته بل هېواد ته د غيرقانوني ننوتلو اړوند جزايي مصونيت يوازې پناه

اخیستونکو پورې اړه لري او بل څوک ترې ګټه اخیستلی نشي. پناه اخیستونکی هغه وخت له دې جزايي مصونیت څخه ګټه پورته کولی شي چې مستقیماً له هغه هېواد څخه وتلی وي، په کوم کې چې د نوموړي ژوند او آزادي په خطر کې وه او منوونکي هېواد ته یې پناه راوړې وي، د پناه اخیستنې د غوښتنې او د خطر لاندې هېواد څخه د وتلو تر منځ یې ډېر وخت تېر شوی نه وي او همدارنګه د غیرقانوني ننوتلو اسنادو نلرل، په قانع کوونکي ډول تشریح کړي. (۳: ۵۷ -۵۹ مخونه)

متعاهد دولتونه هغو پناه اخیستونکو ته په دې شرط د غیر قانوني راتګ له امله چې په خپل هېواد کې یې ژوند او آزادي په خطر کې وه، مجازات نه ورکوي، چې له ځنډه پرته ځان اړوند چارواکو ته ور وپېژني او خپل غیرقانوني راتګ او اوسېدنې په اړه قانع کوونکي دلایل وړاندې کړي. (٦: یو دېرشمه ماده، لومړۍ فقره)

**درېیم مطلب - د پناه اخیستونکو اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي حقوق**

پناه اخېستونکي په کوربه هېواد کې د یو شمېر اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقوقو لرونکي دي چې په لاندې ډول یې ذکر کوو.

**لومړی جز - د کار حق**

۱- متعاهد دولتونه باید له هغو پناه اخېستونکو سره چې د دوی په قلمرو کې په قانوني ډول اوسېږي، د بامزده کار په برخه کې د هغو بهرنیو وګړو په څېر غوره چلند وکړي، کوم چې له دوی سره ورته شرایط لري.

۲- که هر ډول محدودکوونکي تدابیر د بهرنیانو پر ګمارنه یا د ملي کار بازار د ساتنې لپاره لګول شوې وي، دا به پر هغه پناه اخېستونکي نه تطبیقېږي چې د دې کنوانسیون د تطبیق له نېټې وړاندې یې له دې محدودیتونو څخه معافیت ترلاسه کړی وي، یا دا لاندې شرایط پوره کړي:

الف: په کوربه هېواد کې درې کاله اوسېدلی وي.

ب: د مېرمن د اوسېدنې هېواد تابعیت ولري، که چېرته یې مېرمن پرېښې وي، نو په دې صورت کې دا شرط د پلي کېدو وړ نه دی.

ج: یو یا څو اولادونه یې د اوسېدنې هېواد تابعیت ولري.

۳- متعاهد دولتونه به د پناه اخېستونکو د حقوقو د تأمین لپاره هڅه کوي، تر څو د بامزده کار په برخه کې د هغوی د وګړو په څېر حقوق ترلاسه کړي، په ځانګړې توګه

هغه پناه اخېستونکی چې د کار ګمارنې د پروګرامونو یا مهاجرتي تګلارو له مخې دې هېواد ته داخل شوی وي. (٦: ١٧ ماده)

پورته ماده د پناه اخېستونکي د کار کولو حق تأییدوي او متعاهد دولتونه اړ کوي، څو له هغو پناه اخېستونکو سره چې په قانوني ډول د دوی په خاوره کې مېشت وي، د کار په برخه کې د نورو بهرنیو وګړو په څېر غوره چلند وکړي. معنی دا چې پناه اخېستونکي د پناه اخېستنې په سبب د کار له حق څخه محروم کېدای نشي. دا ماده د پناه اخېستونکو د کار کولو حق پېژني او ټینګار کوي چې د کار په برخه کې دې له پناه اخېستونکو سره د بهرنیو وګړو په څېر غوره چلند وشي، د کار ملي بازار د ساتنې لپاره پر بهرنیو وګړو کاري محدودیتونه لګوي، ولې هغه پناه اخېستونکی له دې محدودیتونو څخه مستثنا کوي چې د کنوانسیون له نافذېدو وړاندې مستثناء شوی وي او یا د کنوانسیون د انفاذ پر مهال مستثنی نه وو، ولې درې کاله په پرلپسې ډول په کوربه هېواد کې اوسېدلی، یا له زوجینو څخه یو یې د کوربه هېواد تابعیت لري او یا دا چې یو یا څو اولادونه یې د کوربه هېواد وګړي وي، دا هم له کاري محدودیتونو څخه مستثنی دی. همدارنګه یاده ماده ټینګار کوي چې متعاهد دولتونه باید د کار په برخه کې له پناه اخېستونکو سره د خپلو وګړو په څېر غوره چلند وکړي، په ځانګړي ډول د هغو پناه اخېستونکو په برخه کې چې د کار ګمارنې د پروګرامونو او یا د پناه اخېستنې پالیسۍ له مخې دې هېواد ته ورغلي دي. البته د کار په برخه کې له پناه اخېستونکو سره د خپلو وګړو په څېر چلند یو سیاسي او اخلاقي مکلفیت دی، نه حقوقي. معنی دا چې متعاهد دولتونه هڅول کېږي چې پناه اخېستونکو ته د خپلو وګړو په څېر د کار حقوق ورکړي.

متعاهد دولتونه به له هغو پناه اخېستونکو سره چې په قانوني ډول د دوی په قلمرو کې اوسېږي، د کرنې، صنعت، لاسي صنایعو، سوداګرۍ، سوداګریزو او صنعتي شرکتونو د جوړولو په برخه کې تر ټولو غوره چلند کوي، چې دا چلند به د بهرنیو وګړو له چلند څخه، چې له دوی سره یو ډول شرایط لري، کم نه وي. (٦: ١٨ ماده)

پورته ماده متعاهد دولتونه مکلفوي، څو هغو پناه اخېستونکو ته چې په قانوني ډول په کوربه هېواد کې مېشت وي، د آزاد او خپلواکه کار په برخه کې هغه اسانتیاوې چمتو کړي، چې نورو بهرنیو وګړو ته ورکول کېږي. د دې مادې له مخې پناه

اخېستونکي کولی شي چې په کرنه، صنعت او نورو برخو کې پانګونه وکړي. په دې کار سره پناه اخېستونکي اقتصادي خپلواکي ترلاسه کوي او پر دولت يې تکيه کميږي. کوربه هېواد ته اقتصادي ګټه رسېږي، د کار او توليد فرصتونه ورسره زياتيږي او پناه اخېستونکی د کوربه ټولنې په اقتصادي او ټولنيز ژوند کې په اسانۍ سره مدغم کېږي.

۱- هر متعاهد دولت به هغو پناه اخېستونکو ته چې په قانوني ډول يې په قلمرو کې استوګنه لري او د ياد دولت د واک لرونکو ادارو له لوري تصديق شوي اسناد له ځان سره لري او غواړي چې په آزاد مسلک کې کار وکړي، تر ټولو غوره چلند برابروي، داسې چې دا چلند به د بهرنيو وګړو له چلند څخه چې په ورته شرايطو کې قرار لري، کم نه وي.

۲- متعاهد دولتونه هڅه کوي چې هغو پناه اخېستونکو سره هم ورته چلند وکړي کوم چې په قانوني ډول د دوی په قلمرو کې نه اوسېږي، په دې شرط چې د کار په اړه يې د اوسېدو هېواد لازم شرايط رعايت کړي وي. (٦: ١٩ ماده)

د پورته مادې د حکم له مخې هغه پناه اخېستونکي چې د متعاهد دولت په قلمرو کې په قانوني ډول مېشت وي او د هغه دولت د واک لرونکو چارواکو له لوري ورته تصديق شوي علمي او مسلکي سندونه ورکړل شوي وي، که دوی غواړي په يوه آزاد مسلک کې کار وکړي، متعاهد دولتونه مکلف دي چې د نورو بهرنيانو په څېر ورسره ښه چلند وکړي. پناه اخېستونکي د پناه اخېستنې په سبب په مسلکي برخه کې د کار له حق څخه نه محروميږي، کوربه دولتونه مکلف دي چې ښه چلند ورسره وکړي. په دې ماده کې له خپلو وګړو سره د چلند پر ځای له بهرنيانو سره چلند د معيار په توګه ټاکل شوی دی، معنی دا چې که په کوم هېواد کې بهرنی وګړی د خپل ډيپلوم پر بنسټ د طبابت او يا انجينرۍ په برخه کې د کار کولو اجازه ترلاسه کوي، نو پناه اخېستونکی هم بايد د دې حق لرونکی وي. د دې مادې له مخې دولت مکلف نه دی چې د کار په برخه کې له پناه اخېستونکو سره د خپلو وګړو په څېر چلند وکړي. دا ماده د پناه اخېستونکو د عملي او مسلکي وړتياوو قانوني تضمين کوي او د هغوی مسلکي هويت خوندي کوي. کوربه هېواد ته دا فرصت ورکوي چې په اقتصادي او ټولنيز پرمختګ کې د پناه اخېستونکو له کادرونو څخه ګټه پورته کړي.

د دې میثاق غړي هېوادونه د کار کولو حق په رسمیت پېژني، د دې حق له مخې هر انسان باید دا فرصت ولري چې د خپل ژوند اړتیاوې د داسې کار له لارې پوره کړي چې هغه په آزاد ډول غوره کړی یا منلی وي او دولتونه به د دې حق د خوندیتوب لپاره مناسب ګامونه اخلي. (۸: شپږمه ماده، لومړی فقره)

پورته ماده کې د کار حق چې د انسان بنسټیز حق دی، په رسمیت پېژندل شوی دی. هر څوک حق لري چې د خپل مسلک له مخې ځانته کار انتخاب کړي. دولت مکلف دی چې د خلکو د کار د انتخاب پر وړاندې اجباري محدودیتونه وضع نه کړي او عادلانه، خوندي او د انساني آزادۍ مطابق د کار شرایط برابر کړي.

۱- هر انسان د کار حق لري، په آزاد ډول ځانته کار وټاکي، د خپلې خوښې د عادلانه کاري شرایطو حق لري او د بې روزګارۍ پر وړاندې د ملاتړ حق لري.

۲- هر څوک له هر ډول تبعیض څخه پرته د مساوي کار پر وړاندې د مساوي مزد مستحق دی.

۳- هر څوک چې کار کوي، د داسې عادلانه او مناسب مزد مستحق دی چې هغه او د هغه کورنۍ ته انساني پتمن ژوند تضمین کړي او د اړتیا په صورت کې دې د ټولنیز ملاتړ وسایلو له لارې بشپړ شي.

۴- هر څوک د دې حق لري چې د خپلو ګټو د ساتنې لپاره اتحادیې جوړې او یا ور پورې ځان وتړي. (۹: ۲۳ ماده)

د دې مادې د لومړي بند له مخې اجباري کار ممنوع دی، هر څوک کولی شي په خپله خوښه ځانته کار وټاکي. دولت مکلف دی چې د بېکارۍ د مخنیوي لپاره کاري فرصتونه رامنځته کړي؛ ځکه د کار کولو حق د ژوند د بقا او انساني کرامت ساتنې تضمین کوونکی دی. دوهم بند د کارکوونکو تر منځ د نژاد، جنس، مذهب، قوم، ژبې او ملیت پر بنسټ توپیر کول غیرقانوني تبعیض بولي او ټینګار کوي چې هر څوک باید د مساوي کار پر وړاندې متناسب مزد ترلاسه کړي. دریېم بند پر دې ټینګار کوي چې د کارکوونکي مزد باید په داسې کچه وټاکل شي چې د هغه او د نومووړي د کورنۍ د ژوند پایښت او انساني کرامت ضمانت وکړي. په دې معنی چې د کارکوونکي مزد باید په دې کچه وټاکل شي چې د خوراک، پوښاک، روغتیا، زده کړو او سرپناه لپاره بسنه وکړي. څلورم بند د کارکوونکو د حقوقو د خوندیتوب لپاره د

اتحاديو جوړول او له اتحاديو سره د کارکوونکو يو ځای کېدل د حق په توګه پېژني؛ ځکه د اتحاديو جوړول د کارکوونکو د حقوقو د تأمين مهمه وسيله ده.

**دويم جز - د زده کړې حق**

١- متعاهد دولتونه بايد له پناه اخيستونکو سره د لومړنيو زده کړو په برخه کې د خپلو وګړو په څېر چلند وکړي.

٢- متعاهد دولتونه بايد له پناه اخيستونکو سره د نورو زده کړو په برخه کې هم د بهرنيو وګړو په څېر چې ورته شرايط ولري، چلند وکړي. (٦: ٢٢ ماده)

د پورته مادې لومړی بند د برابرۍ پر اصل راڅرخي؛ ځکه پناه اخيستونکی ماشوم بايد د کوربه هېواد د ماشوم په څېر ښوونځي ته لاړ شي او د زده کړو فرصت له لاسه ورنکړي. د دې بند له مخې متعاهد دولتونه مکلف دي چې پناه اخيستونکو ته د لومړنيو زده کړو زمينه برابره کړي. دوهم بند پر نه تبعيض اصل ولاړ دی؛ ځکه چې پناه اخيستونکي د خپل حالت له امله له زده کړو څخه محروم کيدای نشي. د دې بند له مخې دولتونه حق نه لري چې د پناه اخيستونکو ماشومانو ته د لومړنيو زده کړو په برخه کې خنډونه جوړ او يا په دې برخه کې توپيري چلند وکړي.

١- د دې ميثاق لاسليکوونکي دولتونه د هر انسان د زده کړې حق پېژني، هغوی هوکړه کوي چې زده کړې بايد د انسان د شخصيت د بشپړې ودې او د هغه د کرامت احساس د پياوړتيا لپاره وي، د انساني حقوقو او بنسټيزو آزاديو درناوی بايد پياوړی کړي. دوی دا هم منلې چې زده کړې بايد ټولو خلکو ته دا توان ورکړي چې په آزاده ټولنه کې فعاله ونډه واخلي، د ټولو ملتونو، نژادي، قومي او مذهبي ډلو تر منځ تفاهم، زغم او دوستۍ ته وده ورکړي او د ملګرو ملتونو د سولې ساتنې هڅې پياوړې کړي.

٢- لاسليک کوونکو هېوادونو دا هم منلې چې د دې حق د بشپړ تحقق لپاره بايد لاندې کړنې ترسره شي:

الف: لومړنۍ زده کړې بايد اجباري او د ټولو لپاره وړيا شي.

ب: ثانوي زده کړې(عمومي، تخنيکي يا مسلکي) بايد ټولو ته په معقولو لارو چمتو او د لاسرسي وړ وي؛ په ځانګړې توګه د وړيا زده کړو د تدريجي تطبيق له لارې.

ج: لوړې زده کړې بايد د وړتيا پر بنسټ ټولو ته په برابره توګه د لاسرسي وړ وي؛ په ځانګړې توګه د وړيا زده کړو د تدريجي تطبيق له لارې.

د: بنسټیز تعلیم ته باید هغه کسان وهڅول شي چې ابتدایي زده کړې یې ترلاسه کړې نه وي او یا یې بشپړې کړې نه وي. (٨: ١٣ ماده)

د پورته مادې د لومړي بند له مخې د میثاق غړي هېوادونه د زده کړې حق په رسمیت پېژني. د دې بند له مخې زده کړې یوازې د مهارتونو د زده کړې وسیله نه ده، بلکې د انساني شخصیت ودې ته هم زمینه برابروي. همدارنګه انساني حقوقو او بنسټیزو آزادیو درناوي ته هم لاره هواروي. د دې بند له مخې زده کړې د ټولنیز ادغام او سولې وسیله ګڼل شوې ده. د دوهم بند د لومړۍ فقرې له مخې لومړنۍ زده کړې د ماشومانو لپاره مطلق مکلفیت ګڼل شوی او دولت مکلف دی چې له توپیري چلند پرته یې ټولو ته په وړیا ډول برابرې کړي. دوهمې او درېیمې فقرې له مخې دولتونه مکلف دي چې خپلو امکاناتو ته په کتو؛ په وړیا ډول د تدریجي تطبیق له لارې خلکو ته د منځنیو او لوړو زده کړو فرصت برابر کړي. هغه خلک چې لومړنۍ زده کړې یې کړې نه وي او یا ترې پاتې وي، په وړیا ډول د زده کړو زمینه برابره کړي، تر څو د هغوی انساني کرامت اعاده شي.

**درېیم جز - روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي حق**

هغو هیوادونو چې دا کنوانسیون یې لاسلیک کړی، باید هغو پناه‌اخیستونکو سره چې په قانوني ډول د دوی په خاوره کې ژوند کوي، د عامه مرستو او ملاتړ له اړخه هماغه ډول چلند وکړي لکه څنګه چې یې له خپلو اتباعو سره کوي.(٦: ٢٣ ماده)

پورته ماده په حقوقي لحاظ د برابرۍ او نه تبعیض پر اصولو راڅرخي. د پناه اخیستونکو د ټولنیزو او اقتصادي حقوقو  د دې مادې حکم یوازې پر هغه پناه اخیستونکو چې په قانوني ډول په کوربه هېواد کې مېشت وي، تطبیق کېږي. متعاهد دولتونه مکلف دي چې د عامه مرستو او ملاتړ په برخه کې له پناه اخېستونکو سره د خپلو وګړو په څېر چلند وکړي او پناه اخیستونکي د پناه اخیستنې د حالت له امله له مرستو او ملاتړ څخه محروم نه کړي. متعاهد دولت کولی شي چې مستحق اشخاص په ګوته کړي او هغوی ته لازمه مرسته او ملاتړ ورکړي. غیرقانوني پناه اخېستونکي د دې مادې له حکم لاندې نه راځي.

۱ .د دې میثاق لاسلیک کوونکي هېوادونه د هر انسان لپاره دا حق مني چې د فزیکي او ذهني روغتیا تر ټولو لوړ معیار څخه برخمن وي.

۲. د دې حق د بشپړ تحقق لپاره، لاسلیک کوونکي هېوادونه باید لاندې اقدامات ترسره کړي:
الف) د مړ زېږېدو او د ماشومانو د مړینې د کچې کمول او د ماشومانو سالم پرمختګ ته زمینه برابرول؛
ب) د چاپېریالي او صنعتي حفظ الصحې ټولو اړخونو ښه‌والی؛
ج) د وبا، حرفوي او نورو ناروغیو مخنیوی، درملنه او کنټرول؛
د) د داسې شرایطو رامنځته کول چې هر څوک د ناروغۍ پر مهال طبي خدمتونو او پاملرنې ته لاسرسی ولري.(۸: ۱۲ ماده)

د پورته مادې له مخې د روغتیا حق د انسان بنسټیز حق ګڼل شوی او دولت یې مکلف کړی چې د خلکو د فزیکي او ذهني روغتیا لپاره لوړ معیار چمتو کړي، ولې دا الزامیت مطلق نه دی، دولت مکلف دی چې خپلو امکاناتو ته په پام سره لوړ معیار تأمین کړي. د دې مادې له مخې دولتونه مکلف دي چې د ماشومانو د مړینې کچې د کمولو لپاره لازم اقدامات ترسره کړي، لکه د واکسینونو پروګرامونو تطبیق، د امیدوارو مېرمنو پاملرنه، د زېږون پر مهال د روغتیایي خدماتو وړاندې کول او نور. د پورته مادې له مخې دولتونه مکلف دي چې د روغتیا د تضمین لپاره چاپیریالي ښه والي ته هم پام وکړي، د ښېلګې په توګه پاکې اوبه برابرې، د هوا ککړتیا کنټرول او خوندي کاري شرایط رامنځته کړي. د نړیوالو روغتیایي ادارو سره په همغږۍ د ساري او موسمي ناروغیو پر وړاندې مبارزه وکړي ، د ناروغۍ پر مهال خلک روغتیایي خدماتو ته لاسرسی ولري او روغتیایي خدماتو ته د لاسرسي په برخه کې له توپیري چلند څخه ډډه وشي.

**څلورم جز - د ټولنیز تأمین حق**

د دې میثاق غړي هېوادونه د هر شخص لپاره ټولنیز خوندیتوب چې ټولنیزه بیمه هم پکې شامله ده، په رسمیت پېژني. (۸: ۹ ماده)

هر څوک د ټولنې د غړي په توګه حق لري چې له ټولنیز تأمین څخه برخمن وي او د دې حق لري چې د هر دولت له منابعو سره سم، د ملي هڅو او بین المللي همکارۍ له لارې هغه نه سلبېدونکي اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي حقوق چې د نوموړي د حیثیت او شخصیت د ودې لپاره اړین وي، ترلاسه کړي. (۹: ۲۲ ماده)

د پورته مادې له مخې ټول انسانان د ټولنیز تأمین او له اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقوقو څخه برخمن دي. دولتونه نه یوازې په دې برخه کې ملي مکلفیت لري، بلکې مکلف دي چې د انساني کرامت د خوندیتوب او شخصیت د ودې لپاره هم په بین المللي کچه همکاري وکړي او په دې برخه کې لازم شرایط برابر کړي.

**پنځم جز - د اوسېدو مناسب ځای**

د دې میثاق غړي هېوادونه هر انسان او د هغه کورنۍ ته د برابر ژوند کچه چې مناسب خواړه، لباس او استوګنځای پکې شامل وي، د حق په توګه پېژني، غړي هېوادونه به د دې حق د تحقق لپاره لازم اقدامات وکړي او په دې برخه کې د آزاد رضایت پر بنسټ د نړیوالې همکارۍ بنسټیز اهمیت پېژني. (۸: ۱۱ ماده، لومړۍ فقره)

د پورته مادې له مخې هر انسان حق لري چې د ژوند مناسب شرایط ولري. دولتونه مکلف دي چې د خپلو امکاناتو په حدودو کې د دې حق د تحقق لپاره اقدامات ترسره کړي. د پورته مادې له مخې د دې حق بشپړ تحقق یوازې د یوه دولت په انفرادي هڅو پورې محدود نه دی، بلکې دولتونه دې په رضاکارانه ډول په دې برخه کې همکاري وکړي او دا همکاري کولی شي د مرستو، نړیوالو پروژو او نړیوالو ادارو له لارې عملي شي. په دې ماده کې د دولتونو ملي حاکمیت ته درنښت ښودل شوی، پر هېوادونو یې د مرستې کول جبري کړي نه دي، بلکې مرستې یې د هغوی په رضایت پورې منحصر کړې دي.

**شپږم جز - فرهنګي ګډون**

۱- هر څوک حق لري چې په آزاد ډول د خپلې ټولنې په فرهنګي ژوند کې ګډون وکړي، له هنرونو څخه یې برخمن شي، په علمي پرمختګ کې ونډه واخلي او له ګټو څخه یې برخمن شي.

۲- هر څوک حق لري چې له علمي، ادبي او هنري تولیداتو څخه یې تر لاسه شوې مادي او معنوي ګټې خوندي شي.

۱- د دې میثاق غړي هېوادونه په لاندې برخو کې د هر چا حق په رسمیت پېژني:
الف) په فرهنګي ژوند کې ګډون. (۸: ۱۵ ماده، لومړۍ فقره)

د پورته مادې له مخې هر انسان حق لري چې د خپل هېواد او ټولنې په فرهنګي ژوند کې برخه واخلي، معنی دا چې هېڅوک باید د کلتوري فعالیتونو، مذهب یا هنري څرګندونو کې له ګډون څخه منع نشي. دولت مکلف دی چې د ټولو خلکو لپاره فرهنګي امکانات برابر کړي او له تبعیض څخه ډډه وکړي.

**پایله**

پناه اخیستونکي ته د مذهب، نژاد، ملیت، سیاسي عقیدې او په ځانګړو ټولنیزو ډلو کې د غړیتوب له امله پر هېواد حاکم وضعیت د زغم وړ نه وي او د همدې نه زغم له امله وېره لري، چې د حاکم نظام له لوري به تعقیب، ځان، مال او آزادي به یې له خطر سره مخ شي، نو ځکه اړ کېږي، چې د مال، ځان، آزادۍ او عزت د خوندیتوب لپاره په بل هېواد کې ژوند غوره کړي. په پخوا وختونو کې د پناه اخېستونکو د حقوقي وضعیت په اړه په نړیوالو اسنادو کې صراحت موجود نه و، د نړیوالو انساني حقوقو اړوند اسنادو له مخې پناه اخېستونکي ته د انسان په توګه ځینې حقوق منل شوي و، ولې ځانګړي حقوق یې پکې مشخص نه و. په ۱۹۵۱ کال د پناه اخېستونکو د حالت اړوند کنوانسیون رامنځته شو، چې په یاد کنوانسیون کې د پناه اخېستونکو ځانګړي حقوق ذکر شوي وو او کوربه دولتونو ته یې پکې مسؤولیتونه هم راجع کړي وو. د انساني حقوقو اړوند نړیوالو اسنادو له مخې په کوربه هېواد کې پناه اخېستونکي د نورو انسانانو په څېر له بنسټیزو انساني حقوقو څخه برخمن دي. ژوند یې خوندي، انساني کرامت یې پر ځای، د قوانینو په رڼا کې له آزادۍ څخه برخمن دي. د حقوقو د لاسته راوړلو او ضایع کېدو په صورت کې د کوربه هېواد عدلي او قضایي ارګانونو ته د مراجعې حق لري او کولی شي کوربه هېواد کې له روغتیایي خدمتونو څخه ګټه واخلي. همدارنګه له شکنجې څخه خوندي او هېڅوک ورسره غیرانساني چلند او تبعیض نشي کولی. پناه اخېستونکي د نړیوالو اسنادو له نظره کولی شي دخوښې وړ هېواد ته د پناه اخیستنې په موخه مراجعه وکړي. په کوربه هېواد کې د هویت پاڼې او مسافرت اسنادو د لرلو حق څخه برخمن دي. کوربه هېواد حق نه لري چې پناه اخېستونکي د ناقانونه ننوتلو له امله محاکمه او مجازات کړي او همدارنګه نشي

کولی چې پناه اخېستونکي له خپل هېواد څخه په جبري ډول وشړي. پناه اخېستونکي په کوربه هېواد کې د کار، زده کړې، استوګنځای لرلو او کوربه هېواد کې په فرهنګي غونډو کې د ګډون حق لري.

**وړاندیزونه**

په بين المللي حقوقي اسنادو کې پناه اخېستونکو د بشري او ځانګړو حقوقو له څېړنې وروسته د افغانستان اسلامي امارت او د کډوالی اړوند نړیوالو بنسټونو په لاندې ډول وړاندیز کېږي:

۱- د کډوالو او بېرته را ستنېدونکو چارو وزارت دې د رسنیو له لارې د پناه اخېستنې د واقیعتونو په اړه د عامه پوهاوي برنامې په لاره واچوي، د هغو خلکو تجربې چې د پناه اخېستنې پر مهال له ستونزو سره مخ شوي دي، له خلکو سره شریکې کړي او همدارنګه د دیني علماء کرامو، مشرانو او پوهانو له لارې دې د وطن پالنې ارزښت ترویج کړي.

۲- ایران او پاکستان چې افغان کډوال پکې مېشت دي، دوی له افغان کډوالو سره سیاسي چلند کوي، دوی له بشري او د پناه اخېستنې اړوند ځانګړو حقوقو څخه محروموي، په داسې حال کې ایران، پاکستان او افغانستان د پناه اخېستونکو د حالت اړوند ۱۹۵۱ ز. کال کنوانسیون غړي هېوادونه دي، د پناه اخېستونکو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري او مهاجرت نړیوال سازمان دې له یادو هېوادونو سره په دې اړه جدي خبرې وکړي چې د پناه اخېستنې موضوع بشري اړخ لري، په دې برخه کې باید سیاسي چلند ونکړي او پناه اخېستونکو ته دې د هغوی بشري او د پناه اخېستنې اړوند ځانګړي حقوق برابر کړي.

**ماخذونه**

۱. اسمعیل پور،حامد و شریعت باقري، محمد جواد. "کاوش در مفهوم و جایگاه حق آزادی و امنیت شخصی"، مجله حقوقی دادگستری، شماره ۷۸، شماره مسلسل ۸۶،هـ.ش، ۱۳۹۳ش. دسترسي: http://www.jlj.ir/article_۱۱۳۱۵.html مراجعه: [۱۴۰۴/۵/۱۲]

۲. حاتم صادقی زیازی و مهران ابراهیمی منش. "حق آزادی و امنیت شخصی در اسناد بین المللی حقوق بشر و حقوق ایران؛ با نگاهی به نو آوری های قانون آیین

دادرسی کیفری"، نشریه مطالعات حقوق تطبیقی، دوره پنج، شماره مسلسل یک، سال نشر ۱۳۹۳ش. دسترسي: Http://jcl.ut.ir/article_٥١٥٣٣_bb١٦٢b٦c٤ec٥cd٨a٧fd٢٠٣c٣b٣٦٥d٧ ۳۷ مراجعه[۱۴۰۴/۵/۴]

۳. حقاني، شفيقه. حمايت بين المللی حقوق پناهنده گان، انجمن فرهنگ افغانستان، انتشارات باميان: کابل، ۲۰۱۳.

۴. ناصح، ولي محمد. حقوق بين الملل خصوصی، انتشارات سعيد: کابل، ۱۳۹۷ .

٥. United Nations. International convention for protection of all persons from enforced disappearance, The Secretary-General of the United Nations, ٢٠١٠.

٦. United Nations. Convention relating to the Status of Refugees the Secretary-General of the United Nations, ١٩٥١.

٧. United Nations. International covenant on civil and political rights, The Secretary-General of the United Nations, ١٩٦٧.

٨. United Nations. International covenant on economic, social and cultural rights, The Secretary-General of the United Nations, ١٩٦٧.

٩. Universal Declaration of Human Rights, the Secretary-General of the United Nations, ١٩٤٨.

١٠. United Nations. Convention against torture and other cruel, inhuman or degrading treatment or punishment, The Secretary-General of the United Nations, ١٩٨٧.

څېړنیار سیدمحمدصادق سادات

# د بشریت په تاریخ کې د انساني حقوقو د دویم او تاریخي میثاق بېلګه(د حجة الوداع خطبه)

# An Example of the Second Historical Charter of Human Rights in the History of Humanity (The Farewell Pilgrimage (Hajjat-ul-Widah) Sermon)

***Junior Assistant Professor Mohammed Sadiq Khan***

**Abstract**

During the tenth year of Hijrah, the Prophet Muhammad (peace be upon him) delivered the Farewell Pilgrimage (Hajj) sermon at the plains of Arafat, where he articulated all the fundamental principles and rules for human society. The sermon was delivered to a gathering of approximately ۱۲٤,۰۰۰ Companions at the plains of Safa. In this historic address, the Prophet Muhammad (peace be upon him) outlined the key principles and rules of Islam, explaining to the Muslim community what actions were lawful and unlawful.

Furthermore, in this historic speech, the Prophet Muhammad (peace be upon him) encouraged Muslims to maintain good relations, foster brotherhood, and support one another. He also addressed social rights within the Islamic community. The teachings in this sermon were firmly based on the principles of brotherhood and equality of rights. The significance of this topic lies in the fact that this sermon was delivered by the

Prophet Muhammad over ۱,٤۰۰ years ago to the followers of Islam, and it has been faithfully preserved and conveyed to us.

The urgency of the subject is also notable, as the comprehensive discussion in this sermon revolves around the independence of Muslims, the protection of life and property, prohibition of usury, and the rights of individuals and women. In this sermon, the Prophet Muhammad (peace be upon him) declared piety (taqwa) as the criterion of superiority among Muslims and regarded all humans as descendants of a single father and mother.

This research clearly presents the topic through an introduction, headings, conclusions, and recommendations, completing the discussion comprehensively. Within the limits of my capacity, I have endeavored to explain and clarify all aspects of the topic using credible academic sources and conducted the research in accordance with scholarly standards.

**لنډیز**

رسول الله ﷺ د هجرت په لسم کال د حج د مراسمو پر مهال د حجة الوداع په خطبه کې چې د عرفات په میدان کې حاضرینو ته واوروله، د بشري ټولنې لپاره د ژوند ټول اصول او قواعد روښانه کړل. رسول الله ﷺ حجاجو ته خپله خطبه هغه وخت واوروله چې د صفا په میدان کې د یو لک او څلور ویشت زرو په شاوخوا کې صحابه کرام راټول و. په دې تاریخي خطبه کې رسول الله ﷺ د اسلام د مبارک دین کلي اصول او قواعد خلکو ته بیان کړل او په اسلامي ټولنه کې یې مسلمانانو ته مشروع او غیر مشروع کارونه ور وښودل. دغه راز په دې تاریخي وینا کې رسول الله ﷺ مسلمانان ښو اړیکو، ورورګلوۍ او یو بل سره مرسته کولو ته و هڅول او سربېره پر دې یې اسلامي ټولنې او مسلمانانو ته د ټولنیزو حقوقو په اړه هر اړخیزه وینا وکړه. په دې خطبه کې د رسول الله ﷺ خبرې په ورور ولۍ او د حقوقو د مساوات په اصل استوارې وې. د دې موضوع ارزښت هم په دې کې دی چې دا خطبه څه باندې څوار لس سوه کاله وړاندې د رسول الله ﷺ له لوري د اسلام مبارک دین پیروانو ته وړاندې کړل شوې وه او هغوي په ښه ډول موږ ته را رسولی ده. د موضوع مبرمیت هم په دې کې دی چې د دې جامع خطبې بحث د مسلمان په خپلواکۍ، د ځان او مال پر تأمین څرخېده

او له سود څخه یې مسلمانان منع کول، تر څنګ یې محتوا د افرادو او د ښځو په حقوقو هم بنا وه. په دې خطبه کې رسول الله ﷺ د مسلمانانو تر منځ د غوره والي معیار تقوا یاد کړ او ټول انسانان یې د یو پلار او مور له نسل څخه وشمېرل. په دې څېړنه کې یاده موضوع په سریزې، سرلیکونو، پایلې او وړاندیزونو مشتمله ده چې په ښه ډول روښانه شوې او دغه لیکنه یې پوره کړې ده. دغه څېړنه کې هڅه شوې ده چې د ټولو موضوعاتو په تشریح او روښانتیا کې له معتبرو علمي منابعو څخه استفاده وشې.

**سریزه:** رسول الله ﷺ د هجرت په لسم کال د ذی القعدې د میاشتې په ۲۵مه نېټه د حج د فریضې د ادا کولو تصمیم ونیوه او په مدینه منوره کې یې مهاجرینو او انصارو ته خبر ورکړ، تر څو ځانونه د حج د فریضې د اداکولو لپاره چمتوکړي. د ذی القعدې د میاشتې په ۲۶مه نېټه رسول الله ﷺ له یو زیات شمېر مهاجرینو او انصارو سره د حج د مراسمو په نیت له مدینې منورې څخه د مکې معظمې په لور و خوځېد، په دې سفر کې د مسلمانانو یوه لویه ډله د رسول الله ﷺ په مخ، ښی او چپ اړخ او شاته ښکارېدل. د ځینو سیرت لیکونکو په وینا، له رسول الله ﷺ سره په دې لوی کاروان کې د صحابه کرامو شمېر یو لک څلور ویشت زره تنو ته رسېده. دا حج د رسول الله ﷺ په ژوند کې لومړنی او وروستنی حج و، نو له همدې أمله سیرت لیکونکي دې حج ته (حجة الوداع) او یا هم حجة الابلاغ وایي. په دې حج کې رسول الله ﷺ د حج د مراسمو له تر سره کولو وروسته د ذی الحجې د میاشتې په نهمه نېټه د عرفات په غره کې د مسلمانانو یوې لویې غونډې ته په داسې حال کې هر اړخیزه وینا وکړه چې په خپله سورلۍ (اوښ) سپور و. په دې وینا کې رسول الله ﷺ اسلامي امت ته د اسلام د مبارک دین د کلي اصولو او قواعدو او په اسلامي ټولنه کې د انساني حقوقو په تړاو ارزښتناکه وینا وکړه چې موږ کولای شو دا وینا د اسلامي نړۍ لپاره د بشر د حقوقو د دویم میثاق بېلګه او د اسلام د مبارک دین د اساسي اصولو په توګه وښایو، ځکه رسول الله ﷺ په خپلې دغې ویناکې د جاهلیت د زمانې ټول ناوړه دودونه لغوه او محکوم کړل.

دغه راز دمېرمنو او نارینه و حقوق یې بیان کړل او دایې روښانه کړه چې ښځې پر مېړونو او مېړونه پر ښځو کوم حقوق لري. همدارنګه یو د بل مال خوړل ، قتل او وینه

توبدل، سود خوړل يې حرام اعلان کړل، او تر څنګ يې مسلمانان پنځه وخته لمانځه، روژې، زکات او د مشرانو اطاعت کولو ته و هڅول.

**د څېړنې مبرميت:** د دې څېړنې مبرميت په دې کې دی چې د حجة الوداع په خطبه کې د رسول الله ﷺ وينا د اسلامي امت لپاره يو له مهمو او ارزښتناکو ويناوو څخه شمېرل کېږي، له همدې امله يې څېړنې ته اړتيا ليدل کېده. که څه هم په دې اړه بېلابېلو ليکوالانو او سيرت ليکونکو خورې ورې ليکنې کړي خو تر دې سرليک لاندې کومه واحده علمي څېړنه نه وه، نو ځکه مې اړتيا احساس کړه چې ځانګړې څېړنه پرې ترسره کړم.

**د څېړنې موخه:** د دې علمي څېړنيزې مقالې د ليکلو موخه د حجة الوداع په خطبه کې د رسول الله ﷺ د وينا څېړل دي چې د بشريت په تاريخ کې له خورا ارزښت څخه برخمنه ده، او موخه يې د مسلمه امت لپاره د سترو درسونو روښانه کول دي.

**د څېړنې ميتود:** په دې څېړنه کې له تاريخي، تحليلي او توصيفي ميتودونو څخه ګټه اخيستل شوې ده.

**د څېړنې پوښتنې:**

۱ـ آيا د حجة الوداع په غونډه کې د رسول الله ﷺ وينا د نړۍ د بشر د اسلامي حقوقو د دويمې اعلاميې په توګه ګڼل کېدای شي؟

۲ـ رسول الله ﷺ په ياده غونډه کې راغلو مسلمانانو ته کومې لارښوونې او توصيې وکړلې او د بشر د حقونو کوم مفاهيم په کې توضيح کړل؟

**د رسول الله ﷺ شخصيت**

**أ: مخکې له بعثت نه:** د رسول الله ﷺ اصلي نوم محمد د مور نوم يې آمنه، د عبدالله زوی د عبدالمطلب لمسی و چې شجره يې د ابراهيم عليه السلام زوی اسماعيل عليه السلام ته رسېږي، آنحضرت ﷺ په ۵۷۱ز. کال د ربيع الاول په دولسمه د دوشنبې په ورځ په مکه مکرمه کې دې نړۍ ته مبارکې سترګې وغړولې. پلار يې د هغه نړۍ ته له راتګ څخه مخکې وفات شوی و، او په شپږ کلنۍ کې يې مور بي بي آمنه او په اته کلنۍ کې يې نيکه عبدالمطلب وفات شول. وروسته له دې يې پالنه تره ابوطالب ته ور په غاړه شوه. رسول الله ﷺ له کمکيتوب څخه صادق او امين و، او د مکې په خلکو کې يې په همدغو القابو شهرت درلود. په شپږ کلنۍ کې يې د (شق صدر)

پېښه رامنځ ته شوه او په دولس کلنۍ کې یې له خپل تره (ابوطالب) سره د یو سوداګریز کاروان په ملتیا د شام په لوري سفر وکړ. کله چې د (بُصری) سیمې ته ورسېدل هلته د یو دیني راهب لخوا چې بحیرا نوم یې و له ښو ښانو څخه چې په انجیل کې راغلې وې، په دې وپېژندل شو چې نوموړی د دواړو جهانونو سردار او د دې نړۍ اخري پیغمبر دی، نو په دې توګه یې له ابوطالب څخه غوښتنه وکړه چې بېرته مدینې ته وګرځي او شام ته له سفر څخه تیر شي، هسې نه چې د شام خلک (یهودان) یې وراره محمد ﷺ و پېژني او ضرر ورته پېښ کړي. ابوطالب د راهب خبره و منله او مکې ته وګرځېد. رسول الله ﷺ د ځوانۍ پر مهال چې عمر یې پنځه ویشت کالو ته ورسېد، له بې بي خدیجې (رضی الله عنها ) سره یې نکاح وکړه، په داسې حال کې چې د خدیجې (رضی الله عنها) عمر څلویښت کالو ته رسېده. له دې وروسته د مکې په خلکو کې ورځ تر بلې د رسول الله ﷺ محبوبیت ډېرېده تر څو چې عمر یې څلویښت کالو ته ورسېد او په څلوېښت کلنۍ کې په نبوت مبعوث شو.(۹: ۱۲، ۱٦مخونه)

**ب: وروسته له بعثت څخه**: په داسې حال کې چې په مکه معظمه کې خلکو د بتانو عبادت او پرستش کاوه، جهل او ناپوهۍ د ټولنۍ ټول اړخونه زیانمن کړي و، نو رسول الله ﷺ د جهل، نا پوهۍ او د بتانو له عبادت څخه کرېده او هیله یې درلوده چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ له لوري به دوی ته هدایت او لارښوونه وشي او د همدې موخې لپاره به رسول الله ﷺ د مکې له ښاره دوه میله لرې د حرا غار ته ځان رساوه او هلته به یې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په وحدانیت او د مخلوقاتو په خلقت کې فکر کاوه. د رمضان په مبارکه میاشت کې به یې همهلته اعتکاف تر سره کاوه، دې حالت درې کاله دوام وکړ تر څو چې په ٦۱۰م. کال د رمضان په میاشت کې چې د آنحضرت ﷺ عمر څلویښت کالو ته ورسېده، په پیغمبرۍ مبعوث شو. له بعثت څخه وروسته لومړنیو کسانو چې د اسلام دین قبول کړ، په ښځینه و کې حضرت خدیجه (رضی الله عنها)، په نارینه و کې حضرت ابوبکر صدیق(رضی الله عنه) او په ماشومانو کې حضرت علي (رضی الله عنه ) ول.(۱: ۲۵مخ)

رسول الله ﷺ له بعثت څخه وروسته درې کاله د یو صحابي په کور کې چې ارقم نومېده په پټه توګه خلکو ته د اسلام د مبارک دین بیعت ورکاوه، خو له درې کلونو

څخه وروسته کوم وخت چې حضرت عمر (رضی الله عنه ) ایمان راوړ نو د اسلام د مبارک دین بلنه په علني ډول پیل شوه. رسول الله ﷺ او اصحابه کرامو په دې لاره کې زیات شمېر ستونزې وګاللې، د هغو له جملې څخه یو هم د رسول الله ﷺ هجرت له مکې څخه مدینې ته و، چې په ۶۲۱م. کال کې پېښ شوی و. په مدینه منوره کې د کفارو او مشرکینو پر وړاندې یې په مبارزه پیل وکړ چې په پایله کې په غزواتو کې د مسلمانانو له بریالیتوب څخه وروسته مکه مکرمه د مسلمانانو په لاس فتحه شوه او په دې توګه رسول الله ﷺ په واسطه د یو پراخ اسلامي نظام بنسټ کېښودل شو. همدرانګه د همدغو د اسلام د لارې غازیانو د قربانیو له برکته د اسلامي نظام ټول اصول او قواعد تر موږ را رسېدلي دي، اسلامي هېوادونه د یادو قربانیو له برکته نن ورځ د سلام د مبارک دین تر چتر لاندې خپل ژوند تېروي.(۸: ۳۱ـ ۳۳مخونه)

**د حج په مراسمو (حجة الوداع) کې د رسول الله ﷺ خطبه**

رسول الله ﷺ په لسم هجري کال د ذي القعدې د میاشتې په ۲۶ مه نېټه د حج د فریضې د ادا کولو لپاره ځان چمتو کړ او زیات شمېر مهاجرینو او انصارو سره له مدینې منورې څخه د مکې معظمې پر لور و خوځېد. په دې سفر کې له رسول الله ﷺ سره زیات شمېر صحابه کرام هم موجود ول، د دې حج د مراسمو پر مهال د ذوالحجې د میاشتې په نهمه د عرفې په ورځ د عرفات په میدان کې رسول الله ﷺ د مسلمانانو یوې لویې غونډې ته هر اړخیزه او تاریخي خطبه واوروله. رسول الله ﷺ په دې خطبه کې د انساني کرامت احترام، په اسلامي ټولنه کې روا او ناروا کارونه، د جاهلیت د زمانې ټول ناوړه دودونه او د اسلام د مبارک دین کلي او بنسټیز قواعد خلکو ته بیان کړل. د دې لپاره چې د حجة الوداع د خطبې ارزښت او په دې خطبه کې د رسول الله ﷺ په واسطه اسلامي امت ته دیني او اسلامي لارښوونې په ښه بڼه روښانه شي، نو لازمه ګڼم چې په بېلابېلو سرلیکونو کې پرې بحث وکړم.

**أ: الهی احکام**: د حجة الوداع په خطبه کې رسول الله ﷺ په خپله ویناوو کې اسلامي امت ته د الهی احکامو په اړه وفرمایل: ای مؤ منانو! تر راتلونکي کال او د حج مراسمو پورې شاید زه له تاسو سره و نه اوسم، نو زما خبرې په غور سره واورئ او غائبو کسانو ته یې هم ورسوئ. بیا یې وفرمایل: ما تاسو ته د الله ﷻ کلام (قرآن کریم) او نبوي احادیث پرېښودل که پرې عمل وکړئ نو هېڅکله به ګمراه نه شئ او ځای به مو جنت

وي، خو که سر غړونه ترې وکړئ نو تاسو به گمراه او ځای به مو دوزخ وي، تاسې به يوه ورځ حتمی د اللهﷻ په حضور کې حاضرېږئ او په هغه ورځ به ستاسو د أعمالو پوښتنه کېږي.

رسول الله ﷺ د اللهﷻ د وحدانيت په اړه خلکو ته په خطاب کې وفرمايل: ای مؤمنانو! ستاسو رب يو دی او ټول بايد د يو خدای ﷻ عبادت او بنده گي غوره کړئ، د جاهليت د زمانې له ناوړه دودونو او بت پرستۍ څخه ځان وساتئ او بيا يې وفرمايل ما تاسو ته د اللهﷻ کلام راوړ او خپله دنده مې سرته ورسوله، رسول الله ﷺ دغه مهال د خپلو خبرو تائيدي له صحابه کرامو څخه وغوښت، نو هغوی ټولو په يو غږ آواز وکړ چې ای د اللهﷻ رسوله؛ موږ گواهي ورکوو چې تاسو موږ ته د اللهﷻ کلام راوړ او د رسالت حق مو ادا کړ او موږ ته دې د حق لار را وښوده، بيا يې اسمان ته وکتل او ويې فرمايل ای اللهﷻ ته شاهد اوسه، دا کلمه يې درې ځله تکرار کړه، وروسته يې حاضرينو ته وفرمايل ای خلکو زما خبرې غائبو کسانو ته ورسوئ کېدای شي چې له حاضرينو څخه ځينې غائب کسان ښه حافظه ولري او زما خبرې يې په ذهن کې پاتې شي او نورو ته يې ورسوي.(۴ :۲۷۹، ۲۸۲مخونه)

**ب: د ژوند مالي چارې:** رسول الله ﷺ د حجة الوداع په دې تاريخي او ارزښتناکه خطبه کې د نورو مسائلو تر څنگ اسلامي امت ته د اسلام د مبارک دين د اصولو پر بنا مالي چارې هم بيان کړې او ويې فرمايل: ای خلکو! ستاسو په منځ کې يو د بل مال خوړل د ننۍ ورځې، مياشتې او ځای په توگه پر تاسو حرام دي. د سيرت ليکونکو په وينا چې د رسول الله ﷺ له ورځې څخه موخه د عرفې ورځ او له مياشتې څخه هدف د ذي الحجة الحرام مياشت او له ځای څخه  موخه د عرفات سيمه وه. دغه راز د ظلم او زياتي په اړه يې وفرمايل: تاسو دا حق نه لرئ چې يو د بل په مال تېری وکړئ او له اجازې پرته يې وخوری، د امانت ساتل او خپل مالک ته يې سپارل ستاسو اسلامي او ايماني وجيبه ده، خپل مال هم بل چاته مه پرېږدئ او د خپل مال غوښتنه وکړئ، ستاسو په منځ کې سود خوړل او د سود پر بنا کار بار حرام دی.

له دې پورته څرگندونو څخه معلومېږي چې رسول الله ﷺ اسلامي امت ته غوره د اسلام اقتصادي نظام بيان کړ، که چېرې اسلامي ټولنه عمل پرې وکړي نو په اسلامي ټولنه کې به د فساد او ناوړه اقتصادي نظام مخه ونيول شي.

**ج: اخووت او ورور ګلوي**: دا چې اسلامي ورور ګلوۍ او په اسلامي ټولنه کې د ټولنې د افرادو تر منځ عدالت او برابري یو له ارزښتناکو موضوعاتو څخه شمېرل کېږي، نو رسول الله ﷺ یې په اړه وفرمایل (ای مؤمنانو! مسلمانان ټول سره ورونه دي او ټول د یو آدم علیه السلام اولاده یاست او الله ﷻ آدم علیه السلام له خاورو نه پیدا کړی. نو له همدې امله تاسو په خپل منځ کې لکه د ورونو په شان اړیکې وساتئ او یو پر بل ظلم مه کوئ، ستاسو په منځ کې عرب په عجم، عجم په عرب، تور په سپین، سپین په تور هېڅ توپیر او فضیلت نه لري بلکې د الله ﷻ په وړاندې هغه کس غوره دی چې تقوا ولري). (۲ :۹۳۱مخ)

رسول الله ﷺ موږ ته دا راوښوده چې په اسلامي ټولنه کې طبقاتي امتیازات د الله ﷻ پر وړاندې کوم ارزښت نه لري، بلکې یوازې له بدو اعمالو څخه ځان ساتل او اسلامي احکام پر ځان عملي کول او تقوا هغه څه دي چې موږ خپل ستر رب ته نږدې کوي او الله پاک هغه بنده خوښوي چې تقوا ولري. موږ کولای شو چې د تقوا او پر هیز ګارۍ سره خپل ځان الله پاک ته نږدې کړو او له جهنم څخه د ځان ساتنې او جنت ته د داخلېدو وسیله یې وګرځوو.

دغه راز دا چې عدالت او برابري د اسلام د مبارک دین له اصولو څخه یو مهم اصل دی، نو له همدې امله د حجة الوداع په خطبه کې رسول الله ﷺ یې په اړه وفرمایل (ای خلکو! تاسو په ټولنه کې ټولنیز عدالت مراعت کړئ یو پر بل ظلم مه کوئ د ظالم په مقابل کې د مظلوم له حق څخه دفاع وکړئ، وینه تویول او قتل پر تاسو حرام دي او تاسو نه شئ کولای چې له دې وړاندې د قتلونو انتقام واخلئ).(٦: ۸۴۹مخ)

رسول الله ﷺ په دې خطبه کې د اسلامي ورور ګلوي او اعتدال په برخه کې اسلامي امت ته څرګنده کړه چې الله ﷻ عادل رب او عدل خوښونکی ذات دی، نو باید چې اسلامي امت یو له بل سره د ورونو په شان ژوند وکړي او د ټولنیز عدالت په برخه کې اسلامي اصول عملي او خپله دنده سرته ورسوي. بله دا چې د اسلام مبارک دین د برابرۍ او اعتدال دین دی چې ټول اصول او قواعد یې په عدل او انصاف ولاړ دي. همدارنګه الله ﷻ په نیکو او بدو کارونو کې له خپلو بنده ګانو سره له عدل او انصاف نه کار اخلی، نو لازمه ده چې د اسلامي ټولنې هر وګړی او هر مؤمن اسلامي

ورور ګلوي او ټولنیز عدالت خپله اسلامي او وجداني دنده وګرځوي او خپل ژوند د فردي، ټولنیز او اسلامي عدالت مطابق پر مخ یوسي.

**د: د ښځو حقوق:** د اسلام مبارک دین د بشر په تاریخ کې د بشري ټولنې لپاره په دیني، سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزو برخو کې تر ټولو ښه لارښود او قانون دی، که چیرې هر مسلمان په واقعي شکل اسلام ومني او اسلامي قوانین او اصول پر ځان تطبیق کړي نو په پورته ذکر شوو برخو کې به په اسلامي ټولنه کې هیڅ ډول ستونزه موجوده نه وي. د حجة الوداع په خطبه کې رسول الله ﷺ د انساني کرامت په برخه کې لومړی د ښځو د حقونو په برخه کې وینا وکړه او مسلمانانو ته یې توصیه وکړه چې له خپلو ښځو سره ښه رویه او سلوک وکړئ، ویې فرمایل: (ستاسو ښځې پر تاسو حقوق لري او تاسو د خپلو ښځو د حقوقو په برخه کې بې غوري مه کوئ) هغوی د الله ﷻ له لوري له تاسو سره امانت دي، تاسې له هغو سره ظلم مه کوئ ځکه چې هغوي بې وسه دي د هغوی په حق کې ظلم مه کوئ، له ښځو سره د نکاح پر مهال کوښښ وکړئ چې له ښو خلکو سره مو رشته وشي او تاسې کوښښ وکړئ چې نیک صالحه او نیک عمله ښځه د نکاح لپاره غوره کړئ. په دې غونډه کې رسول الله ﷺ د ښځې او میړه تر منځ د ګډ ژوند او اړیکو په اړه هم ارزښتناکه وینا وکړه، ویې فرمایل که چیرې ستاسو ښځې په روا کارونو کې ستاسو نا فرماني کوي نو تاسې کولای شئ په نیکو خبرو، ځای بېلولو (بسترې بېلولو) سره هغوي له نافرمانۍ نه راوګرځوئ، خو که چیرې اصلاح نه شوې نو کولای شئ چې هغوي و ویروئ او چې اصلاح شوې نو بیایې د نفقې، جامې او ضروریاتو برابرول پر تاسو واجب دي چې باید سر غړونه ترې و نه کړئ).(۳ :۲۱۳_ ۲۱۴مخونه)

د اسلام مبارک دین تر ټولو غوره انساني کرامت او حقوق د ښځو لپاره ټاکلي دي، په داسې حال کې چې هیڅ ټولنه او دین کې داسې حقوق ښځو ته نه دې ورکړل شوي. رسول الله ﷺ د حجة الوداع په خطبه کې مسلمانانو ته دا وښوده چې ښځه د ټولنې او ټولنیز ژوند په برخه کې لوړ مقام لري او هر مسلمان دنده لري چې د ټولنې دې قشر ته د اسلامي او انساني کرامت له نظره درناوی وکړي. د اسلام ستر لارښود رسول الله ﷺ موږ ته دا را ښودلي چې خپلو ښځو سره د انساني کرامت مطابق چلند وکړو او د شرعي حقوقو ورکړه یې خپله دنده او مسؤلیت وګڼو.

**هـ : د نارينه حقوق:** د انساني كرامت درناوی د اسلام د مبارک دين د اصولو پر بنا د نارينه او ميرمنو مسلم حق دی چې د الله ﷻ له لوري خپلو بنده گانو ته ورکړل شوي دي. رسول الله ﷺ د حجة الوداع په غونډه کې د ښځو د حقوقو تر څنگ د نارينو حقوق هم پر ښځه باندې لازمي و ښودل او په دې غونډه کې يې د اسلامي امت ښځو ته په خطاب کې وويل: (ای د الله بنده گانو! ستاسو مېړونه پر تاسو زيات حقوق لري او تاسې د خپلو ميړونو له اجازې پرته د کور مال بل چاته نشی ورکولای او د مېړه له اجازې پرته له کوره وتل او داسې کسانو ته کور ته دعوت ورکول چې د ميړه د خفگان سبب گرځي پر تاسو حرام دي). دغه راز رسول الله ﷺ په دې تاريخي او ارزښتناکه خطبه کې نر او ښځه د اسلام د مبارک دين د اصولو په رڼا کې گډ ژوندانه ته تشويق کړل تر څو د اسلامي شريعت په رڼا کې گډ ژوند غوره کړي او يو د بل حقوقو ته درناوي وکړي.(۲: ۹۳۰مخ)

د حجة الوداع له خطبې څخه وروسته رسول الله ﷺ د عرفات په ميدان کې حضرت بلال (رضی الله عنه) ته د آذان کولو امر ورکړ، وروسته يې د ماسپښين او مازديگر لمونځونه په جماعت سره ادا کړل او تر لمر پريوتو پورې يې د عرفات په ميدان کې د الله ﷻ حضور ته په عاجزی د دعا لاسونه نيولي و. په همدې ځای کې دا مبارک آيت نازل شو ژباړه: (نن ورځ ما تاسې ته ستاسې دين بشپړ کړ او پر تاسې مې خپل نعمت پوره کړ، او اسلام مې ستاسې لپاره د دين په توگه غوره کړ). (۷: ۱۷۲ـ ۱۷۳مخونه)

**و: د دين تکميلېدل او د رسول الله ﷺ رحلت:** د دې حج د مراسمو پرمهال کوم وخت چې رسول الله ﷺ د عرفات په ميدان کې حاضرينو ته د حجة الوداع خطبه واوروله نو وروسته په همدې ځای کې د الله ﷻ له لوري د جبرائيل عليه السلام په واسطه په رسول الله ﷺ باندې دا آيت نازل شو.المائده سورت ۳ آيت). ژباړه: (نن ورځ مکمل کړ ما تاسې ته دين ستاسې او تمام مې کړ پر تاسې نعمت خپل او غوره کړ ما تاسې ته اسلام له جهت د دين).(۸: ۵۰۴مخ)

رسول الله ﷺ د وحی په واسطه له خپل رحلت څخه خبر شوی و، نو له همدې امله يې د حج د مراسمو پر مهال د حجة الوداع په غونډه کې له مسلمانانو سره مخه ښه وکړه. د حج د مراسمو د تر سره کولو څخه وروسته آنحضرت ﷺ بېرته د مدينې

منورې په لورې ستون شو. د صفر په مياشت کې رسول الله ﷺ د بقيع هديرې ته په نيمه شپه کې ولاړ او هلته يې د اسلام د لارې مړو ته دعا وکړه. د همدې شپې په سهار رسول الله ﷺ ته شديده تبه او سر درد پيدا شو. وروسته کوم وخت چې ناروغي لا پسې زياته شوه، نو له ټولو بيبيانو څخه يې اجازه وغوښته، تر څو ناروغي د حضرت بي بي عايشې (رضی الله عنها) په کور کې تيره کړي، ټولو بيبيانو د رسول الله ﷺ غوښتنه ومنله، په دې سره د رسول الله ﷺ د ناروغتيا او رحلت ټوله موده يې د حضرت عايشې (رضی الله عنها) په کور کې تيره شوه. رسول الله ﷺ د خپل عمر په وروستيو ورځو کې د ربيع الاول د مياشتې په اتمه د پنج شنبې په ورځ په داسې حالت کې چې د سختې تبې او ناروغتيا په سبب يې خپل سر په ټوټه تړلی و مسجد نبوي ته تشريف راوړ او خپله آخري وينا يې صحابه کرامو ته واوروله، په دې وينا کې رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمايل: (ای مؤمنانو! زه خبر شوی يم چې تاسو زما له وفات څخه وېرېږئ، له هغو انبيأو څخه چې مخکې راغلي و، هيڅ يو نه دی پاتې شوی، زه د الله حضور ته ځم او يوه ورځ به تاسې هم د الله ﷻ حضور ته حاضرېږئ، تاسو ته زما وصيت دادی چې له مهاجرينو سره ښه رويه وکړئ) او مهاجرينو ته وصيت کوم چې خپل منځ کې ښه سلوک وکړئ، او وروسته يې د عصر سورت مکمل تلاوت کړ، بيا يې حاضرينو ته فرمايل: (اي مؤمنانو! د ژوند ټولې چارې مو د الله ﷻ د احکامو مطابق پر مخ يوسئ، کوم کار کې چې تاخير وي سرعت مه ورکوئ او الله ﷻ د چا د سرعت لپاره هغه سريع نه گرځوي). بيا يې وفرمايل: (له انصارو سره ښه چلند وکړئ؛ ځکه چې دوی تاسو ته د ځايونو او کورونو وسعت بخښلی و.) رسول الله ﷺ د خپلو ويناوو په وروستۍ برخه کې وفرمايل: (زه مخکې ځم او تاسې هم يوه ورځ راپسې راځئ او له ماسره به مو ملاقات کېږي، زما له تاسو سره د ليدو وعده حوض کوثر سره ده). (۸: ۵۳۱ـ ۵۳۲مخونه)

له دې خطبې څخه وروسته د رسول الله ﷺ ناروغتيا ورځ تر بلې زياتېده، تر څو د ربيع الاول د مياشتې په دولسمه د دوشنبې په ورځ رسول الله ﷺ له دې فاني نړۍ څخه رحلت وکړ او په راتلونکې ورځ (سه شنبې) د حضرت عايشې (رضی الله عنها) په خونه کې دفن کړای شو.(۵ :۲۰۰مخ)

**پایله:** په پایله کې ویلای شو چې د حجة الوداع خطبه د بشریت په تاریخ کې د انساني حقوقو په برخه کې یوه بشپړه تګلاره او میثاق دی چې اسلامي امت یې په عملي کولو سره له ګمراهۍاو د ټولنې له ناوړه دودونو څخه ژغورل کېږي. په دې خطبه کې رسول الله ﷺ اسلامي امت د الله ﷻ وحدانیت، د اسلام د مبارک دین اصول، د ټولنې د افرادو تر منځ ښو اړیکو ته راوبله او له شرک، ګناهونو، سود، حرام مال خوړلو څخه ځان ساتلو په برخه کې خلکو ته مهمې لارښونې وکړې، له همدې امله د سیرت په ځینو کتابونو کې حجة الوداع خطبې ته حجة الابلاغ هم ویل کېږي.

د رسول الله ﷺ پورته لارښوونې د اسلام په تاریخ کې د اسلامي امت لپاره یو له مهمو او ارزښتناکو تګلارو او د ټولنیز ژوند د ادابو یوه ښه بېلګه شمېرل کېږي. رسول الله ﷺ د حجة الوداع په خطبه کې د اسلامي امت لپاره د ژوند ټولې لارې چارې بیان کړې او هغه کړنې چې د مسلمه امت د دنیا او آخرت په ګټه وې تاکېد او هغه کړنې چې د مؤمن او د مؤمنې ټولنې په زیان وې هغه یې ناروا اعلان کړې. که چېرې د نړۍ مسلمانان د رسول الله ﷺ په دې ویناوو باندې عمل وکړي، نو نه یوازې دا چې اسلامي ټولنه به له شر او فساد نه په امن کې وي، بلکې د قیامت په ورځ به هم له ګناهونو پاک د خپل رب په حضور کې حاضرېږي او د رسول الله ﷺ د هغه د کړې وعدې مطابق په حوض کوثر کې ملاقات کوي او یو ځای به ور سره جنت ته داخل شي.

په پای کې ویلای شم چې د رسول الله ﷺ د حجة الوداع خطبه د مسلمانې او مؤمنې ټولنې لپاره د بشر په تاریخ کې تر ټولو لرغونې، بشپړه، او جامع تګلاره ده، دغه راز د ژوند په ټولو چارو کې د هر مؤمن او مسلمان لپاره د پر مختګ او سوکالۍ تر ټولو مهم اصل، او بالاخره د بشر د اسلامي حقوقو پر مختللې اعلامیه ده چې تر اوسه یې په ټوله نړۍ کې ساری نه لیدل کېږي او نه به ولیدل شي.

**وړاندیزونه**

۱ـ د افغانستان مسلمان او غیرتي ولس ته وړاندیز کوم چې د رسول الله ﷺ ویناوو باندې عمل وکړي او خپل ژوند د آنحضرت (ﷺ) د سیرت مطابق جوړ کړي.

۲ـ کوم حقوق چې د اسلام مبارک دین انسان او انساني کرامت ته ورکړي، په هېڅ بل دین کې داسې لوړ مقام انساني کرامت ته نه دی ورکړل شوی، نو اسلامي

امت ته وړاندیز دی چې د انسان په لاس جوړ شوي د بشري حقوقو د قوانینو پر ځای دې د الله ﷻ احکامو او د رسول الله ﷺ په لارښوونو عمل وکړو.

**مأخذونه**

١ ـ احمد، منصور. د پیغمبر ﷺ خوږې خاطرې. ژباړه. نجیب الله جالب، منومند خپروندیه ټولنه: جلال آباد، ١٣٩١ه ل.

٢ـ ارشاد، مولانا محمدشاه. محمد ﷺ له پنځه ویشت کلنۍ تر رحلته. مترجم. الحاج غلام فاروق چشتی. مرکز نشراتی میوند: قصه خوانی بازار، ١٣٧٦ ل.

٣ـ حبیبی، علامه عبدلحی. «اعلامیه حقوق انسانی یکهزار وسه صد سال قبل» تحقیقات علامه حبیبی: ١٣٨٧ ل.

۴ـ سباعی، مصطفی. دروس و عبر. ژباړه. سلطان محمود صلاح. الهدی له خپرونو څخه: ١٣٩٦ ل.

۵ـ عثمانی، عبدالرحمن. تاریخ تمدن اسلام. مطبعه ریپرو هندیا: ریاست عمومی تربیه معلم وزارت معارف. ١٣٩١ل.

٦ـ علی ندوی، علامه سید ابوالحسن. خاتم النبیین ﷺ ژباړونکی. حسان الله متوکل.انتشارات اصلاح افکار: کابل. ١٣٩٠ ل.

٧ـ غضبان، منیر احمد. خط مشی سیاسی در سیره نیوی. ترجمه. عمر قادری. جلد سوم. نشر احسان، کتابخانه مهارت: ایران. ١٣٨٨ل.

٨ ـ محب، عبدالکریم. عظیم السیر، د رسول الله ﷺ عظیم اخلاق، ټایمز مطبعه: افغانستان، ١٣٩٠ ل.

٩ـ نجیب آبادی، مولانا اکبرشاه. د اسلام تاریخ. ژباړن. سیدفضل مولا لټون. لومړی جلد. پیغام خپرندوی مرکز: پېښور، ١۴٢۵ق.

پوهنیار زمری فنا

# د افغان او انګلیس په دوهمه جګړه کې د ایوب خان ونډه

# The role of Ayub Khan in the second Anglo_ Afghan war

***Lecturer Zmarai Fana***

**Abstract**

During the second British invasion in the ۱۸۷۹ the western front was led by the national hero Ghazi Ayub Khan. Following the rule of his father and brother (Yaqub Khan) Ayub Khan considered himself the rightful heir to the Emirate. At the time of the British invasion, launched from three different direction, Ayub Khan return from Iran to Afghanistan and assumed the leadership of the Mujahideen in the city of Herat.

Under the communed of Ayub Khan, Mujahideen achieved a decisive victory against the British in the historic battle of Maiwand in ۱۸۸۰, inflicting heavy casualties on thousands of British soldiers. This triumph brought Ayub Khan close to assuming full control of Emarat, unfortunately, his delay in reaching the city of Kandahar provided the Bratish with an opportunity to dispatch fresh reinforcement from India and Kabul. Consequently, Ayub Khan was compelled to retreat from Kandahar.

The same year (۱۸۸۰) Abdul Rahman rose to power with British support, the British had aimed during their second incursion to separate Kandahar from Afghanistan and annex it to Quetta while placing Herat under Persian influence, however the sacrifices of Ayub Khan, the Mujahideen and other freedom fighters thwarted these objectives. The battle of Maiwand proved to be a significant defat for the British and played a vital

role in ensuring that Kandahar and Herat remined integral part of Afghan territory.

**لنډیز:**

د انګریزانو په دوهم ځل تجاوز (۱۸۷۹م) کې د هیواد د غربي جبهې مشر غازي ایوب خان و، ایوب خان چې د امیرشیرعلي خان او (یعقوب خان) له حکومتونو څخه وروسته ځان د امارت وارث ګاڼه ، هغه وخت چه انګریزانو پرهیواد باندي له دریو لارو تجاوز وکړ نوموړی له ایران نه افغانستان ته راستون شو او په هرات ښار کې یې د مجاهدینو مشري پر غاړه واخیسته. د ایوب خان تر قوماندې لاندې مجاهدینو د انګریزانو پر وړاندې د میوند په تاریخي جګړه کې (۱۸۸۰م)ستره بریا ترلاسه کړه، په دې جګړه کې په زرګونو عسکر په قتل ورسیدل. له دې بریا وروسته د ایوب خان امارت حتمي و، مګر له بده مرغه، هغه په کندهار ښار کې له ډېر ځنډ سره مخ شو، چې دا چاره انګریزانو ته دا فرصت ورکړ چې له هند او کابله نوي ځواکونه راورسوي. په پایله کې، ایوب خان مجبور شو چې له کندهاره شاتګ وکړي. په همدغه کال (۱۸۸۰م)، عبدالرحمن خان د انګریزانو په ملاتړ واک ته ورسېد. انګریزانو غوښتل چې د خپل دویم یرغل په ترڅ کې کندهار د کویټې په څېر له افغانستانه جلا کړي، او هرات ښار بیا د فارس تر نفوذ لاندې وساتي. خو د ایوب خان، مجاهدینو او غازیانو قربانیو دا هدفونه شنډ کړل. د میوند تاریخي جګړه د انګریزانو لپاره یوه درنه ماتې وه، او دا بریا د دې لامل شوه چې کندهار او هرات د افغانستان د خاورې برخه پاتې شي، په دې مقاله که د ایوب خان ژوند د ماشومتوب څخه بیا تر ځلمیتوب پوري، د نوموړي د ژوند مختلف اړخونه، سوبې، ناکامی او د میوند په جګړه کي د نوموړي قهرماني، سرښندني او همدارنګه د غازي ایوب خان د ژوند وروستۍ ورځې او حالاتو په تفصیل سره په دې مقاله کې څېړل شوي دي.

**کلیدي لغاتونه :** ایوب خان، غازي، مجاهدین، میوند، جګړه، مبارزه، غازیان، انګریزان.

**سریزه:**

انګریزانو پر افغانستان خپل دوهم یرغل په داسې حال کې وکړ، چې د لومړي تجاوز له پای ته رسېدو لا څلوېښت کاله نه‌وو تېر شوي. په انګلیستان کې د محافظه‌کار ګوند، د ډیزرایلي تر مشرۍ لاندې، واک ته ورسېد. دغه ګوند د افغانستان د

موجودیت او خپلواکۍ پر اصولو باور نه درلود، بلکې د "فاروارد پالیسۍ" یا "مخ پر وړاندې تگ" ستراتیژي یې تعقیبوله. دوی د امو سیند د روسیې سره طبیعي پوله بلله،له بلې خوا، امیر شیرعلي خان د یو خپلواک، متحد او سیال دولت په توگه د افغانستان د دفاع اراده لرله. نوموړي د انگریزانو سره په څو دیپلوماتیکو غونډو او کنفرانسونو کې، لکه د امباله، شمله او پېښور، د افغانستان د حیثیت د خوندي کولو هڅې وکړې، خو کومه نتیجه یې تر لاسه نه کړه. په همدې وخت کې، د بریتانیا محافظه‌کار گوند یو توندلاری غړی، لارډ لیټن، د هند د وایسرا په توگه وټاکل شو. هغه په ۱۸۷۸م کال کې پر افغانستان د درېیو لارو د نظامي یرغل امر صادر کړ. امیر شیرعلي خان ملت یوازې پرېښود ، خو افغان ولس، د خپل ازادۍ پال تاریخ په تسلسل کې، یو ځل بیا د جهاد او مقاومت علم پورته کړ او د اشغالگرو پر وړاندې یې وسله واله مبارزه پیل کړه.

په همدې مهال، د امیر شیرعلي خان زوی، غازي ایوب خان، له ایران څخه هرات ته راستون شو او د افغانستان په لوېدیځ کې یې د مجاهدینو مشري په غاړه واخیسته. د ایوب خان تر مشرۍ لاندې افغانان منسجم شول، او د ۱۸۸۰م کال د جولای پر ۲۷مه د میوند تاریخي جگړه رامنځته شوه. په دې جگړه کې د انگریز پوځ شاوخوا ۱۲ زره سرتېري ووژل شول او د بریتانیا استعماري قواوې یې له یوې سترې تاریخي ماتې سره مخ کړې. د میوند له جگړې وروسته، د بریتانیا حکومت اړ شو چې د افغانستان په اړه پر خپلو سیاستونو او پالیسیو بیا کتنه وکړي. له همدې امله، انگریزانو په ۱۸۸۰م کال کې د وتلو پرېکړه وکړه او خپلې قواوې یې له افغانستانه بهر کړې. د انگریزانو له دویم یرغل سره هممهاله، هغوی هڅه کوله چې کندهار د افغانستان له سیاسي او جغرافیایي چوکاټه وباسي او دا سیمه له برتانوي هند سره وتړي. خو د ایوب خان او د افغان ملت قربانیو دا پلان شنډ کړ، او کندهار، د میوند د جگړې له بریا سره، د افغانستان د خاورې نه بېلېدونکې برخه پاتې شوه.

د میوند جگړې د کندهار او د هېواد د جنوب لوېدیځو ولایتونو سرنوشت په سیاسي او جغرافیایي لحاظ د نولسمې پېړۍ په اوږدو کې تثبیت کړ. د دې جگړې قومنداني او مشري د امیر شیرعلي خان پنځم زوی، غازي ایوب خان، پر غاړه لرله. ایوب خان، چې په افغاني او انگلیسي تاریخونو کې د "میوند زمری (Lion of Maiwand) "په

نوم پېژندل کېږي، زموږ د معاصر تاریخ په روایتونو کې له بده مرغه یوه تر ډېره هیره شوې څېره ده، او د ده په اړه شته معلومات خورا محدود او نیمګړي دي. یوازینی اثر چې د ایوب خان د ژوند، مبارزې، جګړو او شخصیت اړوند بشپړ او غني معلومات وړاندې کوي، د «میوند فاتح» په نوم کتاب دی. د دغه اثر لیکوال محمدعلي میوندي دی، چې پلار یې د میوند په جګړه کې د ایوب خان تر مشرۍ لاندې د انګریزانو پر ضد جنګېدلی مجاهد و. دا کتاب په انګلیسي ژبه لیکل شوی او وروسته پښتو ته ژباړل شوی دی. همدارنګه، اریانا دایره‌المعارف، *زموږ غازیان*، او یو شمېر نور محدود او د ګوتو په شمېر آثار هم شته، چې د غازي ایوب خان په اړه محدود معلومات لري .

**د څېړنې مبرمیت:**

دا چې غازي ایوب خان د هیواد د معاصر تاریخ د تاثیر لرونکو سیاسي او نظامي مبارزینو او رهبرانو څخه یو دی، نو اړتیا وه تر څو د غازي ایوب خان د ژوند سیاسي، نظامي او ټولینزي برخې چې له بدمرغه زموږ په تاریخونو کې ورته کمه پاملرنه شوې ده. او همدارنګه د افغان او انګلیس په دوهمه جګړه او په ځانګړې توګه د میوند په جګړه کې د نوموړي مقام او موقف مې لا ښه روښانه کړی وي، تر څو راتلونکي نسلونه او ځوانان د خپل هیواد د ریښتینو اتلانو څخه پوره اګاهي ولري.

**د څېړنې موخه:**

د دې څېړنیزې علمي مقالې بنسټیزه موخه داده تر څو د وس او توان په اندازه د غازي ایوب خان شخصیت او د نوموړي سیاسي او فوځي ونډه د میوند په جګړه کښې په ریښیتني معنا هر اړخیزه څېړنه تر سره شي.

**د څېړنې میتود:**

په دې علمي ـــــ څېړنیزه مقاله کې د څېړنې له توصیفي، تحلیلي او تاریخي میتود څخه ګټه اخیستل شوې او هڅه شوې چې په څېړنه کې د څېړنې ټول اصول په ښه ډول رعایت شي.

**د څېړنې پوښتنه:** د میوند فاتح ( غازي ایوب خان) څرنګه شخصیت درلود؟ د خپل ژوند په دوران کې یې خپله سیاسي او فوځي مبارزه د کومو تاکتیکونو او اصولو په نظر کې نیولو سره پر مخ یوړه، د یادې مبارزې په پایله کې د افغانستان په سیاسي سرنوشت کې کوم تغییرات را منځ ته شول؟

**د غازي ايوب خان ژوندليک:**

غازي ايوب خان، چې د "ميوند فاتح" او "افغان پرنس چارلي" په نومونو شهرت لري، له لوړو ژورو ډک داسې ژوند تېر کړی دی، چې حتی د هغه لړ را سپړل شوې برخې هم د يوې افسانې بڼه خپلوي. په هغو افغاني جنرالانو او قومي مشرانو کې چې د افغان ـ انگليس په دويمه جگړه کې يې ونډه اخيستې، د غازي ايوب خان نوم تر ټولو روښانه او د هغه رول تر ټولو اغېزمن گڼل کېږي.

د غازي ايوب خان ژوند د برياوو، ناکاميو، خوښيو او غمونو يوه ټولگه ده. داسې ورځې يې ليدلي چې ستر پوځونه يې تر شا ولاړ وو، او داسې شپې يې هم راغلې چې مجبور شوی و په پردي وطن کې پناه واخلي. د هغه د ژوندانه ارزښتناک اړخ دا و، چې نه يې بري په سرکې غرور راوست، او نه يې ناکامۍ نا اميد کړ. دا له وطن سره د ده ژوره مينه وه، چې تل يې د قربانۍ او سرښندنې روحيه تازه ساتله، او هر ځل يې د وطن د دښمنانو پر ضد له نوي هوډ سره مبارزه پيل کړه .( ۹ : ۲۹-۳۰ مخونه).

غازي ايوب خان د افغانستان د واکمن امير شيرعلي خان (۱۸۶۳–۱۸۷۹م) پنځم زوی و، چې په ۱۸۵۷م کال په کابل کې نړۍ ته راغی. د ده مور د مومندو د يوې مخورې کورنۍ، د لالپور د خان سعادت خان لور وه. ايوب خان د يعقوب خان سکه ورور و، خو د ده د ژوند لومړنۍ کلونه تر ډېره لا هم د تاريخي ابهام تر سيوري لاندې دي. په ماشومتوب کې ايوب خان د نري بدن، ژېړ رنگ او دوامدارې ناروغۍ له امله د يوې کمزورې روغتيا درلودونکی و، چې دا وضعيت يې مور او پلار، چې له هغه سره يې ژوره مينه لرله، تل خواشيني ساتل. د کورنۍ جگړو پر مهال (۱۸٦۳–۱۸٦۸م)، کله چې کابل د افضل خان (د عبدالرحمن خان پلار) او وروسته بيا د اعظم خان (د افضل خان ورور) تر ولکې لاندې راغی، ايوب خان له خپلې مور سره په کابل کې اوسېده او د ديني زده‌کړو په لټه کې وو. کله يې چې مور د سياسي گواښونو او ژوند ته د احتمالي خطر احساس وکړ، نو هغه‌يې لومړی د کابل يو با اعتباره روحاني شخصيت، سيد اشرف ته وسپاره، خو ايوب خان هلته ډېر پاتې نه شو. وروسته اړ شو چې د کابل د يوه قناد، تاج محمد، په کور کې پناه واخلي (۱۲،۱۲۱٦ مخ).

د ایوب خان لومړنۍ زده کړې چندانې ګټورې نه وې. که څه هم وروسته، په ایران کې د زده کړو لپاره متوجه کیږي، نوموړی وتوانېده چې د پښتو، فارسي او انګلیسي ژبو لوست او لیک زده کړي، خو ښکاره ده چې د ماشومتوب په کلونو کې یې زده کړو ته ډېره علاقه نه لرله او ډېر وخت یې په کوڅو کې په لوبو بوخت وو. په ماشومتوب کې به یې لوبیز ماینونه الوزول، د ماشومانو د لوبو په ټوپکو به یې ډزې کولې، جعلي جګړې به یې کولې، او تل به یې د یوه خیالي یرغل مشري پر غاړه اخیسته. ایوب خان له کوچنیوالي د پوځي تمریناتو او جګړه‌یزو چارو سره ژوره لېوالتیا لرله. د کورنۍ جګړو په دوران کې، چې شاوخوا پنځه کاله‌یې دوام وکړ، ایوب خان له خپلې مور سره په کابل کې اوسېده. هغه تل له دې وېرېده چې وبه نیول شي او زندان ته به واچول شي. کله چې امیر شیرعلي خان په ۱۸٦۸م کال کې دویم ځل د امارت واک ترلاسه کړ او بریالی کابل ته راوګرځېد، نو د مودو هیر کړل شوی کوچنی ایوب خان یې راپورته کړ او په یوولس کلنی کې د جلال اباد والي تعیین کړی. لنډه موده وروسته، کله چې امیر شیرعلي خپل تر ټولو ګران زوی عبدالله جان خپل ځای‌ناستی وټاکه، د هغه بل زوی یعقوب خان، چې مشر هم و، له پلار سره اړیکې خرابې شوې. دا وضعیت پر ایوب خان هم اغېز وکړ، ځکه چې هغه د یعقوب خان سکه ورور و، که څه هم دی د شخړې مستقیم اړخ نه و. له همدې امله له خپلې دندې لیرې او کابل ته راوغوښتل شو. یوه ورځ چې ایوب خان پر یوه ترکمني اس سپور و، پلار یې ولیده او ویې ویل: «وګوره! لکه چوغکه چې پر جګ دېوال ناسته وي؛ دا د زده کړې وخت دی، خو دی یې په بې‌ځایه چارو تېروي دا خبره ایوب ته ډېره خفه کوونکې وه. دا امکان شته چې د امیر دغه توند غبرګون د یعقوب خان د یاغي چلند له امله و، ځکه ایوب خان له پلار څخه د ګیلې یا نارضایتۍ ځای نه وو پرې ایښی.

ایوب خان د خپل ژوند په وروستیو کې له ژور خپګان او شدید ذهني فشار سره مخ و. ګڼ شمېر لاملونه موجود وو چې د ده د رواني حالت د بدلون سبب شوي وو. لومړی لامل یې افغانستان ته د بېرته ستنېدو او د خپل پلار د تخت د بیا ترلاسه کولو په برخه کې ناهیلي وه؛ دغه سیاسي ناکامي یې د ژوند پر روحي وضعیت ژور اغېز کړی و. ورپسې، د ده د شخصي ژوند پېچلتیاوې د دویم لامل په توګه یادېږي. ایوب خان ګڼ شمېر مېرمنې او زامن لرل، چې دا وضعیت یې د ورځني ژوند ستونزې ډېرې

کړې وې او پر ده يې رواني فشار زيات کړی و. دربيم لامل د اولادونو زياتوالی و، او دا چې ايوب خان نه‌شوای کولای د هغوی د اړتياوو مالي لګښتونه پوره کړي، نو دا اقتصادي تنګسه يې د رواني اضطراب يوه بله وجه وه. د ايوب خان زوی، افندي، په وينا چې د ۱۹۱۴م کال د اپرېل مياشتې په اوومه نېټه د سهار پر مهال، د ميوند فاتح په شين او خپه زړه، د زړه د حملې له امله له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې. (۱۵: ۳۸۵ مخ).

**د افغان او انګليس دوهمه جګړه:**

انګريزانو پر افغانستان باندې خپل دوهم يرغل په ۱۸۷۸ ميلادي کال کې ترسره کړ. افغان مجاهدينو د خپل دين، خاورې او ملي استقلال د دفاع په موخه له سختو مبارزو او درنو قربانيو وروسته بريا او کاميابي ترلاسه کړه.امير شيرعلي خان د انګريزانو له چلند څخه ژورې ګيلې لرلې. د هغه په باور، انګريزانو نه يوازې د کورنۍ جګړې پر مهال د ده ملاتړ ونه کړ، بلکې د ده د سيالانو، افضل خان او اعظم خان، ملاتړ يې وکړ. همداراز، د ۱۸۶۳م کال امارت يې چې د امير شيرعلي خان لومړۍ واکمني وه، په رسميت ونه پېژاند.سره له دې شکايتونو، امير شيرعلي خان وروسته له هغې چې په ۱۸۶۸م کال د مني په موسم کې بيا پر تخت کښېناست، هڅه وکړه چې له خپلو ګاونډيو( روسيې او انګليس) سره نږدې او دوستانه اړيکې وساتي. (۱۳: ۶۵۳ مخ)

امير شيرعلي خان په ۱۸۶۸ ميلادي کال کې د هند وايسرا، لارډ لارنس، ته له خپل برياليتوب او واک ته د بېرته رسېدو خبر ورکړ، او له انګريزانو سره يې د ښو او نيکو اړيکو د ټينګېدو هيله څرګنده کړه.په مقابل کې، لارډ لارنس هم امير ته د ده د سوبې په مناسبت د مبارکۍ پيغام واستاوه، او له هغه سره يې د متقابلو ښو هيلو څرګندونه وکړه. هغه په خپل ليک کې امير ته وليکل: "ستاسو ليک مې ترلاسه کړ، چې له مخې يې تاسو بېرته کابل ته راستانه شوي ياست او د خپلې هڅې او کوښښ په پايله کې مو بريا او سوبه ترلاسه کړې ده." (۳: ۳۰۵ مخ).

امير شيرعلي خان په ۱۸۶۹ ميلادي کال د مارچ په مياشت کې د هند امباله ښار ته سفر وکړ، څو د بريتانوي هند له ګورنر جنرال سره مستقيمې خبرې وکړي. د دې سفر موخه دا وه چې له انګريزانو سره د افغانستان د راتلونکي په اړه روښانه دريځ جوړ شي. امير له ګورنر جنرال څخه غوښتنه وکړه چې بريتانيا بايد د ده د اولادونو

پرته بل هېڅوک د افغانستان د مشروع حاکم په توګه په رسمیت ونه پېژني.په دې لېدنه کې، انګریزانو له امیر سره د یوې اندازې وسلې او مالي مرستې ژمنه وکړه. له خبرو اترو وروسته، امیر بېرته افغانستان ته راستون شو، او د ۱۸۶۹م تر ۱۸۷۳م پورې د انګریزانو او امیر ترمنځ اړیکې نږدې او دوستانه پاتې شوې.په همدې موده کې، په اروپا کې د روسیې او بریتانیا ترمنځ د سیالۍ په ترځ کې دواړه قوتونه دې پایلې ته ورسېدل چې افغانستان باید د روسي نفوذ څخه بېبرخې سیمه وي. خو له دې سره سره، امیر شیرعلي خان د منځنۍ آسیا په لور د روسانو مخ پر وړاندې تګ سخت اندېښمن کړی و.د دغه تشویش څرګندونه د افغانستان صدراعظم، نورمحمدشاه، په ۱۸۷۳م کال کې د هند په شمله ښار کې د بریتانوي وایسرا پر وړاندې وکړه، چې افغانان د روسیې له پراخېدونکي نفوذ څخه په جدي توګه وېره لري. نوموړي غوښتنه وکړه چې د بریتانوي حکومت له خوا دې افغان ولس ته د امنیت او استقلال تضمین ورکړل شي.خو د بریتانوي هند حکومت نه یوازې دا تضمین ورنه کړ، بلکې د امیر غوښتنې ته یې د بېپامۍ چلند وکړ، چې له امله یې امیر شیرعلي خان مایوسه او ناراضه شو.د امیر او انګریزي اداري ترمنځ د اړیکو د لا خرابېدو بل مهم لامل، د ګورنر جنرال هغه بېمورد او غیرمسؤلانه توصیه وه، چې امیر یې پر خپل زوی، یعقوب خان، شکمن کړ. امیر د دغې سپارښتنې له امله خپل زوی زندان ته واچاو، چې دا چاره د امیر پر کورني ثبات سربېره، د انګریزانو پر وړاندې د هغه د اعتماد د ماتېدو یو بل فکتور هم و. (۱۲: ۱۲۱۸ مخ).

د سیستان په مسله کې انګریزانو د فارس په ګټه پرېکړه وکړه چې دا اقدام د امیر شیرعلي خان لپاره د سختې ناخوښۍ او نارضایتۍ سبب شو. د دې وضعیت د جبران لپاره انګریزانو امیر شیرعلي خان ته پنځلس زره ټوپک او لس لکه روپۍ ورکړې، خو امیر د دې مالي مرستې اخیستلو څخه انکار وکړ او خپلې نارضایتۍ ته یې دوام ورکړ؛ سره له دې، هغه ټوپکونه ومنل د سیستان په قضیه کې د انګریزانو غیر منصفانه دریځ امیرشیرعلي خان زیات خوابدی کړی . (۱۴: ۱۶۹- ۱۷۰ مخونه).

لارډ نارتبروک د امیر شیرعلي خان د خفګان د کمولو په هدف، په ۱۸۷۳ میلادي کال کې هغه ته بلنه ورکړه چې د هند د شملي ښار ته سفر وکړي. نوموړي له امیره وغوښتل چې په کابل کې د انګریزانو یوه نماینده ته اجازه ورکړي ترڅو د

افغانستان له حکومتي ادارو سره اړیکې ولري. خو امیر شیرعلي خان د هند دغه سفر و نه مانه. په همدې کال کې، د امیر د صدراعظم سید نورمحمدشاه په استازیتوب د هند شملې ته سفر وکړ. وایسرای نارت‌بروک او د هغه د بهرنیو چارو وزیر، برالاسید، په دې سفر کې نورمحمدشاه ته وویل چې امیر شیرعلي خان باید پرته له انګریزانو له بل هر چا سره اړیکې ونه لري. همدارنګه، له هغه څخه یې وغوښتل چې انګریزي هیئت ته زمینه برابره کړي څو د افغانستان سرحدونه وڅېړي، او په بلخ، کندهار او هرات کې د انګریزانو سیاسي او نظامي استازي په دایمي توګه ومنل شي. (۱۱: ۱۳۴۰ مخ).

په ۱۸۷۵ میلادي کال کې، د انګلستان محافظه‌کار ګوند صدراعظم لارد سالسبري د هند وایسرا لارډ نارت‌بروک ته د "فارورډ پالیسي" پروګرام ورکړ، چې له مخې یې غوښتل د افغانستان پر لور د بریتانیا نفوذ پراخ شي. لارډ نارت‌بروک له دې سیاست سره مخالفت وکړ، ځکه چې هغه د افغانستان پر ضد د پرمختګ پالیسی ته د احتیاط له نظره کتل. له همدې امله نوموړي له خپلې دندې استعفا ورکړه او پر ځای یې لارډ لیټن د نوي وایسرا په توګه وټاکل شو. لارډ لیټن هڅه وکړه چې د خپلو سیاسي او نظامي استازو د قبلېدو په هدف، پر امیر شیرعلي خان زیات فشار راولي. په پایله کې، امیر مجبوره شو چې د خپل صدراعظم، سید نورمحمدشاه، په مشری یو سیاسي هیئت پېښور ته ولېږي څو له انګریزي چارواکو سره د اړوندو موضوعاتو په اړه خبرې اترې وکړي. یاد هیئت په پېښور کې د انګلیسي استازي، سر لیویس پیلي، سره د ۱۸۷۷ کال د جنوری په ۳۰مه نېټه خبرې پیل کړې چې دا خبرې تر مارچ ۱۹مې نېټې پورې دوام وکړ. (۳: ۳۰۷ -۳۰۸-۳۰۹ مخونه).

د هند د نوي وایسرا، لارډ لیټن، له خوا یو لړ سیاسي وړاندیزونه امیر شیرعلي خان ته وړاندې شول. په دغو وړاندیزونو کې غوښتنه شوې وه چې افغانستان به له روسیې سره د انګریزانو د سلا مشورې پرته هیڅ ډول اړیکې نه ټینګوي، همداراز به د کابل او هرات ښارونو کې انګریز الاصله سیاسي استازو ته د دایمي حضور زمینه برابروي. لیټن دا هم څرګنده کړې وه چې که امیر شیرعلي خان د یادو شرایطو منلو ته چمتو وي، نو باید خپل رسمي استازی پېښور ته د خبرو اترو لپاره واستوي؛ خو که د منلو اراده ونه لري، نو بیا د استازي استولو اړتیا نشته. امیر شیرعلي خان، چې تل یې د

باعزته او متقابل احترام پر بنسټ د انګلیس-افغان دوستانه اړیکو هیله درلوده، د همدې هدف لپاره یې خپل صدراعظم، سید نورمحمدشاه، د ۱۸۷۷م کال د جنورۍ په میاشت کې پیښور ته واستاوه. سید نورمحمدشاه هلته د وایسرا له استازي، سر لیویس پیلي، سره خبرې پیل کړې. په دې ناستو کې، پیلي د وایسرا پخواني وړاندیزونه بیا مطرح کړل، خو سید نورمحمدشاه هغه وړاندیزونه د منطق او سیاسي دلیلونو پر بنسټ رد کړل. د خبرو په جریان کې، صدراعظم نورمحمدشاه ناڅاپه ناروغ شو او د ۱۸۷۷م کال د مارچ په ۲۶مه وفات شو. له دې سره افغانستان یو ریښتینی، مدبر او پر سیاسي چارو ژور پوه سیاستوال له لاسه ورکړ. له دې وروسته، امیر د خبرو د دوام په نیت مستوفي حبیب‌الله خان د نوي استازي په توګه پیښور ته واستاوه، خو دغه استازی لا افغان-انګلیسي سرحد ته نه و رسیدلی، چې انګریزانو د مذاکراتو د ختمېدو اعلان وکړ. د دې پېښو په تعقیب، حالات ورو ورو د افغانستان او بریتانوي هند ترمنځ د دوهم جنګ پر لور روان شول. له امیر شیرعلي خان تر وفات وروسته، د هغه ناروغ زوی، امیر یعقوب خان، واک ته ورسید او د فشارونو له امله یې د ګندمک نومې تړون لاسلیک کړ. (۹ : ۱۲۸ مخ).

**د روسي سفیر راتګ**:د روسانو او انګریزانو ترمنځ سیالۍ دواړه ستر ځواکونه دې ته اړ ایستي وو چې په ختیځ کې د خپل قوت ثرګندونه وکړي. په همدې لړ کې، انګریزانو د هند په شمال لوېدیځ کې د نظامي حضور د زیاتوالي لپاره تدابیر ونیول، څو پر امیر شیرعلي خان فشار راوړي او خپلې غوښتنې پرې ومني. روسانو هم هممهاله ورته ستراتیژي غوره کړه. د انګریزانو د اندېښنو له امله، روسانو په تاشکند کې ۱۲ زره کسیزه قوه ځای پر ځای کړه، چې ویل کېدل دا به د عبدالرحمن خان تر مشرۍ لاندې پر هند یرغل وکړي. روسانو د همدې سیاست د دوام په موخه یو استازی د امیر شیرعلي خان دربار ته واستاوه، څو امیر له انګریزانو سره اړیکې پرې کړي؛ خو دا اقدامات تر ډېره نمایشي بڼه درلوده. په ۱۸۷۸ ز کال کې روسانو دوه مسلمان استازي د امیر شیرعلي خان دربار ته د ملګرتیا او دوستانه اړیکو د ټینګېدو لپاره ولېږل. سره له دې چې د امیر شیرعلي خان اړیکې له انګلیسانو سره ښې نه وې، خو نوموړي روسي استازي رد کړل. د جولای پر ۲۲ مه د روسانو استازی ستولیتوف کابل ته ورسېد او مذاکرات یې پیل کړل، حال دا چې نهه ورځې وړاندې،

د جولای پر ۱۳مه، د روسانو او ترکانو ترمنځ د برلين د سولې تړون لاسليک شوی و او روسانو ته نور د سياسي او نظامي تحرک اړتيا نه پاتې کېده.( ۱۵ : ۲۸۷ مخ).

ستوليتوف، چې د برلين د تړون له جزئياتو ناخبره و، لا هم د امير شيرعلي خان په دربار کې بوخت و. روسانو د امير سره د اړيکو د ټينګښت اصلي هدف دا درلود چې پر انګريزانو په اروپا کې فشار وارد کړي او هلته د سياسي امتيازاتو لاسته راوړلو هڅه وکړي. هممهاله دا شايعات هم خپاره شوي وو چې ګواکې امير عبدالرحمن خان، چې هغه مهال په بخارا کې و، د روسانو په ملاتړ د زرګونه پوځيانو په ملتيا د افغانستان له لارې پر هند د يرغل نيت لري. په همدې حال کې، چې د امير شيرعلي خان او ستوليتوف ترمنځ مذاکرات روان وو، د روسي حکومت له خوا ستوليتوف د برلين د تړون د لاسليک خبر کړ او بېرته روسيې ته وبلل شو. سره له دې چې انګريزانو د امير او روسانو د اړيکو په باب ښه درک درلود او پوهېدل چې دا تماسونه د دښمنۍ په معنا نه دي، خو بيا هم انګريزانو امير تورن کړ چې له روسانو سره يې ايتلاف کړی دی. په همدې بنسټ، د ۱۸۷۸ ز کال د نومبر پر ۱۰مه، انګريزانو امير ته يو اولټيماټوم(ضرب العجل) ولېږه. په دې کې غوښتنه شوې وه چې روسي استازی بايد ژر تر ژره له کابل څخه ووځي، انګريز استازی دې په کابل کې ومنل شي، او د افغانستان بهرنۍ تګلاره دې د بريتانيا تر کنټرول لاندې شي. د دې ژمنو په بدل کې، انګريزان به له افغانانو سره د روسانو پر ضد مرستې وکړي، هر کال به يو ميليون او دوه سوه زره هندۍ روپۍ امير ته ورکړي، او هغه څوک چې امير يې د وليعهد په توګه وټاکي، انګريزان به يې په رسميت وپېژني. ( ۴: ۱۳۰- ۱۳۱- ۱۳٦ مخونه).

امير، سره له دې چې پیاوړې پنځوس زره کسيز پوځ يې درلود، د مقاومت نه کولو امر وکړ او خپله مزار ته ولاړ، څو د روسانو له خوا ورکړل شوې ژمنې وازمويي. له دې مخکې يې خپل زوی يعقوب خان، چې له اته کلن بند وروسته ازاد شوی و، د کابل والي وټاکه. ځينې ناخوالې، لکه د وليعهد عبدالله جان مړينه، د انګريزانو يرغل، د روسانو د مرستې نه وړاندې کول، او د امير د نقرس ناروغي، هغه د مرګ بسترې ته ورساوه. امير د ۱۸۷۹ ز کال د فبرورۍ پر اوومه په مزار کې وفات شو، چې له امله يې د قدرت خلا رامنځته شوه. د هند وايسرا ته درې لارې مخې ته وې: افغانستان دې مستقيم د بريتانيا تر ولکې لاندې راشي؛ يا دې يو خپلواک، خو دوست هېواد

پاتې شي؛ یا دې تجزیه شي. انګریزانو د دربیمې لارې ملاتړ وکړ: کابل دې جلا حکومت وي، کندهار جلا او هرات دې د فارس تر نفوذ لاندې پاتې شي (۷: ۲٦۷-۲۷۰- ۲۷۱ مخونه).

کله چې د ۱۸۷۸ ز کال د نومبر پر ۲۱ مه د بریتانیا له خوا پر افغانستان یرغل اعلان شو، انګریزانو له دریو لارو برید پیل کړ. سر سمویل براون له خیبر، رابرتس له کرم درې له لارې پیوار کنډو لاندې کړ او جنرال سټیوارټ له بولان درې د کندهار پر لور حرکت وکړ. د ۱۸۷۹ ز کال د مې پر ۲٦ مه، انګریزانو له امیر یعقوب خان سره د ګندمک تړون لاسلیک کړ. د تړون له مخې، امیر ژمن شو چې ټول بهرني روابط به د انګریزانو په مشوره تنظیموي، د بریتانیا استازی به په کابل کې منل کېږي، او د هرات او سرحدي سیمو لپاره به انګریزي اجنټان ټاکل کېږي. همداراز، د پشین، سبې، کرم، او خیبر درې به د بریتانیا تر کنټرول لاندې راځي، که څه هم نوموړې سیمې به د افغانستان رسمي برخه وي. انګریزان به د افغانستان د هر ډول بهرني یرغل پر مهال له امیر سره مرسته کوي. یعقوب خان، د تړون له لاسلیک وروسته، د انګریزانو تر نفوذ لاندې واکمن شو. کله چې د تړون مواد افشا شول، ولس راپاڅېد، د انګریز سفارت یې له منځه یووړ او یعقوب خان اړ شو له واکه لاس پر سر شي. په ۱۸۷۹ ز کال د اګست میاشت کې د کابل پاڅون وشو، او د سپټمبر پر ۳مه د بریتانوي استازي (کیوناري) او د هغه د پلاوي تر وژل کېدو وروسته، وایسرا لیټن سخت غوسه شو. نوموړي د نومبر پر ۱۱مه د هند وزیر کرین بروک ته ولیکل چې نور په افغانستان کې د یوه متحد دولت موجودیت ممکن نه دی، او راتلونکي ټول اقدامات باید د افغانستان د تجزیې پر بنسټ تر سره شي. کرین بروک د لیټن له دې نظر سره موافق و، او د افغانستان د تجزیې طرحه یې تایید کړه. همدا مهال، په کابل او غزني کې د انګریزانو پر ضد پراخ ولسي پاڅونونه پیل شول. (۷: ۲۵- ۲٦-۲۸ مخونه).

**د میوند جګړه:** ایوب خان، چې د خپل پلار شیرعلي خان د مړینې وروسته له ایران څخه راستون شوی و، د هرات د والي په توګه خپلې چارې پرمخ بیولې. هغه د ګندمک د تړون د لاسلیک د خبر وروسته، په کابل کې د بریتانوي استازو د یومخیزې وژنې خبر واورېد. ایوب خان چې له مخکې له مخکې د کابل سقوط او د خپل ورور یعقوب خان د جلاوطنۍ له امله زړه ماتی شوی و، دوه لارې یې مخې ته ولیدې:

لومړی، دا چې د خپل پلار په شان د انګریزانو پر وړاندې وسله واله مبارزه وکړي او د ملي اتل په توګه خپل نوم تاریخ کې ثبت کړي؛ او دویمه، د خپل ورور په څېر له انګریزانو سره جوړجاړی وکړي او د هغوی هغه شرطونه ومني چې د ګوډاګی په توګه به یې وساتي. که څه هم د دربار ځینو انګریز پلوي کسانو دویمه لار غوره کول غوښتل، خو ایوب خان لومړی لار غوره کړه او د یرغلګرو پر وړاندې یې د جهاد اعلان وکړ (۷: ۳۴ مخ).

هغه هڅه وکړه چې د کندهار او که ممکن وي کابل ته ځان ورسوي څو د انګریزانو له نیول شویو ښارونو پوځونه ووځي. د هېواد له ګوټ ګوټه یې د انګریزانو پر ضد خلک راټول کړل او منسجم کړل. دوی کوښښ کاوه په موقع ګټه واخلي او انګریزي پوځ مات کړي. کله چې هغوی پوه شول چې یواځې په یوه سر دا کار ناشونی دی، نو د هرات لور ته حرکت وکړ. هلته یې د ایوب خان هرکلی وشو ځکه هغه له انګریزانو سره د هر ډول خبرو رد کړی و. خو د ځینو ستونزو، چې غالباً بهرني دسیسې وې، له امله ایوب خان و نه توانېد څو زر خپلې طرحې عملي کړي. یوه لویه ستونزه د خلکو ترمنځ د یووالي نشتوالی و، هر قوم او مشر جلا جلا موخې لرلې او یو پر بل بدګمان و. د کابلیو او هراتي ډلو ترمنځ شخړې هم ستر خنډونه جوړ کړل. په کابل کې د بریتانوي پلاوې د وژنې له دویمې ورځې وروسته په هرات کې ځینې پېښې رامنځته شوې چې ایوب خان مجبور کړ خپل پلان وځنډوي. جنرال فقیرمحمد خان چې د حسین علي خان پر ځای د سپه سالار په توګه ټاکل شوی و، د ایوب خان د امنیت په ټینګولو او سمون راوستلو کې مرسته کوله، خو ناڅاپي مخالفت ورسره وشو. په همدې ګرکیچن حالت کې ایوب خان د کابل په بالاحصار کې د کیوناري او دهغه د ملګرو د مړینې خبر واورېد، او سمدلاسه پوه شو چې بریتانوي پوځیان یو ځل بیا پر کابل یرغل کوي. په ټول هېواد کې یې د جهاد اعلان وکړ چې یوه ملي وجیبه وه. ایوب خان ځنډ ونه کړ، دوه کنډکه هراتي عسکر یې د خپل ورور یعقوب خان په ګټه کابل ته ولیږل. پلان یې درلود چې لومړی لویدیځ افغانستان له انګریزانو خلاص کړي او بیا ځان غزني ته ورسوي څو د ملامشک عالم او نورو مجاهدینو سره یو ځای شي او کابل ته مخه کړي. ( ۲: ۲۷ مخ).

شیرعلي خان مړ و، یعقوب خان جلاوطنه شوی و، او ایوب خان د انګریزانو سره د اسلام او وطن د ساتنې لپاره دښمني پیل کړې وه. له بلې خوا، له هري خوا هېواد په ګډوډ حالت کې و. په همدې وخت کې خبر خپور شو چې د افضل خان زوی، عبدالرحمن خان، چې تر دې مهاله په سمرقند کې جلاوطنه و او د روسانو تنخوا خوړونکی و، د خالي ولاړ تخت لپاره له لیرو څخه کابل ته راستون شوی دی. ایوب خان چې د اکثرو افغانانو ملاتړ یې درلود، په هرات کې د خپلو طرحو د عملي کولو لپاره هڅې پیل کړې څو په ټول افغانستان کې د انګریزانو پر ضد پاڅون راوباسي .د ۱۸۸۰ کال د جون په ۹مه، ایوب خان د څلورو زرو منظم پیاده، زر سپاره او دیرش توپونو سره له هراته د کندهار پر لور روان شو. ورسره درې زره غیر منظم عسکر هم وو. د افغانستان ټوله توپخانه ورسره وه. ایوب خان خپل پوځ ته داسې وینا وکړه: «د رینښتینې ایمان لرونکو سرتیرو، موږ هوډ کړی چې خپل ستر دښمن فرنګي بیرته له خپلو ښارونو وباسو. که خدای وکړي، له خپلې سپیڅلې خاورې به یې وباسو. موږ د خپل ټاټوبي، هیواد او سپیڅلي دین لپاره جنګیږو. راځئ چې شپه او ورځ یوه کړو او پر غلیم ور ودانګو؛ یا به مرو یا به بریالي کیږو.انګریزانو پلان درلود چې د ایوب خان پر وړاندې والي شیرعلي خان وکاروي. لارډ رابرټس د کابل نیولو او یعقوب خان جلاوطنۍ وروسته د پالیسۍ په بریالیتوب خوشحاله و او لارډ لیتن پلان جوړ کړ چې افغانستان دې د بریتانوي هند برخه شي. د انګریزانو پلان و چې افغانستان په کوچنیو واحدونو ووېشي او هرات او سیستان موقتي ایران ته ورکړي، شیرعلي خان دې د کندهار والي پاتې شي، او ایوب خان دې مات شي. انګریزانو شیرعلي خان ته په کندهار کې وسلې او امکانات ورکړیدي ترڅو د ایوب خان مخنیوی وکړي، ایوب خان چه د دښمن له کم ځواکیه خبر سو نو په عاجله سره مخ پر وړاندي راغی، والي د خپل پوځ د شورش له راپورته کیدو په ویره کې و پریکړه یي وکړه چه د هلمند دسیند پر راسته غاړه سنګر ونسي ( ۱: ۱۱۰ مخ).

د ۱۸۸۰ کال د جولای په څلورمه پریکړه وشوه چې ټول ځواکونه له کندهاره والي شیرعلي ته ولېږدول شي. د برید جنرال باروز تر مشرۍ لاندې ټول ځواکونه د هلمند پر لور وخوځېدل. د جولای په پنځمه خبر راغی چې ایوب خان لا له وړاندې فراه ته رسېدلی و. د هلمند پر غاړه والي په خپل سنګر کې ناست و، خو ناڅاپي د والي

ځواک یاغی شو او له ایوب خان سره یو ځای شو. والي د لښ شمېر سپرو سره پاتې شو. لږ وروسته باروز ته خبر ورسېد چې ایوب خان د هلمند په سنگر کې دی او غواړي سنگبور ته ورسېږي، چې د انگریزانو له مرکز څخه شاوخوا ۱۲ کیلومتره لېرې دی. جنرال پرامرز وویل چې داسې ښکاري ایوب خان پر انگریزي مورچلو برید نه کوي، بلکې غواړي دوی تیر کړي او هغه سړک ته ورسېږي چې د غلجیو تر کلات او غزنې پورې ځي. له اسنادو ښکاري چې ایوب خان غوښتل د انگریزانو سره یو راز جوړجاړی وکړي، خو سنټ جان د میوند جگړې ته بنه ورکړه. جنرال باروز ته دوه لارې پاتې وې: یا دښمن ته لار ورکړي چې غلجیو ته ورسېږي، چې دا به شرم وي، یا په میدان کې ورسره جگړه وکړي. وروسته یې جگړه غوره کړه. جنرال باروز په میوند کې سنگر ونیوه او د افغان پوځ پرمختگ یې بند کړ. دې کار ایوب خان ته دوه لارې پرېښودې، یا به ایوب خان د انگریزانو سره سازش کوي، یا مخامخ جگړه وکړي. لومړی لار ممکنه نه وه، ځکه ایوب خان او پوځ یې په یوه پراخه ډاگ کې و او بې له یوې وچې تنگې چې دې ده او د دښمن ترمنځ پروت وو بل طبیعي ملاتړ یې نه درلود. نو مخامخ جگړه یې پیل کړه چې انگریزانو ته یې سخت زیان واړاوه، خو د ایوب خان اصلي پلانونه گډوډ شول. د ( ۱۸۸۰ م) د جولای پر ۲۷مه د سهار لس بجي وي یوه مجاهد ایوب خان ته د برتانویانو له خوا د کاریزونو د نیولو خبر راوړ چه دا یو مهمه خبره وه ځکه دا کاریزونه په هغه وچه دښته کي چه د دوبي سوځوونکي گرمي وه  د اوبو یوازنۍ سرچینې وي ، له دي امله ایوب خان لوړې اردلي لیوا ته امر وکړ چه کاریزونه بیرته ونیسي، په همدې اړودود  د بریتانوي ټوپکو ټکان پیل سوه چه افغانان یي ځیر کړه او یوه گولی د ایوب خان د پاسه تیره سوه، په همدي وخت کي مجاهدینو د چهاریار په نارو سره پردښمن باندي یرغل ور وړ او دښمن یي د گولیو تر باران لاندي راوست، د افغانانو خولپوري وسلي د بریتانویانو د مارټني او هینري او سایډر ټوپکو د سیالۍ نه وي، یوه ارمسترانگ توپ په یوازي سرد دښمنانو جواب وایه. ( ۷: ۴۰- ۴۱ مخونه).

د څلورو زره هراتي غیر منظم سپرو په سرکي د لویناب په پرشاتگ سره حالت خراب سو، د یو څه مودي لپاره  بریتانویانو د فعاله وسلو پرمټ بریا وساتله خو افغاني افسرانو د خپلو سړیو په ملتیا له پرانیستو تورو او نیغو برچو سره پر دښمن ور ودانگل افغانان وړاندی ولاړل او په دي توگه یي د جگړي یوښه نظم هم خپل کړ، انگریزي

خوا وې د افغاني پليو او سپرو لخوا په بشپړ ډول چاپيره سوي، افغاني آس سپرو د بريتانوي پليو چاپير کمربند ټينګ کړ او پراخ خولو ټوپکو يې د بريتانوي ليکو لوری په نښه کړي، وژونکو ډزو سمدلاسه ډګر په مړو او مرګي حالو ډګ کړ. افغان منظم ځواک د جنرال تاج محمدخان تر قوماندی لاندي يوه ستر بريد ته چتموو ، په ښه نظم سره وړاندي ولاړل، د را روان لوی ځواک د مخنيوي له پاره جنرال نوټل خپل ټوپکونه را وړاندي کړل او ټکان يې پيل کړه، دي کار په افغاني اړخ کي زياته مرګ ژوبله رامنځه ته کړه خو د غازيانو په وړاندي تلونکي ځپي د ټنګيدلو نه وي، دا مهال افغاني توپخانه هم چوپه نه وه ، کله چه بريتانوي ټکانو په وړاندي د ۳۰ ډزي ټوپکو پورته سوي مځکه يي بر دښمن ولړزاول، د ايوب خان توپخانه ښه سمبال وه اود شپږو ارمسترانګ توپونو په مټ يې د دښمن ډير توپکان خاموشه کړل، افغاني توپخانه دونه په ځواک کي وه چه دښمن اړسو ځو خپله توپخانه له يوه ځايه بل ځای ته يوسي او پليو ته د پريوتو امر وسو ځکه له بشپړې تباهی څخه د خلاصون يوازنی لاره همدا وه. دري ساعت د افغاني ډزو تر اور لاندي تيرسول او د ګوليو باران هر لوري په نښه کړ، داچي د جنګ ميدان يوه پراخ او هوار دښته وه نو هيځ ډلي ته پکښي د پټيدو ځای نه و، ځکه نو افغاني ټوپکو بريتانويان په ډيرښه ډول په نښه کولای شوای د انګريزانو غره توب او پرځان باندي باور تر سخت ازمايښت لاندي راغی. د ماسپښين پر دوه بجي يوه افغاني ډلګۍ پر ښی خزه ځان سمبال کړ او بريتانوي ليکي يي له شا او وړاندي څخه په نښه کړي، اوس نو ټول افغان ځواک ښه منظم او تيارسی و. د دوی ډزو اور ارام کړ او سپرو او پليو پر دښمن ورودانګل غازيانو د منظم ځواک په ملاتړ د بريتانوي ټوپکوالو نيول او ورڅخه ټوپک اخيستل پيل کړه. د جيکب ټوپکو سمبالونکي چه په کيڼ اړخ کي وه او تر ټولو زيات مرګ ژوبله ور اوښتي وه، لومړنی ډله وه چه د بي وشی څرګندونه يی وکړه او ليکي يي پر ماتيدو سوي، ٦٦ مي ښي ډلګی د خبګ پر لور او کيڼي يي د محمداباد کلي پرلوري و تښتېدل، باروز سپاره ځواک ته د بريد امر ورکړخو هغوی راپرشا سول. د ځواک ستره ټولکی چه خپله د جنرال په لاس کي وه، د خپلو بار ځارويو سره يوځای په تېښته شو، پس قراول چه شاه کي وه د تورن اوليور ترقوماندې لاندی ګمارل سوي و، د داسي ويرې او چيغوپه حال کي و چه بيانول يي ګران دي. د جنګ په ميدان کي د انسانانوچيغي د اوښانو

رمباړي او تر ټولو اوچت د غازيانو ناري تر غوږو كيدلي، د نظم راوستلو هيڅ لاره نه وه او اسكيرلو ټپيانو ابدي خوب ته پناه وړل. ( ۱۰: ۲۷۳ مخ).

افغاني ډلو د تښتيدونكو تعقيب ته ادامه وركړه او پر هر يوه چي به يي لاس بركيده لاس به يي ورپري كاوه، د نږدي كليو خلگ هم راووتل اوڅه چي يې په وسه وه هغه يي لوټ كړه، د شاهي آسي ځواک دوهم بريدمن هيكټرمک يوازنی كس و چې بندي ونيول شو. كرنل سنټ جان او والی شيرعلی مخكي له دي چه پرانگريزانو باندې محشر جوړشي له ډگره تښتيدلي و، د بريتانويانود تيښتې لاره په خلكو او سرتيرو تړل شوې و، د توپونو د ژغورنې ناكامه هڅي وشوې چي افغاني لاسونو ته يي له لويدلو وساتي خو اخر د افغاني لوري په ويناه ۲۴ توپكان په لاس ورغلل، بريتانويانو يوازي د ۲ توپونوخبره ومنل.

د ميوند جگړي داستان به د بريتانويانو پوځ د پليود ٦٦ مي ټولگی له يادولو پرته چې تر اخرې سلگۍ پوري وجنگيدل بشپړنه وي، نوموړو عسكرو خپل ځانونه د خپل بيرغ د لوړ ساتلو له پاره قربان كړل، په خپلو ملگرو او دښمنانو كي تل پاتي نوم پريښود. د سرتيرو، وسلو او سامانونو اوښتي زيانونه لوی و، نژدې هرڅه چې له بريتانويانو سره وه د افغانانو لاسو ته ولويدل او هغه سرتيري او د كمپ ساتونكي چې كندهار ته ورسيدل په ناوړه حالت كي وه، كله چه دا خبر كندهار ته ورسيده نو خلگ په ويره كي سول او ټول په ځغاسته له ښاره ووتل ان په انگلستان كي د دې لويې ماتي او شرم خبر ډير شديد و ځكه په لومړي تلگرام كي ويل سوي و چه د جنرال باروز ټوله ځواک له منځه تللی دی. (۷ : ٤٦ مخ).

**پايله:**

د څيړنې په پايله كې ويلای شو چې د ۱۸۰۱م كال څخه وروسته افغانستان د لويو قدرتونو د سياليو او كشمكشونو په مركز بدل شو. له يوې خوا انگليس او له بلې خوا روسانو خپل پرمختيايي او استعماري سياستونه په سيمه كې عملي كړل. د دې سياستونو په پايله كې انگريزانو په ۱۸۳۹م كال پر افغانستان لومړی يرغل وكړ او بيا په ۱۸۷۹م كال كې يې دويم يرغل ترسره كړ.

د افغان او انگليس په دويمې جگړې كې د هيواد په لويديځو او جنوب لويديځو سيمو كې د مجاهدينو تر ټولو مهم او تاثير لرونكی مشر، غازي ايوب خان و. نوموړی

له ماشومتوب څخه په سیاسي او نظامي ډګرونو کې ازمایل شوی سپاهي او شهزاده و، چې د ډېرو سختو شرایطو په منځ کې وتوانېد د ولس او مجاهدین یو موټی کړي. دا په داسې حال کې وه چې امیر شیرعلي خان وفات شوی و او یعقوب خان د انګریزانو لخوا له هیواد څخه ایستل شوی و.

د دې څېړنې موندنې ښکاره کوي، انګریزانو له وړاندې پلان جوړ کړی و تر څو افغانستان په څو برخو ووېشي، د هند ویسرا لارډ لیټن پلان درلود چې کندهار له افغانستان څخه جلا کړي، چې په دې پلان کې انګلیسان تر ډېره بریالي شول او کندهار د څه باندې دوه نیمو کلونو لپاره د افغانستان نه جلا و. خو د میوند تاریخي او مقدسې جګړې په برکت، کندهار بیرته له افغانستان سره یو ځای شو. په ۱۸۸۰م کال کې د لندن محافظه کاره حزب په زیان، لیبرالانو واک ترلاسه کړ چې له افغانستان څخه د انګریز پوځ د وتلو پرېکړه یې وکړه. د انګریز مورخینو په حواله، په میوند جګړه کې شاوخوا ۱۲٬۰۰۰ پوځیان برخه درلوده چې یو کنډک یې د انګریزانو او دوه کنډکونه د هندیانو څخه جوړ و. د مورخینو په اند، په جګړه کې ټول ۱۲۰۰۰ انګریز پوځیان وژل شوي، چې له دې ډلې ٦٦ نمبر کنډک پرته له یو تن څخه نور بشپړ تباه شوی و. دا جګړه د انګریزانو لپاره د دوی د تاریخ تر ټولو ستره ماتې وه او د ګلیډسټون د نوي لیبرال حکومت سیاستونه یې سخت اغېزمن کړل.

همدارنګه د دې څېړنې موندنې ښکاره کوي چې، لندن خپل سیاست د افغانستان په اړه بدل کړ او د امیر عبدالرحمن خان سره یې د روغې جوړې خبرې پیل کړې. انګریزانو پر دې موافقه وکړه چې یو غښتلی افغانستان دې جوړ شي، د کندهار د بیلتون مسئله په جدي توګه وڅېړل شي او هرات دې هم د افغانستان برخه وګرځول شي. د میوند ماتې انګریزانو ته درې لوی درسونه ورکړل: لومړی، ایوب خان ته د سخت غبرګون ورکول؛ دوهم، د امیر عبدالرحمن خان هڅول او مالي-پوځي مرستې ور کول؛ او دریيم، د کندهار واکمن شیرعلي خان تقاعد ته اړ کول. په۱۸۸۰ م کال کې امیر عبدالرحمن خان کابل ته داخل شو او واک یې تر لاسه کړ، په داسې حال کې چې انګریزي پوځیان له کابل وتلو ته چمتو کېدل. که چیرې غازي ایوب خان د میوند جګړې نه وروسته کندهار نیولای وای او مخ پر کابل یې پرمختګ کړی وای، نو هرو مرو به په افغانستان کې واک ته رسیدلی وای. امیر عبدالرحمن خان،

که څه هم د پاچاهۍ چانس نه درلود، خو د انګریزانو سره د پټو مذاکراتو په نتیجه کې وتوانېد چې د میوند فاتح غازي ایوب خان له سیاسي ډګر څخه لرې کړي او د خپلې ګټې لپاره میدان وچلوي.

په ټوله کې، که غازي ایوب خان د دویمې افغان-انګریز جګړې په جریان کې د ملي مشر په حیث نه وای ودرېدلی، نو نننی کندهار او لویدیځ ولایتونه به د افغانستان برخه نه وای، ځکه انګریزانو د دې سیمو جلا کولو پلان درلود. خو د میوند د غازي اومیوندی شهیدانو قربانیو په نتیجه کې کندهار بیرته د افغانستان سره یو ځای شو.

په کورني ډګر کې ثابته شوه چې د افغانستان خلک هېڅکله د پردیو حضور او سلطې منلو ته چمتو نه دي. د میوند جګړه او د هغې جهادي حرکت په مرکز کې د غازي ایوب خان حضور د ازادۍ غوښتونکو او وطن‌پالونکو افغانانو تر منځ د هغه ملي شهرت لوړ کړ، خو د انګریزي سیاستوالو کرکه یې هم راپارولې وه. له همدې امله، انګریزانو له جګړې وروسته هڅه وکړه چې هغه کمزوری کړي او نورو افغاني سردارانو ته درس ورکړي. دا معلومه شوه چې، د میوند جګړه د افغان تاریخ یوه مهمه پیښه ده، چې د بریتانوي پوځ لپاره یوه ستره ماتې و. دا جګړه په هند کې د بریتانوي ځواک د شکست په توګه یادېږي او د انګریزانو د استعمار د ماتې یوه مهمه نښه ګڼل کېږي. د دې جګړې له پایلې وروسته، په استعماري هیوادونو کې د ازادۍ او استقلال فکر لا پراخ شو.

دا څرګنده ده چې د غازي ایوب خان په حق کې ډېره جفا شوې ده. د هغه په ژوند کولو باندې د هغه وخت حکومتونو بندیزونه لګولي وو ترڅو د نوموړي شهرت کم کړي. یوازې د محمد ظاهرشاه په دوره کې د هغه او پر کورنۍ یې بندیزونو پای ته ورسیدل او په کابل کې یې یوه مېنه او مکتب د هغه په نوم کړل. غازي ایوب خان یو ریښتینی مجاهد او ولس ته ژمن مشر و، چې هېڅکله یې د انګریزانو او استعمارګرو غوښتنې ونه منلې او د خپل ژوند تر وروستیو پورې یې د اسلام او هیواد د استقلال او ازادۍ لپاره مبارزه وکړه. نوموړی په ۱۹۱۴م کال کې د زړه د ناروغۍ له امله په پردیس کې ومړ او د پیښور په حبیب هدیر کې خاورو ته وسپارل شو، په ۲۰۲۰ کال کې مقبره د افغانستان د سفارت له لوري بیا ورغول شول.

**ماخذونه:**

١ - انصاري، فاروق. ( ١٣٩٩). مروری بر تاریخ معاصر افغانستان. کابل: انتشارات نشر نگار.

٢ - انصاري، فاروق. ( ١٣٨٩). د افغانستان سیاسي او ټولنیز بدلونونه. کابل: انتشارت امیري.

٣- پژواک، فضل ربي.( ١۴٠٠). ناسیونالیزم افغان درپنهای تاریخ. کابل: انتشارات پژواک.

۴ - حبیبي، عبدالحی. (١٣٨٢). تاریخ مختصر افغانستان. کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه.

۵- ځلمی، محمدولي. (١٣٧٩). کندهار. کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه.

٦- ځلمی، محمدولي. ( ١٣٦٨) . زموږ غازیان. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمی.

٧- صمد، نثاراحمد. ( ١٣٨٨). د میوند فاتح. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

٨- رهمند، عزیزاحمد. (١٣٩۵). تاریخ معاصر افغانستان. کابل: مطبعه کابل.

٩- روح زنده، جمیله. (١٣٨۴). گذر بر تاریخ افغانستان و ایران: تهران. انتشارات شهید فلاحي.

١٠- صمد، نثاراحمد. ( ١٣٧٨). افغانستان په شلمه پیړۍ کې. کولن: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه.

١١- عطایی، ابراهیم. (١٣٨٦). د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه. کابل: انتشارات سبا.

١٢- غبار، میرغلام محمد. ( ١٣٦۴). افغانستان درمسیر تاریخ. کابل: انتشارت بیهقي.

١٣- فرهنګ، صدیق. (١٣٨٣). افغانستان درپنج اخیر. قم: انتشارات رضایی.

١۴- هوتک، محمد معصوم. ( ١۴٠٠). سیدنورمحمد شاه فوشنجي. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

١۵- فرخ، سیدمهدي. (١٣٧١). تاریخ سیاسي افغانستان. قم: انتشارات احساني.

نامزد پوهنیار عطاالرحمن پویا

# بررسی تاسیسات معارف در دوره سلطنت محمد ظاهر شاه (۱۳۱۲-۱۳۵۲هـ.ش)

# A study of educational facilities during the reign of Mohammad Zahir shah (۱۹۳۳-۱۹۷۳)

***Nomine junior assistant. Professore Attaurrahman poya***

**Abstract:**
Education in the era of Mohammad Zahir Shah (۱۹۳۳-۱۹۷۳) was divided into four periods, in that time the governments was held by chancellors of Zahir Shah During this ۴۰-year period, sometimes this trend was weak and sometimes bold. In this period, education system was divided into two periods, which is the primary period and the secondary (higher) period. Attention was paid to the surroundings and villages, and rural schools were formed

Education organizations expanded, special attention was paid to the curriculum and contemporary sciences were included in the curriculum. These were a series of reforms that were carried out in the field of education during this period, and its role in awakening and pushing the society towards awakening cannot be ignored in any way.

**خلاصه**

تحقیق حاضر به مطالعهٔ روند شکل‌گیری، گسترش و اصلاحات نهادهای تعلیمی افغانستان در یکی از مهم‌ترین ادوار تاریخ معاصر کشور می‌پردازد. مسئلهٔ اصلی

